د مسلمان ساتنه

د قرآن او حدیثو په اذکارو سره

لیکنه

د/ سعید بن علي بن وهف القحطاني

ژباړنه

عبد النافع ژلال

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

د ژباړن* سریزه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على محمد الرسول الأمين، وعلى آله وصحبه أجمعين، وبعد:

پدي کي شک نشته چي د شرعي نصوصو (قرآني آيتونو او نبوي احاديثو) ژباړل د اهميت وړ خبره ده، ترڅو عام خلګ* چي له عربي ژبي سره آشنايي نلري، وکولای شي د قرآن او حديثو د الفاظو په معنی پوه شي، او په هغه کي نغښتي* مفاهيمو او احکامو باندي ځان خبر کړي. او لدې جملي نه د دعاګانو او اذکارو ژباړل* هم ارزښتناک کار دی، پدې چي دعاګاني او اذکار د مسلمان په معنوي ژوند کي يو ځانګړی ځای لري، چي د ژوند په مختلفو او

بدلیدونکو حالاتو کي الله ﷻ ته دبنده د توجه اړولو، تضرع* او عاجزي کولو، او د هغه د یادولو او ستایلو، او له هغه نه مرستي او مدد غوښتلو، او د هغه حکم او فیصلې او قضاء وقدر ته د تسلیمیدلو ښرګندونه* کوي. که څه هم د مسنونه دعاګانو او اذکارو ویل په عربي سره غوره خبره ده، خو د هغه په معناګانو او مفاهیمو باندي پوهیدل هم ضروري ګڼل کیږي، تر څو یې د لوستلو او ویلو په حالت کي لوستونکی له پوره اخلاص او د زړه له حضور نه، او په هغه کي د تدبر* او تفکر* کولو نه برخمن* وي.

ما په ژباړنه کي د لفظي او حرفي ژباړني لاره نده غوره کړې، بلکه د معنی او مفهوم په نظر کي نیولو سره مي د پښتو ژبي د قواعدو سره سم روانه ژباړنه کړیده، او دا ځکه چي حرفي او لفظي ژباړنه په دوه

لحاظه کمزوري وي، اول دا چي د عربي جملي مفهوم
په پوره توګه* نشي اِفاده* کولای، او بل دا چي پښتو
جمله د کلماتو د ارتباط او ترتیب په لحاظ کمزورې،
او ناتمامه وي، او لوستونکی ته د فهم وړ نه وي.

او کوم عبارتونه یا کلمي چي د معنی د بشپړ
تیا* لپاره مي اضافه کړیدي، هغه مي د دوو منحني
شکله قوسونو په مینځ کي راوړیدي، تر څو د اصلي
عبارت له ترجمې نه بېل تو پیر* وشي.

بل دا چي په پښتو کي د مختلفو لهجو او د
مرادفو کلماتو د شته والي په خاطر مي د نومړو کلماتو
تر څنګ د ستوري علامه (*) ایښې ده، او بیا مي د
کتاب په پای کي د نومړو کلماتو یو جدول یا لست
اضافه کړیدی، تر څو د ستوري لرونکي کلمې د
دوهمي معنی یا بلي لهجي د پیژندني لپاره ورته مراجعه

وشي، او پدې توګه به د مختلفو لهجو لوستونکي له کتاب نه په آسانۍ سره استفاده وکړای شي.

د احاديثو د ژباړلو لپاره مي د احاديثو شرح کونکي کتابونو ته مراجعه کړيده، او د خپل توان سره سم مي هغه معنی غوره کړيده، چي د لوستونکي فهم ته له ټولو نه نژدې وي، او د پښتو جملې سره زيات سمون لري.

هيله ده چي دا کتاب د مسلمان ورور د استفادي وړ وګرځي، او له دعا نه مي هير نکړي.

وصلی الله علی نبينا محمد، وعلی آله وصحبه وسلم.

عبد النافع زُلال

azolal@hotmail.com

رياض– ١٤٢٣/١/١٥هـ

د مصنف سريزه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستهديه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورســوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، وسلم تسليماً كثيراً، أما بعد:

دا يو مختصر (كتاب) دى چي ما له خپل بل كتاب «الذكرُ والدعاءُ والعلاجُ بالرُّقَى مِنَ الكتابِ والسُّنَّةِ» نه مختصر كړيدى، او په هغه كي مي د نومړي كتاب نه يواځي اذكار راوړيدي، تر څو په

سفر کي يې له ځان سره اخيستل آسانه وي.

او يواځې مې د ذکر او دعا متن راوړی، او د هغه د تخريج له مراجعو نه مې له اصلي کتاب نه يواځې يو يا دوه مراجع ذکر کړيدي، او څوک چې د نومړي ذکر او دعا راوي (صحابي) او د هغه تخريج پيژندل غواړي، نو اصلي کتاب ته دي مراجعه وکړي.

له الله ﷻ نه د هغه په نيکو نومونو، او لوړو صفتونو سره سوال کوم چې دا کتاب خالص د خپل رضا لپاره وګرځوي، او هغه ما ته، لوستونکي ته، چاپونکي ته، او هغه چا ته چې په خپرولو کي يې برخه اخيستي ده په دنيا او آخرت کي ګټور

وګرځوي، الله ﷻ د همدي کار مَل او په هغه باندي قادر دی.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وأصحابه، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

د/ سعيد بن علي بن وهف القحطاني

صفر/ ١٤٠٩هـ

د ذکر فضیلت

الله ﷻ فرمايي: ﴿فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُواْ لِي وَلاَ تَكْفُرُونِ﴾ [البقرة: ١٥٢]

۞ ما ياد کړی، زه به تاسو ياد کړم، او زما شکر پرځای کړی، او زما نا شکري مه کوی.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْراً كَثِيراً﴾ [الأحزاب: ٤١]

۞ اې مومنانو! الله په ډېرو يادولو سره ياد کړی.

﴿وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيراً وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً﴾ [الأحزاب: ٣٥]

۞ او د الله ذکر کونکو سړو او ذکر کونکو ښځو لپاره الله ﷻ بخښنه* او لوی ثواب

او اجر تيار كړی دی.

﴿وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالآصَالِ وَلاَ تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ﴾ [الأعراف: ٢٠٥]

۞ خپل رب په عاجزی او په ويره او په ټيټ آواز سره چي پورته نه وي، له خپل ځان سره سبا او بيګاه ياد كړه، او له غافلانو څخه مه كيږه.

پيغمبر ﷺ فرمايي: «مَثَلُ الَّذي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذي لاَ يَذْكُرُ رَبَّهُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ»[1].

---

(١) بخاري (فتح الباري ٢٠٨/١١)، او د مسلم ٥٣٩/١ لفظ دادی: «مثل البيت الذي يذكر الله فيه والبيت الذي لا يذكر الله فيه مثل الحي والميت»، ترجمه: هغه كور چي په هغه كي د الله

۞ هغه څوک چي د خپل رب* ذکر کوي، او هغه څوک چي نه يې کوي، مثال يې د ژوندي او مړی په شان دي.

او فرمايي: «أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ، وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ، وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ، وَخَيْرٍ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ؟» قَالُوا: بَلَى، قَالَ: «ذِكْرُ اللَّهِ تَعَالَى»[1].

۞ آيا تاسو خبر نکړم ستاسو د ښو اعمالو

= ذکر کيږي، او هغه کور چي د الله ذکر نه پکښي کيږي، مثال يې د ژوندي او مړي په شان دي.

(۱) ترمذي ۴۵۹/۵، ابن ماجه ۱۲۴۵/۲، صحيح ابن ماجه ۳۱٦/۲، صحيح الترمذي ۱۳۹/۳

نه، او له هغو اعمالو نه چي ستاسو د رب* په نزد
له ټولو نه پاک دي، او ستاسو دَرَجې* لوړَوي*،
او ستاسو لپاره د سرو زرو او سپينو زرو له
خيراتولو نه هم غوره* دي، او ستاسو لپاره لدې
نه هم غوره دي چي د دښمن سره مخامخ شی
او بيا يو د بل غاړي* ووهی؟ (صحابه وو) وويل:
هو (خبر مو کړه)، (پيغمبر ﷺ) وفرمايل: (هغه) د
الله ﷻ ذکر کول دي.

او همدا رنګه فرمايي: «يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: أَنَا
عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي، وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي، فَإِنْ
ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي
مَلإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ شِبْراً
تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعاً، وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعاً تَقَرَّبْتُ

إِلَيْهِ بَاعاً، وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً»[1]

۞ الله ﷻ فرمايي: زه د بنده د ګمان په وړاندې يم، او زه ورسره يم چې کله ما ياد کړي، نو که يې په خپل زړه کې ياد کړم، زه يې له ځان سره يادوم، او که يې په يوې ډلې کې ياد کړم، زه يې د هغې نه په غوره* ډله کې يادوم، او که ما ته د يوې لويشتې په اندازه رانژدې شي، زه به هغه ته د يو ګز په اندازه نژدې شم، او که ما ته د يو ګز په اندازه نژدې شي، زه به هغه ته د يوې وازې* په اندازه نژدې شم، او که ما ته په پښو* روان راشي، زه به ورته په منډه* ورشم.

---

(١) بخاري ١٧١/٨، مسلم ٢٠٦١/٤، او دا لفظ د بخاري دی.

وعَنْ عَبْد اللَّه بْنِ بُسْرٍ ﷺ أَنَّ رَجُلاَ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّه إِنَّ شَرَائِعَ الإِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ فَأَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ، قَالَ: لاَ يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْباً مِنْ ذِكْرِ اللَّه»[1].

۞ دعبد الله بن بُسر ﷺ نه روايت دى چې يوه سړي وويل: اى د الله رسوله! د اسلام احکام پر* ما زيات شول، نو ما ته داسي شى* وښايه چي هغه باندي ټينګ عمل وکړم، پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: چي ژبه دي بايد تل* د الله ﷻ په ذکر سره لمده* وي.

---

(١) ترمذي ٤٥٨/٥، ابن ماجه ١٢٤٦/٢، صحيح الترمذي ١٣٩/٣، صحيح ابن ماجه ٣١٧/٢.

او پيغمبر ﷺ همدا رنګه فرمايي: «مَنْ قَرَأَ حَرْفاً مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لاَ أَقُولُ ﴿الم﴾ حَرْفٌ، وَلَكِنْ: أَلِفٌ حَرْفٌ، وَلاَمٌ حَرْفٌ، وَمِيمٌ حَرْفٌ»[1].

۞ چا چي د الله جل جلاله له كتاب (قرآن) نه يو حرف ولوست*، نو هغه لره پدې كي يوه نيكي ده، او يوه نيكي لس چنده (ثواب*) لري، زه نه وايم چي ﴿الم﴾ يو حرف دى، بلكه الف (بيل*) حرف دى، او لام (بيل) حرف دى، او ميم (بيل) حرف دى.

---

(١) ترمذي ١٧٥/٥، صحيح الترمذي ٩/٣، صحيح الجامع الصغير ٣٤٠/٥.

وعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ ﷺ وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ، فَقَالَ: «أَيُّكُمْ يُحبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ أَوْ إِلَى الْعَقِيقِ فَيَأْتِيَ مِنْهُ بنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِي غَيْرِ إِثْمٍ وَلاَ قَطِيعَةِ رَحِمٍ؟» فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ نُحبُّ ذَلِكَ، قَالَ: «أَفَلاَ يَغْدُو أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَيَعْلَمَ أَوْ يَقْرَأَ آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ، وَثَلاَثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلاَثٍ، وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَرْبَعٍ، وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الإِبِلِ»(١).

۞ عقبه بن عامر ﷺ وايي: چي مونږ په صُفه* کي (ناست) وو چي پيغمبر ﷺ راووت، او

(١) مسلم ١/٥٥٣.

وبي فرمايل: له تاسو نه څوک دا غوره ګڼي چي هره ورځ «بُطحان*» يا «عقيق*» ته لاړ شي، او له هغه ځای نه دوه بوکونو* واله اوښان* راولي، چي نه بي په کي کومه ګناه کړي وي، او نه بي پکي خپلولي ختمه کړي وي؟ نو مونږ وويل: چي مونږ (ټول) دا خوښوو، (پيغمبر ﷺ) وفرمايل: که له تاسو نه يو څوک مسجد* ته لاړ شي او زده وکړي، او يا د قرآن دوه آيته ولولي، نو دا ورته له دوو اوښانو نه غوره* ده، او درې (آيته) له دريو (اوښانو) نه غوره دي، او څلور له څلورو نه، او همدارنګي (دآيتونو) د شمير په اندازه له اوښانو نه غوره دي.

او ﷺ فرمايي: «مَنْ قَعَدَ مَقْعَداً لَمْ يَذْكُرْ اللّٰهَ

فيه كَانَتْ عَلَيْه منْ اللّه ترَةٌ، وَمَنْ اضْطَجَعَ مَضْجَعاً لاَ يَذْكُرُ اللّهَ فِيه كَانَتْ عَلَيْه مِنْ اللّه ترَةٌ»[1].

۞ څوک چي په يو ځای کي کيناست او الله ﷻ بې پکي ياد نکړ، نو د الله ﷻ له طرف نه به پري کمښت او زيان پيښ شي، او چا چي په يو ځای کي ډډه ولګوله او الله ﷻ بې هلته ياد نکړ، نو دالله ﷻ له طرف نه به ده ته کموالی او نقصان راشي.

او ﷺ فرمايي: «مَا جَلَسَ قَوْمٌ مَجْلساً لَمْ يَذْكُرُوا اللّهَ فِيهِ وَلَمْ يُصَلُّوا عَلَى نَبِيِّهِمْ إلاّ كَانَ

(۱) ابو داود ۲٦۴/۴، او نورو هم روايت کړيدی، صحيح الجامع ۳۴۲/۵.

عَلَيْهِمْ تِرَةً، فَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ»[1].

۞ كوم قوم چي په يو ځای كي كيني، او الله ﷻ پكي ياد نكړي، او نه په پيغمبر ﷺ درود ووايي، نو دا به ددوی لپاره (دالله ﷻ له جانب نه) دنقصان سبب وي، كه وغواړي عذاب به وركړي، او كه غواړي بخښنه* به ورته وكړي.

او فرمايي: «مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لاَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ فِيهِ إِلاَّ قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ، وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً»[2].

۞ كوم قوم چي له يو داسي مجلس نه

---

(١) ترمذي، صحيح الترمذي ٣/١٤٠

(٢) ابو داود ٤/٢٦٤، احمد ٢/٣٨٩، صحيح الجامع ٥/١٧٦

پاځیده*، چې د الله ﷻ ذکر یې پکې نه وي
کړی، نو داسې به وي لکه چې د خره د
مرداري* نه پاځیدلي وي، او دا به د دوی لپاره د
افسوس سبب وي.

۱- د خوب نه د پاڅیدو دعاګانې

۱ – «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ» [۱].

۞ ټوله ستاینه* الله لره ده، هغه چې مونږ یې پس له مرګه ژوندي کړي یو، او همده ته بیا ژوندي کیدل او ورتګ دی.

۲ – «لاَ إِلَهَ إِلاّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّه، وَلاَ إِلَهَ إِلاّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاّ بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ،

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۱۱/۱۱۳)، مسلم ۴/۲۰۸۳

رَبِّ اغْفِرْ لِي»[1].

۞ بیله الله نه بل څوک د عبادت وړ* نشته، يو دی شريک نلري، همده لره پاچاهي او پوره ستاينه * ده، او همدی په هر څه قادر دی، پوره پاکي او ستاينه يوازي الله لره ده، بيله* الله نه بل څوک د عبادت وړ* نشته ، الله لوی دی، او هيڅ قوت او طاقت نشته (د گناه نه د ساتلو* او د نيکيو د کولو) مگر په اوچت او باعظمت الله ﷻ سره، پروردگاره ما ته بخښنه* وکړه.

---

(۱) څوک چي دا ووايي، گناهونه به يې وبخښل شي، او که دعا وکړي، قبوله به شي، او که پاڅي اودس وکړي او بيا لمونځ وکړي، نو لمونځ به يې قبول شي.
بخاري (فتح الباري ۳/۳۹)، او نورو هم روايت کړيدی، او پورتنی لفظ د ابن ماجه دی، صحيح ابن ماجه ۲/۳۳۵.

٣- «الحَمدُ للهِ الّذي عَافَاني في جَسَدي، ورَدَّ عليَّ رُوحِي، وأَذِنَ لي بِذِكْرِه»[(١)].

۞ پوره ثنا او ستاینه * هغه الله لره ده چي ما ته یې په بدن کي روغتیا راکړې، او ما ته یې زما روح بیا را کړ، او ما ته یې د خپل ذکر اجازه او حکم کړی دی.

٤- ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لأُوْلِي الأَلْبَابِ ۞ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَىَ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۞

(١) ترمذي ٥/٤٧٣، صحيح الترمذي ٣/١٤٤.

رَبَّنَا إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ
مِنْ أَنصَارٍ ۞ رَّبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِياً يُنَادِي لِلإِيمَانِ أَنْ
آمِنُواْ بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا
سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الأبْرَارِ ۞ رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدتَّنَا
عَلَى رُسُلِكَ وَلاَ تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ
الْمِيعَادَ ۞ فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لاَ أُضِيعُ عَمَلَ
عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ
فَالَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخْرِجُواْ مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُواْ فِي
سَبِيلِي وَقَاتَلُواْ وَقُتِلُواْ لأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ
وَلأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ ثَوَاباً
مِّن عِندِ اللّهِ وَاللّهُ عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ ۞ لاَ يَغُرَّنَّكَ
تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُواْ فِي الْبِلاَدِ ۞ مَتَاعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ
مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ۞ لَكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْاْ

رَبِّهِمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلاً مِّنْ عِندِ اللّهِ وَمَا عِندَ اللّهِ خَيْرٌ لِّلأَبْرَارِ ۞ وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَمَن يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِمْ خَاشِعِينَ لِلّهِ لاَ يَشْتَرُونَ بِآيَاتِ اللّهِ ثَمَناً قَلِيلاً أُوْلَئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِنَّ اللّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ۞ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [آل عمران: ۱۹۰-۲۰۰] (۱).

۞ بې شکه چې په آسمانونو او ځمکه کې، او د شپې او ورځې په بدلیدلو کې د عقل خاوندانو لپاره نښې نښاني دي، هغه کسان چې د

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۸/۲۳۷)، مسلم ۱/۵۳۰.

الله ذکر کوي پداسي حال کي چي ولاړ* وي،
او ناست وي، او په ډډه* باندي وي، او
دآسمانونو او ځمکي په پيدايښت کي سوچ او
فکر کوي، (او وايي) اى زموږ پروردګاره! دا
(آسمانونه او ځمکه) دي خوشي او بي فايدې
ندي پيدا کړي، پاکي ده تا لره، نو موږ د
دوزخ* له عذاب نه وساته. اى پروردګاره! بي
شکه چي ته څوک دوزخ* ته واچوي نو په
رښتيا سره تا هغه رسوا او ذليل کړيدى، او ظالمانو
لره هيڅوک مرستندوى نشته. اى پروردګاره!
په رښتيا سره موږ د آواز* کونکي (آواز) واوريد
چي ايمان ته يي بلنه* کوله (ويل يي) چي په خپل
پروردګار ايمان راوړى، نو موږ ايمان راوړ، اى

زمونږ پروردګاره! زمونږ ګناهونه را ته وبخښه*،
او زمونږ بد کارونه را نه لیري کړه، او مونږ ته له
نیکانو* سره مرګ راکړه. ای زمونږ پروردګاره!
مونږ ته هغه څه راکړه چي د خپلو پیغمبرانو په
(ذریعه) دي راسره وعده کړیده، او د قیامت په
ورځ مو مه رسوا کوه، په رښتیا سره چي ته د
وعدي مخالفت نکوې. نو د دوی پروردګار د
دوی (دعا) قبوله کړه، (پدې شان) چي زه به له
تاسو نه د هیڅ عمل کونکي عمل نه ضایع* کوم،
نر وي او که ښځه، (ټول) یو له بل نه یاست، نو
هغو کسانو چي هجرت یې کړی، او له خپلو
کورونو نه ایستلي شوي، او زما په لاره* کي
ورته اذیت رسیدلی، او جهاد یې کړی، او وژل

شویدي، نو خامخا به زه د دوی ګناهونه وبخښم، او هرو مرو* به دوی هغه جنتونو ته داخل کړم چي (دهغو دمانیو او ونو) لاندي ویالې بهیږي، (او دا) د الله له جانبه جزا او ثواب دی، او د الله په نزد ډیر ښه ثواب او اجر دی. په ښارونو کي د کافرانو تلل را تلل دي تا نه تیر باسي. (دا) یو نا څیزه* متاع او فائده ده، او بیا د دوی ځای دوزخ دی، او ډیر بد د هستوګني ځای دی. لیکن هغه کسان چي له خپل پروردګار نه ویریږي* او پرهیزګاري کوي، هغوی لره داسي جنتونه دي چي په هغه کي به ویالې رواني وي، تل* به په هغه کي استوګن وي، (او دا) د الله له جانبه میلمستیا ده (هغوی

لره)، او هغه څه چي د الله سره دي هغه د نیکانو
لپاره (ډېر) غوره دي. او په تحقیق سره د اهل
کتاب نه داسي کسان شته چي په الله او په هغه
(قرآن) چي تاسو ته نازل کړي شویدی، او په هغه
(تورات او انجیل) چي دوی ته نازل کړي شوی
دی، ایمان لري، پداسي حال کي چي له الله نه
ویریدونکي دي، د الله آیاتونه په لږو پیسو نه
خرڅوي، د دي کسانو اجر او ثواب د الله سره
دی، په ربنتیا سره چي الله ژر حساب کونکی
دی. ای مومنانو! صبر وکړی، او ټینګ اوسی (د
دښمنانو په مقابل کي)، او جهاد ته تیار اوسی، او
له الله نه وویریږی، امید دی چي تاسو به کامیابه
شی.

۲- د جامو اغوستلو دعا

٥- «الحَمدُ للهِ الّذي كَسَانِي هَذا (الثّوبَ) وَرَزَقَنيه مِنْ غَيرِ حَوْلٍ مِنّي ولا قُوّةٍ..»[۱].

۞ پوره ثنا او ستاینه * ده هغه الله لره چي ما ته يې دا جامه* را واغوستله، او بيله* کوم طاقت او قوت نه يې ما ته راکړه.

۳- دنوي جامې اغوستلو دعا

٦- «اللّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنيه، أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهُ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّه وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ»[۲]

---

(۱) بيله* نسائي نورو اصحاب السنن* روايت کړيدی، اِرواء الغليل ۴۷/۷.

(۲) ابو داود، ترمذي، او بغوي روايت کړيدی، شمائل الترمذي

۞ یا الهي! تا لره پوره ستاینه * ده، تا ما ته (دا جامه) را واغوستله، زه د هغې د خیر ، او د څه لپاره چي جوړه شویده د هغه د خیر سوال درنه کوم، او پناه غواړم په تا سره د هغې له شر نه او د هغه څه له شر نه کُوم لپاره چي هغه جوړه شویده.

۴- چا چي نوې جامې واغوستلي هغه ته دعا

۷–«تُبْلِي، ويُخْلفُ اللهُ تعالى»[۱].

۞ (دا جامه) زړه کړې، او الله دي د هغه په ځای نوري جامې در کړي.

= د اَلباني ليكنه ص۴۷

(۱) ابو داود ۴/۴۱، صحيح ابي داود ۲/۷٦۰.

٨- «الْبَسْ جَدِيداً، وَعِشْ حَمِيداً، وَمُتْ شَهِيداً»[١].

۞ نوې (جامه) واغوندې، او ستايلى واوسيږې، او دشهادت په مرګ مړ شې.

٥- دجامو ايستلو په وخت کي دعا

٩- «بِسْمِ اللهِ»[٢]

۞ د الله په نوم سره (دا جامه اوباسم).

٦- د اودس ماتي ځاى ته د داخليدلو دعا

١٠- «[بِسْمِ اللهِ] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ

---

(١) ابن ماجه ١١٧٨/٢، بغوي ٤١/١٢، صحيح ابن ماجه ٢٧٥/٢.

(٢) ترمذي ٥٠٥/٢، او نورو هم روايت کړيدى، ارواء الغليل ٤٩ نمبر حديث، صحيح الجامع ٢٠٣/٣.

الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ»[1].

۞ د الله په نوم سره، الهي! زه په تا سره له چټلي او چټلو (ناولو) نه پناه غواړم.

۷- د اودس ماتي ځای نه د وتلو دعا

۱۱- «غُفْرَانَكَ»[2].

۞ ستا بخښنه غواړم.

۸- داوداسه نه مخکي ذکر

۱۲- «بِسْمِ اللهِ»[3].

---

(۱) بخاري ۱/۴۵، مسلم ۱/۲۸۳، او دا اضافه: «بسم الله في أوله» سعید بن منصور روایت کړیدی، فتح الباري ۱/۲۴۴.
(۲) بیله* نسائي نورو اصحاب السنن* روایت کړیدی، او نسائي په «عمل الیوم واللیلة» کي روایت کړیدی، زاد المعاد ۲/۳۸۷.
(۳) ابو داود، ابن ماجه او احمد روایت کړیدی، اِرواء الغلیل ۱/۱۱۲.

۞ د الله په نامه سره (اودس پیل کوم).

۹- د اودس نه وروسته دعا

۱۳-۱- «أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ..»[۱].

۞ شاهدي* ورکوم چي بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، یو دی، شریک نلري، او شاهدي ورکوم چي محمد د الله بنده او پیغمبر دی.

۱۴-۲- «اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنْ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنْ الْمُتَطَهِّرِينَ»[۲].

---

(۱) مسلم ۲۰۹/۱.

(۲) ترمذي ۷۸/۱، صحيح الترمذي ۱۸/۱.

۞ الهي! ما د توبه ايستونكو څخه وګرځوه، او د (پاكو) كسانو څخه مي وګرځوه.

۱۵-۳- «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ»[۱].

۞ الهي! تا په پاكي سره يادوم او ستا ستاينه كوم، زه شاهدي* وركوم چي بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، له تا نه بخښنه غواړم، او تا ته توبه وباسم.

۱۰- د كور نه دوتلو ذكر

۱۶-۱- «بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لاَ

(۱) نسائي «عمل اليوم والليلة» ص۱۷۳، ارواء الغليل ۱/۱۳۵، ۲/۹۴

حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ»[1].

۞ د الله په نامه سره (له کور نه وځم)، په الله باندي توکل او تکیه کوم، هیڅ قوت او نشته قوت او طاقت (ګناه نه د ساتلو* او د نیکیو د کولو) مګر د اوچت او باعظمت الله جل جلاله (په توفیق) سره.

۱۷-۲- «اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ أَوْ أَزِلَّ أَوْ أُزَلَّ أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ»[2].

۞ الهي! زه په تا سره پناه غواړم لدې نه چي

---

(۱) ابو داود ۳۲۵/۴، ترمذي ۴۹۰/۵، صحیح الترمذي ۱۵۱/۳

(۲) اصحاب السنن*، صحیح الترمذي ۱۵۲/۳، صحیح ابن ماجه ۳۳۶/۲

زه بي لاري شم، يا مي بل څوک بي لاري کړي، يا وښويږم، يا وښويولی شم، يا ظلم وکړم، يا ظلم را سره وشي، يا (چا ته) ضرر او نقصان ورسوم، يا را ته (له بل چا نه) ضرر ورسولی شي.

۱۱- کور ته د ننَوتلو* ذکر

۱۸- «بِسْمِ اللّٰه وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللّٰه خَرَجْنَا وَعَلَى رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا ثُمَّ لِيُسَلِّمْ عَلَى أَهْلِه»[(۱)].

۞ د الله په نامه سره ننَوتلو*، او د الله په

---

(۱) ابو داود ۳۲۵/۴، او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار» ص۲۸ کي د هغه اسناد حَسَن بللی دی، او په صحيح حديث کي راغلي دي، د مسلم ۲۰۱۸ نمبر حديث کي: کله چي سړی خپل کور ته ننوځي، او ننوتلو په وخت کي، او د خوراک په وخت کي الله ياد کړي، نو شيطان (خپلو ملګرو ته) وايي: زمونږ لپاره (دلته) نه د شپي ځای، او نه د (شپي) خوراک شته.

نامه سره ووَتلو*، او پر* خپل پروردګار مو توکل او تکیه کړیده.

او بیا دي په خپلو ورَو* سلام وکړي.

۱۲- مسجد ته د تللو دعا

۱۹- «اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُوراً، وَفِي لِسَانِي نُوراً، وَفِي سَمْعِي نُوراً، وَفِي بَصَرِي نُوراً، وَمِنْ فَوْقِي نُوراً، وَمِنْ تَحْتِي نُوراً، وَعَنْ يَمِينِي نُوراً، وَعَنْ شِمَالِي نُوراً، وَمِنْ أَمَامِي نُوراً، وَمِنْ خَلْفِي نُوراً، وَاجْعَلْ فِي نَفْسِي نُوراً، وَأَعْظِمْ لِي نُوراً، وَعَظِّمْ لِي نُوراً، وَاجْعَلْ لِي نُوراً، وَاجْعَلْنِي نُوراً، اللّهمّ أَعْطِني نوراً، واجعَل في عَصَبي نوراً، وفي لَحْمي نوراً، وفي دَمِي نوراً، وفي شَعْرِي نوراً، وفي

بَشَرِي نوراً»[1]، «[اللهمّ اجْعَلْ لي نوراً في قَبْري.. ونوراً في عظَامي]»[2]، [«وَزِدْني نوراً، وزِدْني نوراً، وزِدْني نوراً»][3]، [«وَهَبْ لي نوراً عَلَى نُورٍ»][4].

۞ الهي! زما په زړه کي رڼا* پيدا کړې، او

---

(۱) تول پورتني صفات په بخاري ۱۱/۱۱٦ په ٦۳۱٦ نمبر حديث کي راغلي دي، مسلم ۱/۵۲٦،۵۲۹،۵۳۰، په ۷٦۳ نمبر حديث کي.

(۲) ترمذي ۳۴۱۹ نمبر حديث، ۵/۴۸۳.

(۳) بخاري په «الأدب المفرد» ٦۹۵ نمبر حديث، ص۲۵۸، کي روايت کړيدی، او البانی په «صحيح الأدب المفرد» ۵۳٦ نمبر حديث کي د هغه اسناد صحيح بللی دی.

(۴) ابن حجر دا لفظ په فتح الباري کي اوابن ابو عاصم ته يي په کتاب الدعاء کي نسبت کړيدی، فتح الباري ۱۱/۱۱۸، او وايي. نو د مختلفو روايتونو نه پنځه ويشت خصلتونه راغونډ* شول.

په ژبه کي مي رڼا، او په غوږونو کي مي رڼا، او
په سترګو کي مي رڼا، او له پاسه مي رڼا، او
لاندي مي رڼا، او له ښي طرف نه مي رڼا، او له
چپ طرف نه مي رڼا، او مخي ته مي رڼا، او شا
ته مي رڼا، او په بدن کي مي رڼا پيدا کړې، او ما
ته رڼا د قدر وړ وګرځوې، او ما ته رڼا مقرره
کړې، او ما رڼا وګرځوې، الهي! ما ته رڼا
راکړې، زما په پلو* کي رڼا پيدا کړې، او په
غوښه کي مي رڼا، او په وينه کي مي رڼا، او په
ويښتو* کي مي رڼا، او په پوستکي* کي مي رڼا.

الهي! زما په قبر کي رڼا پيدا کړې، او زما
په هډوکو کي رڼا، او زما رڼا زياته کړې، او زما
رڼا زياته کړې، او زما رڼا زياته کړې، او ما ته د

رڼا بر سیره رڼا راکړې.

۱۳- مسجد ته د ننوتلو دعا

۲۰- «أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ»[۱]، [بِسمِ اللهِ، وَالصَّلاةُ][۲] [والسَّلامُ على رسُولِ اللهِ][۳] «اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ»[۴].

---

(۱) ابو داود، صحيح الجامع ۴۵۹۱ نمبر حدیث.

(۲) ابن السني ۸۸ نمبر حدیث، او الباني هغه حَسَن بللی دی.

(۳) ابو داود ۱/۱۲٦، صحيح الجامع ۱/۵۲۸.

(۴) مسلم ۱/۴۹۴، او په ابن ماجه کې له فاطمه رضي الله عنها نه داسې روایت دی: «اللهم اغفر لي ذنوبي وافتح لي أبواب رحمتك»، ترجمه: الهي! زما ګناهونه را ته وبخښې، او خپل د رحمت دروازې راته خلاصې* کړې.
او الباني هغه د شواهدو په وجه صحيح بللی دی، صحيح ابن ماجه ۱/۱۲۸-۱۲۹.

۞ په لوی الله سره، او د هغه په عزتمند مخ، او ازلي او همیشنۍ پاچاهۍ سره، له رټل شوي شیطان نه پناه غواړم، د الله په نوم سره، درود او سلام دي وي د الله پر پیغمبر ﷺ، الهي! ته را ته د خپل رحمت دروازې خلاصې* کړې.

۱۴- مسجد نه د وتلو دعا

۲۱- «بِسمِ اللهِ والصَّلاةُ والسلامُ على رسُولِ اللهِ، اللّهمَ إنِّي أسألُكَ منْ فَضْلكَ، اللّهُمَّ اعْصِمْني مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجيمِ»[۱].

۞ د الله په نامه سره، او درود او سلام دي

(۱) د مخکیني (۲۰) نمبر حدیث روایتونه دي وکتل شي، او دا زیادت: «اللهم اعصمني من الشیطان الرجیم» د ابن ماجه دی، صحیح ابن ماجه ۱/۱۲۹.

وي د الله پر پيغمبر، الهي! له تا نه ستا د فضل سوال کوم، الهي! له رټل شوي شيطان نه مي وساتې.

۱۵-د آذان اوريدو ذکرونه

۲۲-۱- (د آذان په جواب کي به) هماغه د مؤذن* الفاظ بيرته وايي، خو د «حيَّ على الصلاة» او «حيَّ على الفَلاح» (په جواب کي به) «لا حَولَ ولا قُوَّةَ إلاّ بالله»[۱] وايي.

۲۳-۲- د مؤذن* د «أَشْهَدُ أنْ لاّ إِلَهَ» او «أَشْهَدُ أنّ محمداً رَسُولُ اللهِ» د ويلو وروسته به دا

(۱) بخاري ۱/۱۵۲، مسلم ۱/۲۸۸.

ذکر وایي[1]:

«وَأَنَا أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبّاً، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولاً، وَبِالإِسْلاَمِ دِيناً»[2].

۞ او زه هم شاهدي* ورکوم چي بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، یو دی، شریک نلري، او محمد د الله بنده او پیغمبر دی، د الله ﷻ په خدایي، او د محمد ﷺ په پیغمبری، او د اسلام په دین راضي یم.

۲۴-۳- مؤذن ته د جواب* ورکولو نه

---

(۱) ابن خزیمه ۱/۲۲۰

(۲) مسلم ۱/۲۹۰.

وروسته به پر پیغمبر ﷺ درود وايي[1].

۲۵-٤- او بيا به دغه دعا وايي: «اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِه الدَّعْوَة التَّامَّة، وَالصَّلاَة الْقَائمَة، آت مُحَمَّداً الْوَسيلَةَ وَالْفَضيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقاماً مَحْمُوداً الَّذي وَعَدْتَهُ [إنَّكَ لاَ تُخْلفُ الميعَادَ]»[2].

۞ الهي! ای د دې مكملي بلني، او د كيدونكي لمونځ پروردګاره! محمد ﷺ ته په جنت كي خاصه درجه، او خاص فضيلت وركړې، او هغه ستايلى شوي مقام ته یې ورسوې كوم چي

---

(۱) مسلم ۲۸۸/۱.

(۲) بخاري ۱۵۲/۱، او د كړو قوسونو په مينځ كي عبارت د بيهقي ۴۱۰/۱ دی، او اسناد يې علامه عبد العزيز بن باز په «تحفة الأخيار» ص۳۸ كي حَسَن بللی دی.

تا ورسره وعده کړیده، بې شکه چې ته د خپلې وعدې مخالفت نه کوې.

۲٦-۵- د آذان او اقامت په مینځ کې به خپل ځان ته دعا کوې، ځکه چې پدې وخت کې دعا نه رد* کیږي[۱].

۱٦- د لمانځه د شروع (له اول تکبیر نه وروسته*) دعا

۲۷-۱- «اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ

---

(۱) ترمذي، ابو داود، او احمد روایت کړیدی، اِرواء الغلیل ۲٦۲/۱.

وَالْبَرَدِ»[1].

۞ الهي! زما او زما د ګناهونو تر مينځ دومره لري والی راولې، لکه څنګه چي دي د مشرق* او مغرب* په مينځ کي لري والی راوستی دی، الهي! ما له خپلو ګناهونو نه داسي پاک کړې لکه څنګه چي سپينه جامه له خيرو* نه پاکه کړي شي، الهي! ما له ګناهونو نه په واوره، او اوبو، او ږلۍ سره ووينځې.

۲۸-۲- «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلاَ إِلَهَ غَيْرُكَ»[2].

---

(۱) بخاري ۱/۱۸۱، مسلم ۱/۴۱۹

(۲) څلورو واړو اصحاب السنن روايت کړيدی، صحيح الترمذي ۱/۷۷، صحيح ابن ماجه ۱/۱۳۵

۞ الهي! تا په پاکي سره یادوم او ستا ستاینه کوم، او مبارک دی نوم ستا، او لوی دی شان او شوکت ستا، او بیله تا نه بل څوک د عبادت وړ* نشته.

۲۹- «وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفاً وَمَا أَنَا مِنْ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنْ الْمُسْلِمِينَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعاً، إِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ، وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الأَخْلاَقِ، لاَ يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلاَّ أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا، لاَ يَصْرِفُ

عَنِّي سَيِّئَهَا إلاّ أَنْتَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، وَالْخَيْرُ كُلُّهُ بِيَدَيْكَ، وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ، أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ، تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ»[1].

۞ ما خپل مخ وګرځاوه هغه ذات ته چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړيدي، پداسې حال کې چې د حق دين مل* يم، او نه يم له مشرکانو نه، په رښتيا سره زما لمونځ، او قرباني*، او ژوند، او مرګ يواځې د هغه الله لپاره دی چې د مخلوقاتو پروردګار دی، شريک نلري، او زه پدې سره مامور شوی يم، او زه له مسلمانانو څخه يم.

---

(۱) مسلم ۱/۵۳۴.

الهي! ته پاچاه* يې، بيله تا نه بل د عبادت
وړ* معبود* نشته، ته زما پروردګار يې، او زه دي
بنده يم، په خپل ځان مي ظلم* کړی، او په خپله
ګناه اقرار کوم، نو زما* ټول ګناهونه را ته
وبخښې، په رښتيا سره چي ګناهونه بيله تا نه بل
څوک نشي بخښلی، د ښو اخلاقو هدايت* راته
وکړې، و ښو اخلاقو ته يواځي ته هدايت کوې،
او بد اخلاق را څخه لري کړې، بد اخلاق را نه
يواځي ته لري کولای شې، ستا دعوت مي قبول
کړ، او ستا خدمت ته ولاړ يم، خير ټول ستا په
لاسونو کي دی، او شر تا لره شر ندی[1]، او په

(۱) د (والشر ليس إليك) علماوو مختلفي معناګاني ذکر کړيدي، له

=

هغه جملې نه بعضې دادي:
۱- شر ستا په حق کې شر ندی، ځکه هغه ستا له عدل او حکمت نه مینځ ته راغلی، او هغه يواځې د مخلوق په حق کې شر دی.
۲- شر الله ته د نږديکت وسيله نده.
۳- يواځې د شر نسبت الله ﷻ ته نه کيږي، بلکه د خير نسبت به ورسره وي.
۴- شر د الله حضور ته نه پورته کيږي، بلکه يواځې خير او نيک عمل د هغه حضور ته پورته کيږي.
او چا چې ددې جملې ترجمه داسې کړيده: (شر تا لره نه نسبت کيږي) نو دا ترجمه صحيح نده، ځکه د شر او خير دواړو نسبت الله ته کيږي او الله د دواړو خالق دی.
مسلم د نووي په شرح ۱۲۹۰ نمبر حديث، تحفة الأحوذي د جامع ترمذي شرح ۳۳۴۴ نمبر حديث، د حمود التويجري رساله (التنبيهات على رسالة الألباني في الصلاة) ص۱۲ دي وکتل شي.(ژباړن)

بې، او اوچت* بې، له تا نه بخښنه غواړم، او تا ته توبه وباسم.

۳۰-٤- «اللَّهُمَّ رَبَّ جَبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنْ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ، إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ» [١].

۞ الهي! د جبرایل، او میکایل، او اسرافیل پروردګاره، د آسمانونو او ځمکي پیدا کونکیه، په پټو او ښکاره علم لرونکیه، ته د خپلو بندګانو په مینځ کي د اختلاف په وخت کي فیصله

(١) مسلم ١/٥٣۴.

کوې، په خپل حکم سره ما ته د هغه حق ښودنه* وکړې، په کوم کې چې اختلاف شوی دی، په رښتیا سره چې همدا ته و سمې لارې ته هدایت او ښودنه کوې چا لره چې وغواړې.

۳۱-۵- «اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيراً، اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيراً، اللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيراً، وَالْحَمْدُ لِلّٰه كَثِيراً، وَالْحَمْدُ لِلّٰه كَثِيراً، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيراً، وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَأَصِيلاً» [ثلاثاً] (۱).

۞ الله ډیر لوی دی په لویې سره، الله ډیر لوی دی په لویې سره، الله ډیر لوی دی په لویې

---

(۱) ابو داود ۲۰۳/۱، ابن ماجه ۲٦۵/۱، احمد ۸۵/۴، او مسلم ۴۲۰/۱ له ابن عمر نه په همدا شان له یوې قصې سره روایت کړیدی.

سره، او پوره ستاینه ده الله لره ډیره زیاته، او پوره ستاینه ده الله لره ډیره زیاته، او پوره ستاینه ده الله لره ډیره زیاته، او په پاکي سره یادوم الله سهار* او مابښام*. [دا به دري ځلي* وایې]

او بیا به دا وایې: «أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ، مِنْ نَفْخِهِ، وَنَفْثِهِ، وَهَمْزِهِ»[1].

۞ په الله سره د شیطان له پوکلو، توکولو، او وسوسو نه پناه غواړم.

۳۲-۶- [2]«اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ نُورُ

---

(۱) مخکینۍ تخریج دي وکتل شي.(ژباړن)

(۲) کله چي به پیغمبر ﷺ د شپې لخوا تهجد ته پاڅیده نو دا ذکر به یې وایه.

السَّموات وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، ولَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمواتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، [وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ رَبُّ السَّمواتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ] [وَلَكَ الْحَمْدُ لَكَ مُلْكُ السَّمواتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ] [وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ مَلِكُ السَّمواتِ وَالأَرْضِ] [وَلَكَ الْحَمْدُ] [أَنْتَ الْحَقُّ، وَوَعْدُكَ الْحَقُّ، وَقَوْلُكَ الحَقُّ، وَلِقَاؤُكَ الحَقُّ، وَالْجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ، وَمُحَمَّدٌ ﷺ، حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ] [اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ، وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا

أَسْرَرْتُ، وَمَا أَعْلَنْتُ] [أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لاَ إِلَهَ إِلاّ أَنْتَ] [أَنْتَ إِلَهِي لاَ إِلَهَ إِلاّ أَنتَ]»[1].

۞ الهي! تا لره پوره ستاينه * ده، ته د آسمانونو او ځمکي او د هغو په مينځ کي مخلوقاتو رڼا* يې، او تا لره پوره ستاينه ده، ته د آسمانونو او ځمکي او د هغو په مينځ کي مخلوقاتو پالونکی يې، او تا لره پوره ستاينه ده، ته د آسمانونو او ځمکي او د هغو په مينځ کي مخلوقاتو مالک يې، او تا لره پوره ستاينه ده، ته د آسمانونو او ځمکي او د هغو په مينځ کي

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۳/۳، ۱۱/۱۱٦، ۳۷۱/۱۳، ۴۲۳، ۴٦۵، مسلم په اختصار سره همدا شان ۱/۵۳۲ روايت کړيدی.

مخلوقاتو پادشاه يې، او تا لره پوره ستاينه ده، ته
حق يې، او وعده دي حق ده، او وينا دي حق
ده، او تا سره ملاقات حق دی، او جنت حق
دی، او دوزخ* حق دی، او پيغمبران حق دي،
او محمد ﷺ حق دی، او قيامت حق دی.

الهي! تا ته تسليم* يم، او په تا مي توكل*
دی، او په تا مي ايمان دی، او تا لره مي رجوع
كړې، او ستا لپاره او ستا په مرسته مي (له دښمن
سره) جګړه كړې، او تا ته مي فيصله دروړې، نو
ما ته (د هغو ګناهونو) بخښنه وكړې چي مخكي
مي كړي، او وروسته مي كړي، او پټ مي
كړي، او ښكاره مي كړي دي، ته مخكي
كونكی او ته وروسته كونكی يې، بيله تا نه بل د

عبادت وړ* معبود* نشته، ته مي معبود* يې، بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته.

۱۷- د رکوع دعا

۳۳-۱- «سُبْحَانَ رَبِّيَ العَظِيمِ» [ثلاث مرات] (۱).

۞ پاک دی زما* لوی پروردګار. [درې ځلې]

۳۴-۲- «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي» (۲).

۞ اې الله! (اې) زمونږ پروردګاره! تا په پاكي سره يادوم، او تا لره ستاينه كوم، الهي! ما ته

---

(۱) اصحاب السنن او احمد روايت كړيدى، صحيح الترمذي ۸۳/۱.

(۲) بخاري ۹۹/۱، مسلم ۳۵۰/۱.

بخښنه وکړې.

۳۵-۳- «سُبُّوحٌ، قُدُّوسٌ، رَبُّ الْمَلاَئِكَةِ وَالرُّوحِ»[۱].

۞ ډېر پاک او ډېر مقدس دی پروردګار د ملائکو* او د روح.

۳۶-٤- «اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، خَشَعَ لَكَ سَمْعِي، وَبَصَرِي، وَمُخِّي، وَعَظْمِي، وَعَصَبِي، وَمَا اسْتَقَلَّتْ بِهِ قَدَمِي»[۲].

۞ الهي! خاص تا ته مي سر ټيټ کړی، او

---

(۱) مسلم ۳۵۳/۱، ابو داود ۲۳۰/۱

(۲) مسلم ۵۳۴/۱، او بيله ابن ماجه څلورو روايت کړېدی.

په تا مې ایمان راوړی، او تا ته تسلیم* یم، او تسلیم دي تا لره زما* غوږونه، او زما سترګې، او زما ماغزه*، او زما هډوکي، او زما پلې*، او زما هغه (جسم) کُوم چې زما پښو* اوچت کړیدی.

٣٧-٥- «سُبْحَانَ ذي الْجَبَرُوتِ، وَالْمَلَكُوتِ، وَالْكِبْرِيَاءِ، وَالْعَظَمَةِ»[١].

۞ پاک دی څښتن* د ډیر زور، او غټې پاچاهي، او د لویي، او عظمت.

١٨- د رکوع نه پورته کیدلو* دعا

٣٨-١- «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ»[٢]

---

(١) ابو داود ١/٢٣٠، نسائي، او احمد روایت کړیدی، او اِسناد یې حَسَن دی.

(٢) بخاري (فتح الباري ٢/٢٨٢).

۞ واوریده الله (له) هغه چا (نه) چي د هغه حمد او ثنا یې وویل.

۳۹-۲- «رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ»[1].

۞ ای زمونږ پروردګاره! تا لره پوره ستاینه ده، ستاینه ډیره زیاته، پاکه، او مبارکه.

۴۰-۳- «مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَ مِلْءَ الأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ، اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ،

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۲/۲۸۴).

وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ»[1].

۞ (الهي! تا لره پوره ستاينه * ده) د آسمانونو او ځمکي او د هغوی تر مينځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغه شيانو* چي تا ورروسته غوښتي دي، اې د ستايني او لويي خاونده! کومه رښتيني خبره چي بنده کړيده داده -او مونږ ټول ستا بندګان يو-: الهي! ته چي (چا ته) څه ورکړې، د هغه (څوک) بندونکی نشته، او ته چي (له چا نه) څه بند کړې، د هغه (څوک) ورکونکی نشته، او فائده نه کوي مالدار لره دهغه مال، ستا د عذاب

---

(١) مسلم ١/٣٤٦.

(لري كولو كي).

۱۹- د سجدي دعا

۴۱-۱- «سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى» [ثلاث مرات][1].

۞ پاک دی زما* لوی پروردګار. [درې ځلې]

۴۲-۲- «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»[2].

۞ اي الله! (اې) زمونږ پروردګاره! تا په پاكي سره يادوم، او تا لره ستاينه كوم، الهي! ما ته

(۱) اصحاب السنن او احمد روايت كړيدى، صحيح الترمذي ۸۳/۱.

(۲) بخاري، او مسلم روايت كړيدى، تخريج يې په (۳۴) نمبر حديث كي تير شو

بخښنه وکړي.

۴۳-۳- «سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلاَئِكَةِ وَالرُّوحِ»[۱].

۞ ډیر پاک او ډیر مقدس دی پروردګار د ملائکو* او د روح (یا جبرائیل).

۴۴-۴- «اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَصَوَّرَهُ، وشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ، تَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ»[۲].

۞ الهي! تا لره مي سجده وکړه، او په تا مي

(۱) مسلم ۱/۵۳۳، اوتخریج يې په (۳۵) نمبر حدیث کي تیر شو
(۲) مسلم ۱/۵۳۴ او نورو روایت کړیدی.

ايمان راوړ، او تا ته تسليم شوم، زما مخ هغه ذات لره سجده وکړه چي هغه يې پيدا کړی، او صورت او شکل يې ورکړی، او غوږونه او سترګي يې ورکړي دي، با برکته* دی الله چي له ټولو نه غوره پيدا کونکی دی.

٤٥-٥- «سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ»[١].

۞ پاک دی څښتن* د زبرځواکی، او غټي پاچاهي، او د لويي، او عظمت.

٤٦-٦- «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ، دِقَّهُ،

---

(١) ابو داود ١/٢٣٠، احمد، او نسائي روايت کريدی، او الباني په صحيح ابي داود ١/١٦٦ کي صحيح بللی دی.

وَجِلَّهُ، وَأَوَّلَهُ، وَآخِرَهُ، وَعَلاَنِيَتَهُ، وَسِرَّهُ»[1].

۞ الهي! زما واړه او لوی، لومړني او وروستني، ښکاره او پټ ټول ګناهونه وبخښې.

٤٧-٧- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لاَ أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ»[2].

۞ الهي! زه ستا په رضا سره ستا له غضب نه، او ستا په عافيت سره ستا له عذاب نه، او په تا سره له تا نه پناه غواړم[3]، زه ستا پوره ستاينه

---

(١) مسلم ١/٣٥٠.
(٢) مسلم ١/٥٣٢.
(٣) له الله ﷻ نه په الله سره د پناه غوښتلو مقصد: په الله سره دده د

نشم کولای، ته هماغسي يې لکه څنګه چي تا د ځان ستاينه کړيده.

۲۰- د دوو سجدو په مينځ کي دعا

٤٨-١- «رَبِّ اغْفِرْلِي، رَبِّ اغْفِرْلِي»(١).

۞ اې پروردګاره! ما ته بخښنه وکړه، اې پروردګاره! ما ته بخښنه وکړه.

٤٩-٢- «اللَّهُمَّ اغْفِرْلِي، وَارْحَمْنِي، وأهْدِنِي، وَاجْبُرْنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي، وَارْفَعْنِي»(٢)

=

جلالي صفاتو لکه غضب، قهر، جبروت او نورو داسي صفاتو له آثارو نه پناه غوښتل دي.(ژباړن)

(١) ابو داود ١/٢٣١، صحيح ابن ماجه ١/١٤٨.

(٢) بيله نسائي نه اصحاب السنن روايت کړيدی، صحيح ترمذي ١/٩٠، صحيح ابن ماجه ١/١٤٨

۞ الهي! ما ته بخښنه وکړې، او په ما رحم وکړې، او هدايت را ته وکړې، او نقصان مي پوره کړې، او ما ته عافيت* راکړې، او روزي را ته راکړې، او (زما مقام) اوچت* کړې.

۲۱- د تلاوت د سجدې دعا

۵۰-۱- «سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ، ﴿فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾»[1].

۞ زما مخ هغه ذات لره سجده وکړه چي هغه يې پيدا کړی، او غوږونه او سترګي يې

(۱) ترمذي ۲/۴۷۴، احمد ۶/۳۰، حاکم ۱/۲۲۰ او هغه يې صحيح بللی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده، او زيادت هم دده دی.

ورکړي دي، په خپل قدرت او طاقت سره، نو* با برکته* دی الله، چي له ټولو نه ښه پيدا کونکی دی.

۵۱-۲- «اللّٰهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْراً، وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْراً، وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْراً، وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ»[(۱)].

۞ الهي! ته ددي (سجدې) په بدل کي ما ته د خپل ځان سره اجر وليکه، او په هغه سره له ما نه د ګناه (بار*) کښته* کړه، او هغه له خپل ځان سره زما لپاره توښه* وګرځوه، او له ما نه يې

(۱) ترمذي ۴۷۳/۲، حاکم ۲۱۹/۱ او هغه يې صحيح بللی، او ذهبي ورسره موفقه کريده.

داسي قبوله کړې، لکه څنګه چې دي له خپل بنده داود ﷺ نه قبوله کړې ده.

۲۳- د تشهد دعا (التحيات)

۵۲- «التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ، وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ»(۱).

۞ ژبني او بدني او مالي عبادتونه ټول الله لره دي، سلام او د الله رحمت او برکتونه دي وي پر تا اې پيغمبره! سلام دي وي پر مونږ او د

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۱۳/۱)، مسلم ۳۰۱

الله پر نيكو بندګانو، زه شاهدي* وركوم چي بيله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، او شاهدي وركوم چي محمد د الله بنده او پيغمبر دی.

۲۳- له (التحيات) نه وروسته پر* پيغمبر ﷺ درود

۵۳-۱- «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»[1].

۞ الهي! پر محمد او د محمد پر اهل وعيال درود ولیږه، لكه څنګه چي دي پر ابراهيم

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۴۰۸/۶).

عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام پر اهل و عيال درود ليږلی دی، په رښتيا سره ته ستايلی شوی، د لويي خاوند يې، او برکت نازل کړه پر محمد او د هغه پر اهل وعيال باندي، لکه څنګه چي دي برکت نازل کړی دی پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پر اهل وعيال باندي، په رښتيا سره ته ستايل شوی، د لويي خاوند يې.

٥٤-٢- «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعلى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعلى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»[١].

---

(١) بخاري (فتح الباري ٦/٤٠٧)، مسلم ١/٣٠٦، او پورتنی لفظ

۞ الهي! پر محمد او د هغه پر بيبيانو او اولادونو درود وليږه، لكه څنګه چي دي پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پر ښځو او اولادونو درود ليږلی دی، او بركت نازل كړه پر محمد او د هغه پر ښځو او اولادونو، لكه څنګه چي دي بركت نازل كړی دی پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پر ښځو او اولادونو، ته ستايل شوی، د لويي خاوند يې.

۳۴- په وروستۍ ناسته كي د سلام نه مخكي دعا

۵۵-۱- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا

= د مسلم دی.

وَالْمَمَاتِ، ومِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ»[1].

۞ الهي! زه په تا سره پناه غوارم د قبر له عذاب نه، او د دوزخ* له عذاب نه، او د ژوند او مرګ له فتنو نه، او د مسيح دجال د فتنې له شر نه.

٥٦-٢- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا والْمَمَاتِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ»[2].

۞ الهي! زه په تا سره د قبر له عذاب نه پناه

---

(١) بخاري ١٠٢/٢، مسلم ٤١٢/١، او پورتنی لفظ د مسلم دی.

(٢) بخاري ٢٠٢/١، مسلم ٤١٢/١

غوارم، او په تا سره د مسیح دجال د فتنې له شر نه پناه غوارم، او په تا سره د ژوند او مرګ د فتنو نه پناه غوارم، الهي! زه په تا سره د ګناه او قرض اخیستلو[1] نه پناه غوارم.

٥٧-٣- «اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْماً كَثِيراً، وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي، إِنَّك أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ»[2].

۞ الهي! ما پر خپل ځان ډیر ظلم* کړی

---

(١) له قرض اخیستلو نه مقصد دلته هغه قرض دی چې د ناروا کارونو کولو لپاره واخیستل شي، او یا هغه قرض چې له ادا کولو نه یې عاجز شي.(ژباړن)

(٢) بخاري ١٦٨/٨، مسلم ٢٠٧٨/٤.

دی، او بیله تا نه بل څوک ګناهونه نشي بخښلای، نو ما ته له خپل جانب نه بخښنه* وکړه، او پر ما رحم وکړه، په رښتیا سره همدا ته بخښونکی مهربانه یې.

٥٨-٤- «اللّهُمّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ، وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ، وَمَا أَعْلَنْتُ، وَ مَا أَسْرَفْتُ، وَمَا أنتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ، وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، لاَ إِلَهَ إِلاّ أَنْتَ» (١).

۞ الهي! زما هغه ګناه وبخښې چې ما مخکي کړې او وروسته مي کړې، پټه مي کړې، او ښکاره مي کړیده، او هغه څه چې ما پکي

---

(١) مسلم ٥٣۴/١.

اسراف او زيادت كړى، او هغه (ګناه) چې ته په هغه له ما نه ښه خبر يې، ته مخکې کونکى يې، او ته وروسته کونکى يې، بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته.

٥٩-٥- «اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ»[١].

۞ الهي! ما ته ستا په ذکر کولو، شکر کولو، او ښه عبادت کولو مدد او توفيق راکړې.

٦٠-٦- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُرَدَّ إِلَى

---

(١) ابو داود ٨٦/٢، نسائي ٥٣/٣، او الباني هغه په صحيح ابي داود ٢٨٤/١ کې صحيح بللى دى.

أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وعَذَابِ الْقَبْرِ»[1].

۞ الهي! زه په تا سره له بُخل* نه پناه غواړم، او په تا سره له بي زړه توب* نه پناه غواړم، او په تا سره و سپک عمر[2] ته له رسيدو نه پناه غواړم، او په تا سره د دنيا له فتنې، او د قبر له عذاب نه پناه غوارم.

٦١-٧- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ النَّارِ»[3].

---

(١) بخاري (فتح الباري ٦/٣٥).

(٢) سپک عمر نه مراد بوډاتوب او د کمزورتيا عمر دی، چې د هيڅ کار کولو توان ورسره نه وي، او خپل خدمت لپاره هم بل چا ته محتاج وي.(ژباړن)

(٣) ابو داود، صحيح ابن ماجه ٢/٣٢٨.

۞ الهي! زه له تا نه د جنت سوال کوم، او په تا سره له دوزخ* نه پناه غواړم.

٦٢-٨- «اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ، أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْراً لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْراً لِي، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالْغَضَبِ، وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْغِنَى والْفَقْرِ ، وَأَسْأَلُكَ نَعِيماً لاَ يَنْفَدُ، وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لاَ تَنْقَطِعُ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَا بَعْدَ الْقَضَاءِ، وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ، وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ، فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ، وَلاَ فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، اللَّهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ

الإِيمَانِ، وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مُهْتَدِينَ»[1].

۞ الهي! په غيبو باندي ستا په علم سره، په مخلوقاتو باندي ستا په قدرت سره (سوال کوم) چي ما ته هغه پوري ژوند راکړې چي ته زما لپاره ژوند بهتر گڼې، او ما ته هله* مرگ راکړې، چي ستا په علم کي مرگ را ته بهتر وگڼې، الهي! زه په پټه او ښکاره کي ستا نه د ويري سوال کوم، او د خوشحالۍ او خفگان په وخت د حق ويلو سوال در نه کوم، او په مالدارۍ او غريبۍ کي د ميانه روۍ سوال درنه کوم، او د داسي نعمت

---

(١) نسائي ٥٤،٥٥/٤، احمد ٣٦٤/٤، او الباني هغه په صحيح النسائي ٢٨١/١ کي صحيح بللی دی.

سوال درنه کوم چي ختمیدونکی نه وي، او د داسي خوشحالی سوال درنه کوم چي پریکیدونکې* نه وي، په قضاء وقدر باندي د راضي کیدلو سوال درنه کوم، له مرګ نه وروسته د ښه ژوند سوال درنه کوم، او ستا مخ ته د کتلو د خوند او لذت، او ستا ملاقات ته دشوق سوال درنه کوم، او په شوق سره ستا د ملاقات (سوال درنه کوم)، چي له هغه سره زیان رسونکی تکلیف، او ګمراه کونکې فتنه نه وي، الهي! د ایمان په ګاڼو* سره مو سمبال* کړې، او له هدایت شویو هدایت کونکو نه مو وګرځوې.

۶۳-۹- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ يَا أَللَّهُ بِأَنَّكَ الْوَاحِدُ الأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ

يَكُنْ لَهُ كُفُواً أَحَدٌ أَنْ تَغْفِرَ لِي ذُنُوبِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ»[1].

۞ الهي! زه له تانه سوال كوم پدې چې اى الله! ته بيشكه ايكي يو يې، بې نيازه يې، (هغه ذات يې چې) څوک يې ندي زيږولي، او نه هغه له بل چا نه زيږيدلى دى، او هيڅ څوک هغه لره سيال نشته، نو ما لره زما گناهونه وبخښې، په ربښتيا سره همدا ته بخښونكى مهربان يې.

٦٤-١٠- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ،

---

(١) نسائي ٥٢/٣ په همدا لفظ سره روايت كړى دى، احمد ٣٣٨/٤، او الباني په صحيح النسائي ٢٨٠/١ كې صحيح بللى دى.

الْمَنَّانَ، يَا بَدِيعَ السَّموات وَالأَرْضِ، يا ذَا الْجَلاَلِ وَالإِكْرَامِ، يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ، إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَ أَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ»[1].

۞ الهي! زه درنه سوال کوم پدې چي تا لره پوره ستاينه ده، بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، يو يې، شريک نلرې، زيات احسان کونکی يې، ای د آسمانونو او ځمکي پيدا کونکيه! ای د لويي او عزت ورکولو څبنتنه! ای د هميشني* ژوند خاونده! ای (د کائناتو*) پالونکيه! زه له تا نه د جنت سوال کوم، او په تا سره له دوزخ* نه پناه غواړم.

---

(۱) اصحاب السنن روايت کړی، صحيح ابن ماجه ۳۲۹/۲

٦٥-١١- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاّ أَنْتَ الأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُواً أَحَدٌ»[1].

۞ الهي! زه له تا نه سوال كوم پدې چي زه شاهدي* وركوم چي ته الله يي، بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، ته ايكي يو يې، هغه بې نيازه ذات يې، چي څوک يې ندي زيږولي، او نه هغه له بل چا نه زيږيدلى دى، او هيڅ څوک هغه لره سيال نشته.

---

(١) ابو داود ٢/٦٢، ترمذي ٥/٥١٥، ابن ماجه ٢/١٢٦٧، احمد ٥/٣٦٠، صحيح ابن ماجه ٢/٣٢٩، صحيح الترمذي ٣/١٦٣.

۲۵- د سلام گرځولو نه وروسته اذکار

٦٦-١- أَسْتَغْفِرُ اللهَ [ثلاثًا][1].

۞ له الله نه بخښنه غواړم. [درې ځلې]

«اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلامُ، وَمِنْكَ السَّلامُ، تَبارَكْتَ يَا ذَا الْجَلالِ وَالإِكْرَامِ»[2].

۞ الهي! ته له ټولو عیبونو نه پاک یې، او سلامتیا ستا له جانبه ده، با برکته* ذات یې، ای د لویي او عزت ورکولو څښتنه!.

٦٧-٢- «لاَ إِلَهَ إِلاّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ،

(١) مسلم ۱/۴۱۴.

(۲) مخکینی تخریج دي وکتل شي.(ژباړن)

اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ»[1].

۞ بيله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، يو دی، شريک نلري، ده لره (دکائناتو) باچاهي او پوره ستاينه ده، او هغه پر هر څه قادر دی، الهي! ته چي (چا له) څه ورکړې، د هغه (څوک) بندونکی نشته، او ته چي (له چا نه) څه بند کړې، د هغه (څوک) ورکونکی نشته، او فائده نه کوي مالدار لره دهغه مال، ستا د عذاب (په لري کولو کي).

٦٨-٣- «لاَ إِلَهَ إِلاّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ

---

(١) بخاري ١/٢٥٥، مسلم ١/٤١٢.

لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إلاّ باللّه، لاَ إِلَهَ إلاّ اللّهُ، وَلاَ نَعْبُدُ إلاّ إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ، وَلَهُ الْفَضْلُ، وَلَهُ الثَّناءُ الْحَسَنُ، لاَ إِلَهَ إلاّ اللّهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ»[1].

۞ بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، یو دی، شریک نلري، ده لره (دکائناتو) باچاهي او پوره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر دی، هیڅ طاقت او قدرت نشته (د ګناه نه د ساتلو* او د نیکیو د کولو) مګر په الله ﷻ سره، بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، او بیله

---

(۱) مسلم ۱/۴۱۵

هغه نه د بل چا عبادت نه کوو، نعمت او احسان دده له جانبه دی، غوره ستاینه هغه لره ده، بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، پداسي حال کي چي عبادت او بنده ګي مو خاص هغه لره ده، که څه هم کفارو ته خوښنه نه وي.

۶۹-۴- «سُبْحَانَ اللهِ، والحَمْدُ للهِ، واللهُ أَكْبَرُ» [ثلاثاً وثلاثين] [1].

۞ پاک دی الله، پوره ستاینه الله لره ده، او الله ډیر لوی (ذات) دی. [۳۳ خله].

«لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ

---

(۱) مسلم ۴۱۸/۱، څوک چي دا د هر لمانځه نه وروسته ووایي، ګناهونه به يې وبخښل شي، که څه هم د سمندر د ځګ په اندازه (زیاتي) وي.

وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»[1].

❁ بيله الله نه بل د عبادت ور* معبود* نشته، يو دى شريک نلري، هغه لره (د كائناتو) باچاهي، او پوره ستاينه ده، او همدى پر هر څه قادر دى.

٥-٧٠- بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ❁ اللَّهُ الصَّمَدُ ❁ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ❁ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُواً أَحَدٌ﴾ [الإخلاص:١-٥] بعد كل صلاة[2].

❁ ووايه (اې محمده!): دا چې الله ايکي يو

---

(١) مخكيني تخريج دي وكتل شي.(ژباړن)

(٢) ابو داود ٢/٨٦، نسائي ٣/٦٨، صحيح الترمذي ٢/٨، او دا درې واړه سورتونه ته «مُعَوِذات» وايي، فتح الباري ٩/٦٢.

دی، الله بې نیازه دی، نه بې څوک زیږولي، او نه له چا نه زیږیدلی، او هیڅوک هغه لره سیال نشته. [له هر لمانځه نه وروسته]

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۝ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۝ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ۝ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾ [الفلق: ١-٥] [بعد كل صلاة] (١).

۞ ووایه (اې محمده!): پناه غواړم په پروردګار سره د سهار*، د هغه څه له شر نه چې ده پیدا کړیدي، او د تیاره شپې له شر نه چې کله تکه توره شي، او د پوکې کونکیو (جادو ګرو*)

(١) مخکینی تخریج دي وکتل شي. (ژباړن)

ښځو له شر نه (چي پوکل کوي) په غوټو کي،
او د حسد کونکي له شر نه چي کله حسد
وکړي. [له هر لمانځه نه وروسته]

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۞ مَلِكِ النَّاسِ ۞ إِلَهِ النَّاسِ ۞ مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۞ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ۞ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ﴾ [الناس: ١-٦] [بعد كل صلاة] [(١)].

۞ ووايه (اې محمده!): پناه غواړم د خلګو* په پروردګار سره، د خلګو په پاچا سره، د خلګو* په خدای سره، د وسوسه اچونکي، (او

---

(١) مخکینی تخریج دي وکتل شي.(ژباړن)

د الله د ذکر نه) تښتېدونکي (شيطان) له شر
څخه، کوم چې د خلکو* په سينو کې وسوسې
اچوي، له پېريانو څخه وي، او که له انسانانو
څخه. [له هر لمانځه نه وروسته]

٧١-٦- ﴿اللّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ
تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي
الأَرْضِ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا
بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ
عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاء وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ
وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾ [البقرة: ٢٥٥]
[عقب كل صلاة] (١).

---

(١) څوک چې دا د هر لمانځه نه وروسته ووايي، نو بيله مرګ نه به

۞ الله (هغه معبود برحق دی چي) بيله هغه نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، هغه هميشه ژوندی دی، (د کائناتو) تدبيرونکی دی، نه پر هغه پرکالي* راځي او نه خوب، څه چي په آسمانونو او ځمکه کي دي ټول هغه لره دي، څوک دی چي دده په وړاندي بي دده له اجازې نه (د چا لپاره) شفاعت* وکړي؟، عالم دی په هغه څه چي له هغوی نه وړاندي دي[1]، او په هغه څه

=

ي بل شی و جنت ته د داخليدلو نه منع نه کړي.
نسائي (عمل اليوم والليلة ۱۰۰ نمبر حديث)، ابن السني ۱۲۱ نمبر حديث، او الباني په صحيح الجامع ۳۳۹/۵، او په سلسلة الأحاديث الصحيحة ۶۹۷/۲، ۹۷۲ نمبر حديث کي هغه صحيح بللی دی.

(۱) يعني د هغوی په راتلونکو حالاتو عالم دی، او د (يعلم ما بين

چي له هغوی نه وروسته دي[1]، او (هغوی) دده له علم نه په هيڅ شي احاطه* نشي کولای، مګر کوم شی چي الله وغواړي، کرسي يې پر آسمانونو او ځمکه احاطه کړي دي، او د (آسمانونو او ځمکي) ساتل هغه نه ستړی کوي، او هغه لوړ* او لوی دی. [له هر لمانځه نه وروسته]

۷۲-۷- «لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي ويُمِيتُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» [عشر مرات بعد صلاة المغرب والصبح][2].

= أيديهم) نور تفسيرونه هم شته.(ژباړن)

(۱) يعني د هغوی په تيرو شويو حالاتو عالم دی، او د (وما خلفهم) نور تفسيرونه هم شته.(ژباړن)

(۲) ترمذي ۵/۵۱۵، احمد ۴/۲۲۷، تخريج يې په زاد المعاد ۱/۳۰۰ کي وګوری.

۞ بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، یو دی، شریک نلري، ده لره (د کائناتو) باچاهي، او پوره ستاینه ده، ژوند ورکوي، او مرګ راولي، او هغه پر هر څه قادر دی. [د ماښام او سهار لمانځه نه وروسته لس ځلې*]

۷۳-۸- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْماً نَافِعاً، وَرِزْقاً طَيِّباً، وَعَمَلا مُتَقَبَّلا» [بعد السلام من صلاة الفجر] [(۱)].

۞ الهي! زه له تا نه د ګټور علم، او پاک رزق، او قبول شوي عمل سوال کوم. [د سهار د لمانځه د سلام نه وروسته]

---

(۱) ابن ماجه او نورو روایت کړیدی، صحیح ابن ماجه ۱۵۲/۱، مجمع الزوائد ۱۱۱/۱۰

۳۶- د استخارې د لمانځه دعا

۷٤– «قال جَابرُ بْنُ عَبْد اللّٰه رَضيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰه ﷺ يُعَلِّمُنَا الاَسْتخَارَةَ في الأُمُور كُلِّهَا، كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ منْ الْقُرْآن، يَقُولُ: «إذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بالأَمْر فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ منْ غَيْرِ الْفَرِيضَة، ثُمَّ ليَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخيرُكَ بعلْمكَ، وَأَسْتَقْدرُكَ بقُدْرَتكَ، وَأَسْأَلُكَ منْ فَضْلكَ الْعَظيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدرُ وَلاَ أَقْدرُ، وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوب، اللَّهُمَّ إنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ –ويُسَمِّي حَاجَتَه– خَيْرٌ لي في دِيني وَمَعَاشي وَعَاقبَة أَمْري –أَوْ قَالَ: عَاجله وَآجله– فَاقْدُرْهُ لي وَيَسِّرْهُ لي ثُمَّ بَارِكْ لِي فيه، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِيني وَمَعَاشي وَعَاقبَة أَمْرِي –أَوْ

قَالَ: عَاجله وَآجله– فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ»[1].

۞ جابر بن عبد الله رضي الله عنهما وايي: پيغمبر ﷺ به موږ ته په هر کار کې د استخارې داسي ښوونه کوله، لکه څنګه چي به يې موږ ته د قرآن د يو سورت ښوونه کوله، (او داسي به يې) فرمايل: کله چي له تاسو نه يو څوک د کوم کار کولو اراده وکړي، نو دوه رکعته غير فرضي (نفل) لمونځ دي وکړي، او بيا دي ووايي: الهي! زه ستا په علم سره له تا نه خير غواړم، او ستا په قدرت سره له تانه طاقت غواړم، او ستا د لوی

(۱) بخاري ۱٦٢/۷.

فضل او رحمت سوال درنه کوم، ځکه ته قادر
يې، او زه عاجز يم، او ته پوهيږې او زه نه
پوهيږم، او ته په غيبو ښه پوه يې، الهي! که ته
پوهيږې چي دا کار -د هغه کار نوم به اخلي- زما
لپاره په دين او دنيا کي، او په انجام* د کار کي
خير وي -او يا دي ووايي: په نژدې او ليري
آينده* کي را ته خير وي- نو ته يې ما لره* په
برخه کړې، او ما لره يې آسانه کړې، او بيا ما لره
په هغه کي برکت واچوې، او که ته پوهيږې چي
دا کار زما لپاره په دين او دنيا کي، او په انجام*
د کار کي بد دی، -او يا دي ووايي: په نژدې او
ليري آينده کي بد دی- نو له ما نه يې وګرځوې*
او ما له هغه نه وساتې، او ما ته خير را په برخه

کرې چیرته چي وي، او بیا ما په هغه سره خوشحاله کړې.

څوک چي د خالق نه خیر وغواړي، او د مؤمنانو سره مشوره وکړي، او په کار کي ښه فکر وکړي، نو هیڅکله به پښیمانه* نشي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ﴾ [آل عمران: ۱۵۹]

۞ او لدوی (مومنانو) سره په کار کي مشوره وکړه، او چي کله (د کار کولو) عزم او اراده وکړې، نو پر الله توکل او تکیه وکړه.

۳۷- د سهار او ماښام اذکار

الحَمْدُ للهِ وَحْدَهُ، والصّلاةُ والسَّلامُ عَلى مَنْ

لا نَبِيَّ بَعْدَهُ[1].

۞ يواځې الله لره پوره ستاينه ده، او درود او سلام دې وي پر هغه چا چې له هغه نه وروسته پيغمبر نشته.

---

(۱) له انس نه مرفوع روايت دی: «لأن أقعد مع قوم يذكرون الله تعالى من صلاة الغداة حتى تطلع الشمس أحبُّ إليَّ من أن أُعتق أربعة من ولد إسماعيل، ولأن أقعد مع قوم يذكرون الله من صلاة العصر إلى أن تغرب الشمس أحبّ إليّ من أن أُعتق أربعة»، ترجمه: چې زه له يو داسې ډلې سره كښېنم* چې د سهار* له لمانځه نه تر لمر ختو پورې د الله ذكر كوي، دا ما ته لدې نه غوره ده چې د اسماعيل عليه السلام له اولاد نه څلور مرّيان آزاد كړم، او چې زه له داسې يو ډلې سره كښېنم چې د مازديگر له لمانځه نه تر لمر لويدو پورې د الله ذكر كوي، دا ماته لدې نه غوره ده چې څلور (مرّيان) آزاد كړم.
ابو داود ۳٦٦۷ نمبر حديث، او الباني هغه حَسَن بللی دی، صحيح أبي داود ۲/٦۹۸

٧٥-١- أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿اللّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاء وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾ [البقرة: ٢٥٥] [(١)].

۞ مخکي يې ترجمه شويده. [٧٠ نمبر ذکر دي

---

(١) څوک چي دا (آيتونه) د سهار* په وخت ووايي، نو له پيريانو نه به تر ماښام پوري په امان وي، او څوک چي دا (آيتونه) د ماښام په وخت ووايي، نو له هغوی نه به تر سهاره پوری په امان وي. حاکم ٥٦٢/١، او الباني هغه په صحيح الترغيب والترهيب ٢٧٣/١ کي صحيح بللی، او نسائي او طبراني ته يې منسوب کريدی، او ويلي دي: د طبراني اِسناد ښه (جيد) دی.

وكتل شي!

٧٦-٢- بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۞ اللَّهُ الصَّمَدُ ۞ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۞ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُواً أَحَدٌ﴾ [الإخلاص:١-٥] [ثلاث مرات] (١).

۞ مخکي بې ترجمه شويده. [دري خلي] [٧٠ نمبر ذكر دي وكتل شي]

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۞ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۞ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۞ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ۞ وَمِن شَرِّ

---

(١) څوک چې دا سورتونه د سهار او ماښام په وخت ووايي، نو له هر څه نه ورته کافي او بس دي.
ابو داود ٣٢٢/٤، ترمذي ٥٦٧/٥، صحيح الترمذي ١٨٢/٣

حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾ [الفلق: ١-٥] [ثلاث مرات] [1].

۞ مخکي يې ترجمه شويده. [دري خلې] [٧٠ نمبر ذکر دي وکتل شي]

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۞ مَلِكِ النَّاسِ ۞ إِلَهِ النَّاسِ ۞ مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۞ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ۞ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ﴾ [الناس: ١-٦] [ثلاث مرات] [2].

۞ مخکي يې ترجمه شويده. [دري خلې] [٧٠ نمبر ذکر دي وکتل شي]

---

(١) مخکینی تخریج وکتل شي.(ژباړن)

(٢) مخکینی تخریج وکتل شي.(ژباړن)

٧٧-٣- «أَصْبَحْنَا وأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّه، وَالْحَمْدُ لِلَّه، لاَ إِلَهَ إِلاّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذ اليَومِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَه، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذ اليَومِ وَشَرِّ مَا بَعْدَه، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ»[١].

۞ سهار* شو[٢] پر موږ[٣]، او پاچاهي ټوله

---

(١) مسلم ٢٠٨٨/٤.

(٢) چې کله مابنام شي، نو داسي به وايي: «أمسينا وأمسى الملك لله»، ترجمه: مابنام شو پر موږ، او پاچاهي ټوله الله لره ده.
او بله ترجمه يې داده: او پر کائناتو هم مابنام شو يوازي الله لره.

(٣) يعني: موږ سهار کړو، يا د سهار په وخت کې داخل

خاص الله لره ده[1]، او پوره ستاينه الله لره ده، بيله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، هغه يو دی، شريک نلري، او هغه پر هر څه قادر دی، ای زما پروردګاره! پدې ورځ کې څه خير دی، او د دي وروسته چي څه خير دی، زه له تا نه د هغه سوال کوم، او پدې ورځ کې چي څه شر دی، او له هغه نه وروسته چي څه شر دی، له هغه څخه په تا سره پناه غواړم، ای زما پروردګاره! په تا سره له تنبلی*، او د لوی عمر د بدوالي نه پناه غواړم، ای زما پروردګاره! په تا

شوو.(ژباړن)

(۱) بله ترجمه يې داده: پر کائناتو سهار شو يوازي الله لره.(ژباړن)

سره د دوزخ* او قبر له عذاب نه پناه غواړم.

٧٨-٤- «اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ»[١].

۞ الهي! (ستا په حکم) موږ سهار* کړو، او (ستا په حکم سره) موږ ماښام* کړو[٢]، او ستا (په حکم سره) ژوند کوو، او ستا (په حکم سره) مرُو*، او تا لره بيا درتګ (او ژوندي کيدل) دي.

٧٩-٥- «اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ،

---

(١) ترمذي ٥/٤٦٦، صحيح الترمذي ٣/١٤٢.

(٢) او چې کله ماښام شي، نو داسي به وايي: «اللهم بك أمسينا وبك أصبحنا وبك نحيا وبك نموت، وإليك المصير»، يعني «أمسينا» به له «أصبحنا» نه مخکي وايي، او د «النشور» په ځای به «المصير» وايي، او ترجمه بې هماغه پورتنی ترجمه ده.

خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ»[١].

۞ الهي! ته زما پروردګار يې، بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، تا زه پيدا کړی يم، او زه دي بنده يم، او زه د خپل توان سره ستا پر عهد او وعده ولاړ يم، زه په تا سره د خپلو کړو* له شر نه پناه غواړم، زه ستا په هغه نعمت اقرار

---

(١) څوک چي دا دعا په يقين سره د ماښام کيدو په وخت ووايي، او بيا په هماغه شپه مړ شي، نو جنت ته به داخل شي، او همدا رنګه که هغه د سهار کيدو په وخت ووايي.
بخاري ٧/١٥٠.

کوم چي ما ته دي راکړی، او په خپله ګناه اقرار کوم، نو ما ته بخښنه وکړې، چي بیله تا نه څوک ګناه نشي بخښلای.

٨٠-٦- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَصْبَحْتُ، أُشْهِدُكَ وَأُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ وَمَلاَئِكَتَكَ وَجَمِيعَ خَلْقِكَ، أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ، وَأَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ»[أربع مرات][(١)].

---

(١) څوک چي دا ذکر د سهار کیدو او یا ماښام کیدو په وخت څلور ځلي ووايي، الله به يې له دوزخ* نه په امان کړي.
ابو داود ٣١٧/۴، بخاري په «الأدب المفرد» ١٢٠١ نمبر حديث کي، نسائي په «عمل اليوم والليلة» ٩ نمبر حديث کي، ابن السني ٧٠ نمبر حديث کي روايت کړيدی، او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار» ص٢٣ کي د نسائي او ابو داود اسناد حَسَن بللی دی.

۞ اهي! ما سهار کړو[۱]، پداسي حال کي چي زه تا او ستا د عرش پورته کونکي[۲]، او ستا فرښتې*، او ستا ټول مخلوقات پدې شاهد* ګڼم چي بي شکه ته الله يې، بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، يو يې، شريک نلرې، ، او په رښتيا سره محمد ستا بنده او ستا پيغمبر دی.[څلور ځلي*]

۸۱-۷- «اللَّهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِن خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ،

(۱) چي کله ماښام کيدونکی وي نو داسي به وايي. «اللهم إني أمسيت»، ترجمه: اهي! ما ماښام کړو

(۲) يعني هغه ملائکي چي عرش يې پورته کړيدی.(ژباړن)

فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ»[1].

۞ الهي! كوم نعمت چي ما ته، او يا ستا بل كوم مخلوق ته د سهار په وخت[2] رسيدلی، نو هغه يوائې* ستا له طرفه دی، تا لره شريک نشته، نو تا لره ستاينه او شکر دی.

---

(۱) څوک چي دا ذکر د سهار کيدو په وخت ووايي، نو د هغې ورځې شکر بې په ځای کړيدی، او چي کله هغه د ماښام کيدو په وخت ووايي، نو د هغې شپې شکر بې په ځای کړيدی.
ابو داود ۳۱۸/۴، او نسائي په «عمل اليوم والليلة» ۷ نمبر حديث كي، ابن السني ۴۱ نمبر حديث كي، ابن حبان «موارد» ۲۳٦۱ نمبر حديث كي روايت كړيدی، او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار» ص۲۴ كي د هغه اِسناد حَسَن بللی دی.

(۲) او د ماښام كيدو په وخت به داسي وايي: «اللهم ما أمسى بي..»، يعني: الهي! كوم نعمت چي.. د ماښام په وخت رسيدلی..

٨٢-٨- «اللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي بَدَنِي، اللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي سَمْعِي، اللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي بَصَرِي، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ، اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ» [ثلاث مرات] [(١)].

۞ الهي! ما ته په بدن كي روغتيا راكړې، الهي! ما ته په غوږونو كي روغتيا راكړې، الهي! ما ته په سترګو كي روغتيا راكړې، بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، الهي! زه په تا سره له

---

(١) ابو داود ٣٢٤/٤، احمد ٤٢/٥، نسائي په «عمل اليوم والليلة» ٢٢ نمبر حديث كي، ابن السني ٦٩ نمبر حديث كي، بخاري په «الأدب المفرد» كي روايت كړيدى، او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار» ص٢٦ كي د هغه اسناد حسن بللى دى.

کفر او فقر نه پناه غواړم، او په تا سره د قبر له عذاب نه پناه غواړم، بیله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته. [درې ځلې]

۸۳-۹- «حَسْبِيَ اللّٰهُ لاَ إِلَهَ إِلاّ هُوَ، عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ» [سبع مرات] [(۱)].

۞ بس دی ما ته هغه الله چې بیله هغه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، پر هغه مې توکل کړی، او همدی د لوی عرش څښتن* دی. [اووه ځلې]

---

(۱) څوک چې دا ذکر د سهار او ماښام په وخت اووه ځلې ووايي، الله به يې د دنيا او آخرت د كارونو او انديښنو* لپاره ورته كافي وگرځوي.
ابن السني ۷۱ نمبر حديث كې مرفوع، ابو داود ۳۲۱/۴ موقوف روايت كړيدى، او شعيب او عبد القادر الأرناؤوط يې إسناد صحيح بللى دى، زاد المعاد ۳۷۶/۲.

٨٤-١٠- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُنْيا والآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي»[١].

۞ الهي! زه له تا نه په دنيا او آخرت كي د معافۍ او سلامتۍ سوال كوم، الهي! زه له تا نه په خپل دين او دنيا كي او په خپل اهل او مال كي د معافۍ او سلامتۍ سوال كوم، الهي! زما عيبونه پټ كړې، او ويره* را نه لري كړې، الهي! ما د

(١) ابو داود، ابن ماجه، صحيح ابن ماجه ٢/٣٣٢.

مخي نه، او د شا نه، او د ښي خوا نه، او د چپې خوا نه، او د پورته خوا نه محفوظ کړې، او زه ستا په لويي سره لدې نه پناه غواړم چي د لاندي خوا نه ناڅاپه* هلاک شم.

٨٥-١١- «اللَّهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، فَاطِرَ السَّموات وَالأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَليكَهُ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاّ أَنْتَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسي، وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِه، وأَنْ أَقْتَرِفَ عَلى نَفْسي سُوءاً، أو أَجُرَّهُ إلى مُسْلِمٍ»(١).

۞ الهي! اې په پټو او ښکاره عالمه! اې د آسمانونو او ځمکي پیدا کونکیه! اې د هر شي*

(١) ترمذي، ابو داود، صحيح الترمذي ١٤٢/٣

پالونکيه او واکمنه! زه شاهدي* ورکوم چي بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، زه په تا سره د خپل نفس د شر نه، او د شيطان د شر او شِرک نه پناه غواړم، او لدې نه پناه غواړم چي زه بدي وکړم، او يا (بل) مسلمان ته بدي ورسوم.

۸۶-۱۲- «بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ» [ثلاث مرات] (۱).

۞ د هغه الله په نوم چي له نامه سره يې هيڅ

---

(۱) څوک چي دا ذکر د سهار په وخت درې ځلي، او د ماښام په وخت درې ځلي ووايي، هيڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي.
ابو داود ۳۲۳/۴، ترمذي ۴۶۵/۵، ابن ماجه، احمد، صحيح ابن ماجه ۳۳۲/۲، او علامه ابن باز په «تحفی الاخيار» ص۳۹ کي د هغه اسناد حَسَن بللی دی.

شي* په ځمکه او آسمان کي ضرر نه رسوي، او هغه ښه اوريدونکی، ښه پوه دی.[درې ځلي]

٨٧-١٣- «رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبّاً، وَبِالإِسْلَامِ دِيناً، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيّاً»[ثلاث مرات][١].

۞ زه د الله په خدايي توب (يا کارسازي)، او د اسلام په دين، او د محمد په پيغمبري راضي شوم. [درې ځلي]

---

(١) څوک چي دا ذکر د سهار، او ماښام په وخت درې ځلي ووايي، نو په الله حق دی چي هغه به د قيامت په ورځ خوشحالوي.
احمد ٣٣٧/٤، نسائي په «عمل اليوم والليلة» ۴ نمبر حديث کي، ابن السني ٦٨ نمبر حديث کي، ابو داود ٣١٨/۴، ترمذي ۴٦٥/٥ روايت کړيدی، او علامه ابن باز په «تحفة الأخيار» ص٣٩ کي د هغه اِسناد حَسَن بللی دی.

۸۸-۱٤- «يَا حَيّ يَا قَيُّوم، برَحْمَتك أَسْتَغيث، أَصْلحْ لِي شَأْنِي كُلّه، وَلاَ تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَة عَيْن»[1].

۞ ای د کامل ژوند څښتنه! ای د کائناتو تدبیرونکیه!*، ستا په رحمت سره فریاد کوم او مدد غواړم، زما ټول کارونه برابر* کړې، او زما نفْس (او خواهشاتو) ته مي د سترګي د رَپ* په اندازه هم مه سپاري.

۸۹-۱۵- «أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّه رَبِّ الْعَالَمِينَ، اللّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذَا الْيَوْمِ:

---

(۱) حاکم روایت کړی، او هغه يې صحيح بللی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده، صحيح الترغيب والترهيب ب۱/۲۷۳.

فَتْحَهُ، وَنَصْرَهُ، وَنُورَهُ، وَبَرَكَتَهُ، وَهُدَاهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ»[1].

۞ مونږ سهار کړو[2]، او کائناتو هم الله لره سهار کړو، چي پروردګار د مخلوقاتو دی، الهي! زه درنه د دې ورځي[3] د خير، کاميابی، نصرت، رڼايي، برکت، او هدايت سوال کوم، او په تا

---

(۱) ابو داود ۳۲۲/۴، او شعيب او عبد القادر الأرناؤوط د «زاد المعاد» ۲۷۳/۲ په تحقيق کي د هغه اسناد حَسَن بللی دی.

(۲) د ماښام په وخت به داسي وايي: «أمسَينا وأمسى الملك لله رب العالمين»، ترجمه: ماښام شو پر مونږ، او پاچاهي ټوله خاص الله لره ده.

(۳) د ماښام په وخت به داسي وايي: «اللهم إني أسألك خير هذه الليلة فتحها، ونصرها، ونورها، وبركتها، وهداها، وأعوذ بك من شر ما فيها وشر ما بعدها»، ترجمه هماغه پورتنی ترجمه ده، خو د ورځي په ځای به شپه يادوي.

سره د هغې له شر نه، او د هغې نه وروسته شر نه پناه غواړم.

۹۰-۱٦- «أَصْبَحْنَا عَلَى فِطْرَةِ الإِسْلَامِ، وَعَلَى كَلِمَةِ الإِخْلَاصِ، وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ ، وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ حَنِيفاً مُسْلِماً، وَمَا كَانَ مِنْ الْمُشْرِكِينَ»[۱].

۞ مونږ په فطرت* د اسلام، او په کلمه د اخلاص، او په دین د محمد ﷺ، او په طریقه زمونږ د پلار ابراهیم عليه السلام سهار کړو[۲]، چې حق

---

(۱) احمد ۴۰٦،۴۰۷/۳، ابن السني په «عمل اليوم والليلة» ۳۴ نمبر حدیث کې، صحيح الجامع ۲۰۹/۴

(۲) او د ماښام په وخت به وایي. مونږ په فطرت د اسلام.. ماښام کړو.

ته مايل* وو، او له مشركانو څخه نه وو.

٩١-١٧- سُبْحَانَ اللهِ وبِحَمْدِهِ [مائة مرة] [(١)].

۞ پاک دی الله سره له تولي ستاينې. [سل ځلي]

٩٢-١٨- «لاَ إِلَهَ إلاّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» [عشر مرات] [(٢)] أو [مرة واحدة عند الكسل] [(١)].

---

(١) څوک چي دا ذکر د سهار او ماښام په وخت سل ځلي ووايي، هيڅ څوک به د قيامت په ورځ لده غوره* عمل ونلري، مګر هغه څوک چي دده په اندازه او يا له هغه نه زيات يې دا ذکر ويلی وي.
مسلم ٢٠٧١/٤

(٢) نسائي په «عمل اليوم والليلة» ٢٤ نمبر حديث کي روايت کړيدی، صحيح الترغيب والترهيب ٢٧٢/١، «تحفة الأخيار» ص٤٤ د ابن باز ليکنه، او ددې ذکر فضيلت په ص١٤٦،

۞ بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، یو دی، شریک نلري، هغه لره باچاهي ده، او هغه لره پوره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر دی. [لس ځلې] یا [یو ځل د تنبلی* په وخت کې]

۹۳-۱۹- «لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» [مائة مرة إذا أصبح] (۲) .

---

۲۵۵ نمبر حدیث کي وکتل شي.

(۱) ابو داود ۳۱۹/۴، ابن ماجه، احمد ۶۰/۴، صحیح الترغیب والترهیب ۲۷۰/۱، صحیح ابي داود ۹۵۷/۳، صحیح ابن ماجه ۳۳۱/۲، زاد المعاد ۳۷۷/۲

(۲) څوک چي دا ذکر په ورځ کي سل ځلي ووايي، نو د لسو مريانو د آزادولو په اندازه (اجر) به ورکړل شي، او هغه لره به سل نیکۍ وليکل شي، او سل ګناهونه به ورته وبخښل* شي، او په هماغه ورځ به تر مابنام پوري له شيطان نه په امان وي،

۞ بيله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، يو دی، شريک نلري، ده لره باچاهي ده، او ده لره پوره ستاينه ده، او هغه پر هر څه قادر دی. [د سهار په وخت سل ځلي]

۹٤–۲۰– «سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، عَدَدَ خَلْقِهِ، وَرِضَا نَفْسِهِ، وَزِنَةَ عَرْشِهِ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ» [ثلاث مرات إذا أصبح] (۱).

۞ پاک دی الله، او هغه لره غوره ستاينه ده دده د مخلوقاتو د شمير په اندازه، او دده د رضا

=

او هيڅ څوک به لده نه غوره عمل ونلري، مګر هغه څوک چي دده په شان يې عمل کړی وي.
بخاري ۹۵/۴، مسلم ۲۰۷۱/۴.

(۱) مسلم ۲۰۹۰/۴.

(په اندازه)، او دده د عرش د وزن (په اندازه)، او دده د کلماتو د سیاهي (په اندازه). [درې ځلې د سهار په وخت]

۹۵-۲۱- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْماً نَافِعاً، وَرِزْقاً طَيِّباً، وَعَمَلاً مُتَقَبَّلاً»[إذا أصبح] (۱)

۞ الهي! زه له تا نه د ګټور علم، او پاکي روزۍ*، او قبول شوي عمل سوال کوم. [چې کله سهار پاځې]

۹۶-۲۲- «أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وأَتُوبُ إِلِيهِ»[مائة مرة

---

(۱) ابن السني په «عمل اليوم والليلة» ۵۴ نمبر حدیث کي، ابن ماجه ۹۲۵ نمبر حدیث کي روایت کړیدی، او شعیب او عبد القادر الأرنؤوط د «زاد المعاد» په تحقیق ۲/۳۷۵ کي د هغه اسناد حَسَن بللی دی.

في اليوم] [1].

۞ له الله نه بخښنه* غواړم، او هغه ته توبه اوباسم. [سل ځله د ورځې]

٩٧-٢٣- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ» [ثلاث مرات إذا أمسى] [2].

۞ د الله په بشپړ* کلام سره د هغه د مخلوقاتو له شر نه پناه غواړم. [درې ځلې د ماښام په

(١) بخاري (فتح الباري ١١/١٠١)، مسلم ٢٠٧٥/٤

(٢) څوک چې هغه د ماښام په وخت درې ځلې ووايي، په هغه شپه کې به (د زهرناکي خزندې*) زهر ورته څه ضرر ونه رسوي. احمد ٢٩٠/٢، نسائي په «عملاليوم والليلة» ٥٩٠ نمبر حديث کې، ابن السني ٦٨ نمبر حديث کې روايت کړيدی، صحيح الترمذي ١٨٧/٣، صحيح ابن ماجه ٢٦٦/٢، تحفة الأخيار ص٤٥.

وخت]

۹۸-۲۴- «اللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ» [عشر مرات] [(۱)].

۞ الهي! زمونږ پر پيغمبر محمد درود او سلام وليږه. [لس ځلې]

۳۸- د خوب اذکار

۹۹-۱- خپل وُرغوي* به سره يو ځای کړي، او بيا دي لاندېني اذکار ولولي، او هغه دي

---

(۱) (پيغبر ﷺ فرمايي) څوک چي د سهار کيدو په وخت، او مابښام کيدو په وخت لس لس ځلي پر ما درود ووايي، نو د قيامت په ورځ به يې زما شفاعت په برخه شي.
طبراني په دوو اِسنادو سره روايت کړيدی، چي يو اِسناد يې ښه (جيد) دی، مجمع الزوائد ۱۰/۱۲۰، صحيح الترغيب والترهيب ۱/۲۷۳ دي وکتل شي.

په لاسونو کي چُف کړي، او بيا دي په ورغويو سره خپل جسم مسه* کړي، له سره دي يې شروع کړي، او بيا مخ او بيا نور جسم (دي مسه کړي). [دا به درې ځلې کوې]

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۞ اللَّهُ الصَّمَدُ ۞ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۞ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُواً أَحَدٌ﴾ [الإخلاص:١–٥] (١).

۞ ترجمه يې مخکې شويده.[٧٠ نمبر ذکر دي وکتل شي]

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۞ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۞ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا

---

(١) بخاري (فتح الباري ٩/٦٢)، مسلم ٤/١٧٢٣

وَقَبَ ۞ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ۞ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾ [الفلق: ١-٥] [(١)].

۞ ترجمه یې مخکې شویده.[٧٠ نمبر ذکر دې وکتل شي]

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۞ مَلِكِ النَّاسِ ۞ إِلَهِ النَّاسِ ۞ مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۞ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ۞ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ﴾ [الناس: ١-٦] [(٢)].

۞ ترجمه یې مخکې شویده.[٧٠ نمبر ذکر دې وکتل شي]

---

(١) مخکینی تخریج دې وکتل شي.(ژباړن)

(٢) مخکینی تخریج دې وکتل شي.(ژباړن)

۱۰۰-۲- ﴿اللّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاء وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾ [البقرة: ۲۵۵] (۱) .

۞ ترجمه يې مخکې شويده.[۷۰ نمبر ذکر دي وکتل شي]

---

(۱) څوک چي کله خپل د خوب ځای ته راشي او آیت الکرسي ووايي، نو د الله له طرفه به يو ساتونکی ورته مقرر شي، او شيطان به ورته نه نژدې کيږي تر څو چي سهار شي.
بخاري (فتح الباري ۴/۴۷۸).

١٠١-٣- ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ۞ لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْساً إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْراً كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلاَنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ [البقرة: ٢٨٥-٢٨٦] (١).

---

(١) چا چي دا دوه آيته د شپې ولوستل، نو هغه ورته كافي ده. بخاري (فتح الباري ٩/٩٤)، مسلم ١/٥٥٤.

۞ پیغمبر ﷺ په هغه څه چي ده ته له خپل پروردګار څخه را نازل شوي دي یقین او باور کړی، او مومنانو هم (په هغه یقین کړی)، او ټولو ایمان راوړ په الله، او د هغه په ملائکو، او د هغه په کتابونو، او د هغه په پیغمبرانو، (پداسي حال کي چي ټول وایي): د (الله) د پیغمبرانو د هیڅ یو په مینځ کي فرق* نه کوو، او (همدارنګه پیغمبر او مومنان) وایي: مونږ (د الله حکم) واوریده، او (د هغه) اطاعت* مو وکړ، ای پروردګاره! ستا بخښنه غواړو، او تا ته (د ټولو مخلوقاتو) بیا در تګ دی.

الله هیڅ څوک د قدرت او طاقت نه زیات نه مکلف کوي، کوم (نیک) کار چي بي کړی د

هغه (ثواب) همده لره دی، او کوم (بد) کار چي
بي کړی د هغه (عذاب) پر همده باندي دی، ای
زمونږ پروردګاره! مونږ (په ګناه) مه نیسه کله
چي (ستا حکم) هیر کړو، او یا په خطا سره
(ګناه وکړو)، ای پروردګاره! او مه ایږده پر مونږ
باندي دروند بار، لکه څنګه چي دي زمونږ نه
مخکي کسانو باندي ایښی وو، ای پروردګاره!
او مه ایږده پر مونږ باندي هغه بار چي مونږ بي
هیڅ طاقت نلرو، او زمونږ د(ګناهونه) نه تیر شه،
او مونږ ته بخښنه وکړه، او پر مونږ رحم وکړه،
ته زمونږ مددګار یې، نو ته مونږ پر کافر قوم
بریالي* کړې.

١٠٢-٤- [(١)]«باسْمكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبي وَبكَ أَرْفَعُهُ، إنْ أَمْسَكْتَ نَفْسي فَارْحَمْهَا، وَإنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بمَا تَحْفَظُ به عبَادَكَ الصَّالحينَ»[(٢)].

۞ الهي! ستا په نوم سره مي خپله ډډه ولګوله، او ستا (په نوم سره يې) بيرته را پورته کوم، که دي زما روح قبض کړ، نو رحم پر*

(١) (پيغمبر ﷺ فرمايي) کله چي له تاسو نه يو له خپل بستر نه پاځيږي* او بيا ورته بيرته راشي، نو د څادر په پلو دي هغه دري ځلي راټک وهي، او بيا دي بسم الله پري ووايي. ځکه هغه نه پوهيږي چي د هغه ځای ته له هغه نه وروسته څه راغلي دي. او چي کله څملي* نو بيا دي ووايي باقي حديث.

(٢) بخاري ١١/١٢٦، مسلم ٢٠٨٤/٤

وكړه، او كه دي بيرته را وليږه[1]، نو ساتنه يې وكړه، په هغه څه سره چې د خپلو نيكو بندګانو (ساتنه* كوې).

١٠٣-٥- «اللَّهُمَّ إِنَّكَ خَلَقْتَ نَفْسِي وَأَنْتَ تَوَفَّاهَا، لَكَ مَمَاتُهَا وَمَحْيَاهَا، إِنْ أَحْيَيْتَهَا فَاحْفَظْهَا. وَإِنْ أَمَتَّهَا فَاغْفِرْ لَهَا، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ»[2].

۞ الهي! په رښتيا سره تا زما روح پيدا كړی، او ته يې مړ كوې، او تا لره يې مرګ او ژوند دی، كه دي ژوند وركړ نو حفاظت يې

---

(١) يعني. زما روح دي قبض نه كړ. او دوباره دي راويبس كړم.(ژباړن)

(٢) مسلم ٢٠٧٣/٤. احمد په خپل لفظ سره ٢/ ٧٩

وكړي، او كه دي مړ كړ، نو بخښنه ورته وكړې، الهي! زه درنه د روغتيا سوال كوم.

١٠٤-٦-[1] «اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ» [ثلاث مرات] [2].

۞ الهي! ستا له عذاب نه مي وساتي په كومه ورځ چي خپل بندګان بيا ژوندي كوي.

[درې ځلې]

١٠٥-٧- «بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ أَمُوتُ وأَحْيَا» [3].

۞ الهي! ستا په نوم سره مرم، او ژوندى

---

(١) پيغمبر ﷺ كله چي به ووده كيده، خپل ښى لاس به يې تر بارخو* لاندي ايښوده، او بيا به يې داسي ويل... باقي حديث.

(٢) ابو داود بلفظه ٣١١/٤، صحيح الترمذي ١٤٣/٣

(٣) بخاري (فتح الباري ١١٣/١١)، مسلم ٢٠٨٣/٤

کیږم.

۱۰۶-۸- «سُبْحَانَ اللّٰهِ» [ثلاثاً وثلاثين] [1].

۞ پاک دی الله جَلَّ جَلَالُهُ. [دري دیرش ځله]

«اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ» [ثلاثاً وثلاثين] [2].

۞ پوره ستاینه ده الله لره. [دري دیرش ځله]

«اللّٰهُ أَكْبَرُ» [ثلاثاً وثلاثين] [3].

۞ الله ډیر لوی دی. [دري دیرش ځله]

۱۰۷-۹- «اللَّهُمَّ رَبَّ السَّموات السَّبْعِ وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ

---

(۱) څوک چې دا اذکار د خوب ځای ته د راتګ په وخت کې ووايي، نو دا هغه لره د یو خادم نه هم غوره دي.
بخاري (فتح الباري ۷/۷۱)، مسلم ۴/۲۰۹۱

(۲) مخکینی تخریج دي وکتل شي.(ژباړن)

(۳) مخکینی تخریج دي وکتل شي.(ژباړن)

الْحَبِّ وَالنَّوَى، ومُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالْفُرْقَانِ. أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ. اللَّهُمَّ أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ، وَأَغْنِنَا مِنَ الْفَقْرِ»[1].

۞ الهي! د اوو آسمانونو پروردګاره! د لوی عرش پروردګاره! زمونږ پروردګاره! او د هر شي* پروردګاره! د دانې* او زړي* چوونکيه! د تورات او انجيل او فرقان نازلونکيه! پناه غواړم په تا سره د هر هغه شي* له شر نه چي تندی* يې تا

(۱) مسلم ۲۰۸۴/۴

نیولی دی[1]، الهي! ته اول يې، له تا نه مخکي څه نشته، او ته آخر يې، له تا نه وروسته څه نشته، او ته (په يقيني دلائلو سره) ښکاره يې، له تا نه بل زيات ښکاره نشته، او ته (د ذات په لحاظ) له (نورو نه) پټ يې، او له تا نه هيڅ شی پټ نه دی[2]، له مونږ نه قرض ليري کړې، او له فقر نه مو (وساتې)، شتمن (مو) کړې.

۱۰۸-۱۰- «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا

---

(۱) يعني. ستا په قبضه او قدرت کي دی.(ژباړن)

(۲) اخيرنی څلور جملي د مفهوم او معنی په لحاظ ترجمه شويدي، نه د الفاظو په لحاظ.
تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي ۳۳۲۲ نمبر حديث، عون المعبود شرح سنن أبي داود ۴۳۹۲ نمبر حديث دي وكتل شي.(ژباړن)

وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا، فَكَمْ مِمَّنْ لاَ كَافِيَ لَهُ وَلاَ مُؤْوِيَ»[1].

۞ ټوله ستاينه هغه الله لره ده چي مونږ ته يې خوراک* او څښاک* راکړي، او له شر نه يې ساتلي يو، او مونږ ته يې د اوسيدو* ځای راکړی، څومره ډير خلک داسي شته چې دوی لره د شر نه ساتونکی، او د اوسيدو ځای ورکونکی نشته.

۱۰۹-۱۱- «اللَّهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، فَاطِرَ السَّموات وَالأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ. أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي،

---

(۱) مسلم ۲۰۸۵/۴

وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْسِي سُوءاً، أَوْ أَجُرَّهُ إِلَى مُسْلِمٍ»[1].

۞ ترجمه يې مخکې شويده. [۸۵ نمبر ذکر دي وګټل شي]

۱۱۰-۱۲- ﴿الم﴾ السجده سورت، او (تبارک الذي) سورت به وايي[2].

۱۱۱-۱۳- [3]«اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ، لاَ

---

(۱) ابو داود ۳۱۷/۴، صحيح الترمذي ۱۴۲/۳

(۲) ترمذي، نسائي، صحيح الجامع ۲۵۵/۴

(۳) کله چې د خوب کولو اراده وکړې نو د لمانځه د اوداسه په شان اودس وکړه، او بيا پر ښي اړخ* پريوزه*، او داسي ووايه: ... الحديث.

مَلْجَا وَلاَ مَنْجَأ مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ»[1].

۞ الهي! ما خپل ځان تا ته تسليم کړ، او خپل کار مي تا ته وسپاره*، او خپل مخ مي تا ته وګرځاوه*، او خپله شا مي تا ته تکيه کړه[2]، پداسي حال کي چي ستا له عذاب نه ډار لرم، او ستا و رحمت ته اميد لرم، بيله تا نه بل هيڅ د نجات او پناه ځای نشته، ايمان مي راوړ ستا پر هغه کتاب چي تا نازل کړی، او ستا پر هغه

---

(۱) پيغمبر ﷺ هغه چا ته چي دا اذکار يې وويل داسي وفرمايل: که چيري مړ شي، نو مسلمان به مړ شي.
بخاري (فتح الباري ۱۱/۱۱۳)، مسلم ۴/۲۰۸۱.
(۲) يعني ټوله تکيه او اعتماد مي پر تا دی.(ژباړن)

پیغمبر چې تا (مونږ ته) استولی دی.

۳۹- په خوب کې له یوې ډډې* نه بلې ډډې ته اوښتلو دعا

۱۱۲- «لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّٰهُ الوَاحِدُ القَهَّارُ، رَبُّ السَموات والأَرْضِ، وما بَيْنَهُما العَزيزُ الغَفَّارُ»[۱].

۞ بیله یو او غالب الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، د آسمانونو او ځمکې او د هغو په مینځ کې مخلوقاتو پروردګار دی، د زور او غلبې څښتن دی، بخښونکی دی.

---

(۱) دا دوعا به هغه وخت وایې چې په شپه کې له یوه اړخ* نه بل اړخ ته واوړې.
حاکم ۵۴۰/۱ صحیح کړی، او ذهبي موافقه ورسره کړیده، نسائي په «عمل الیوم واللیلة» کې، او ابن السني روایت کړیدی، صحیح الجامع ۲۱۳/۴

۳۰- په خوب کي د نا آرامۍ او له ويري سره مخامخ کيدلو دعا

۱۱۳- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ»[۱].

۞ زه پناه غواړم د الله په بشپړ* کلام سره د هغه له غضب او عذاب نه، او د هغه د بندګانو له شر نه، او د شيطانانو له وسوسو نه، او لدې نه چي (شيطانان) ما ته راشي[۲].

---

(۱) ابو داود ۱۲/۴، صحيح الترمذي ۱۷۱/۳.

(۲) يعني ما ته په لمانځه کي يا د قرآن په تلاوت او بل عبادت کي راشي، او فکر مي بلي خوا ته واړوي.(ژباړن)

۳۱- هغه څه چې د خوب ليدو نه وروسته کول پکار دی

۱۱۴-۱- درې ځلې به له چپې خوا نه لاړې توکې[۱].

۲- درې ځلې به له شيطان نه، او د هغه څه له شر نه چې په خوب کې يې ليدلې دی په الله سره پناه غواړې[۲].

۳- خپل خوب به چاته نه وايې[۳].

۴- پر کوم اړخ* چې ويده وې له هغه نه

---

(۱) مسلم ۱۷۷۲/۴

(۲) مسلم ۱۷۷۲/۴،۱۷۷۳

(۳) مسلم ۱۷۷۲/۴

به بل اړخ ته واوړي[1].

۵- که وغواړي نو پورته دي شي او لمونځ* دي وکړي[2].

۳۳- د وترو د قنوت دعا

۱۱۶-۱- «اللَّهُمَّ اهْدِني فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ، فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلاَ يُقْضَى عَلَيْكَ، إِنَّهُ لاَ يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، [وَلاَ يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ]، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ»[3].

---

(۱) مسلم ۱۷۷۳/۴

(۲) مسلم ۱۷۷۳/۴

(۳) څلورو اصحاب السنن، احمد، دارمي، حاکم، او بیهقي روایت کړیدی، او د مربع قوسونو تر مینځ عبارت د بیهقي دی، صحیح الترمذي ۱۴۴/۱، صحیح ابن ماجه ۱۹۴/۱، إرواء

۞ الهي! د هغو کسانو په جمله کي چي تا ورته هدايت کړی، ما ته هم هدايت وکړه، او د هغو کسانو په جمله کي چي تا ورته عافيت ورکړی ما ته هم عافيت راکړې، ما هم له شر نه وساته، او د هغو کسانو په جمله کي چي تا محفوظ کړي، ما هم محفوظ کړه، او څه چي دي راکړي، په هغه کي راته برکت واچوه، او څه چي تا فيصله کړې د هغه د شر نه مي وساته، ځکه همدا ته فيصله کونکی يې، او ستا د حکم څوک دفع کونکی نشته[1]، په رښتيا سره چي

=

الغليل د الباني ليکنه ۲/۱۷۲

(۱) دا جمله د مفهوم او معنی په لحاظ ترجمه شويده.(ژباړن)

ته له چا سره دوستي وکړې، هغه به خوار نشي، او له چا سره چي دښمني وکړې، هغه به عزتمند نشي، ته مبارک ذات يې، او د لويې څښتن يې ای زمونږ پروردګاره.

۱۱۷-۲- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، لاَ أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ»(۱).

۞ الهي زه ستا په رضا سره ستا له غضب* نه پناه غواړم، او ستا په معافی سره ستا له عذاب*

---

(۱) څلورو اصحاب السنن او احمد روايت کړيدی، صحيح الترمذي ۳/۱۸۰، صحيح ابن ماجه ۱/۱۹۴، إرواء الغليل ۲/۱۷۵.

نه پناه غوارم، او له تا نه په تا سره پناه غوارم[1]، ستا (د شان سره لائقه) ثنا* نشم ویلای، ته هماغسي یې چي څنګه تا خپل ځان ستاییلی دی.

۱۱۸-۳- اللّهمّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ، ولكَ نُصَلِّي ونَسجُدُ، وإليكَ نَسعَى ونَحْفِدُ، نَرجُو رَحْمَتكَ، ونَخْشَى عذابَكَ، إنَّ عَذَابَكَ بالكافِرينَ مُلْحَقٌ. اللهمّ إنّا نَستَعِينُكَ، ونَستَغفِرُكَ، ونُثْني عليكَ الخَيْرَ، ولا نَكْفُرُكَ، ونُؤمِنُ بكَ، ونَخْضَعُ لكَ، ونَخْلَعُ مَنْ يَكْفُرُكَ»[2].

---

(۱) له الله جل جلاله نه په الله سره د پناه غوښتلو مقصد: په الله سره دده د جمالي صفاتو لکه غضب، قهر، جبروت او نورو داسي صفاتو له آثارو نه پناه غوښتل دي.(ژباړن)

(۲) بیهقي په «السنن الکبری» ۲/۲۱۱ کي روایت کړی، او اسناد یې صحیح بللی دی، او الباني په ارواء الغلیل ۲/۱۷۰ کي

۞ الهي! خاص ستا عبادت کوو، او خاص تا ته لمونځ او سجده کوو، او خاص تا ته در دانګو* او ګړندي* درځو، ستا د رحمت امید* لرو، او ستا له عذاب نه ویریږو، په رښتیا سره چي ستا عذاب کفارو ته ورکړه شوی دی، الهي! مونږ له تا نه مدد غواړو، او له تا نه بخښنه* غواړو، او ستا په خیر سره ستاینه کوو، او ستا نا شکري نکوو، او پر تا ایمان لرو، او تا ته عاجزي کوو، او له هغه چا نه لیري ځو چي ستا نا شکري کوي.

وایي. او دا اسناد صحیح دی، او هغه پر عمر باندي موقوف دی.

۳۳- د وترو له سلام نه وروسته ذکر

۱۱۹ - «سُبْحَانَ المَلِكِ القُدُّوسُ» [ثلاث مرات والثالثة يجهرُ بها، ويمدُّ بها صوته، يقول:] [«رَبِّ الْمَلاَئِكَةِ وَالرُّوحِ»] (۱).

۞ پاکي ده (د کائناتو) پاچا لره، پوره پاکي، د ملائکو او جبریل پروردګار. [دا به درې ځلې وايې، او په دريم ځل به هغه په لوړ او اوږده آواز سره وايې]

۳۴- د پریشانی او غم (لري کولو) دعا

۱۲۰–۱– «اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ، ابْنُ عَبْدِكَ،

---

(۱) نسائي ۳/۲۴۴، دار قطني او نورو روايت کړيدی، او د مربع قوسونو مينځ کي عبارت د دارقطني ۲/۳۱ زيادت دی، او اسناد يې صحيح دی، زاد المعاد د شعيب الأرنؤوط او عبد القادر الأرنؤوط تحقيق ۱/۳۳۷

ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَو أَنْزَلْتَه فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَداً مِنْ خَلْقِكَ، أَوْ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ، أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي، وَنُورَ صَدْرِي، وَجَلاَءَ حُزْنِي، وَذَهَابَ هَمِّي»[1].

۞ الهي! زه ستا بنده، ستا د بنده زوى، ستا د مينځي* زوى يم، زما تندى* ستا په لاس كي دى، ستا حكم پر ما جاري دى، ستا فيصله زما په حق كي عادلانه* ده، ستا په هغه ټولو نومونو سره له تا نه سوال كوم، چي تا خپله خپل

(١) احمد ٣٩١/١، او البانى هغه صحيح بللى دى.

ځان په هغه نومولی* دی، او یا دي په خپل کتاب کي نازل کړیدی، او یا دي خپل مخلوق نه چا ته ښودلی دی، او یا دي په خپل غیبي علم کي له ځان سره ساتلی دی، (پدي ټولو در نه سوال کوم) چي ته قرآن زما د زړه پسرلی*، او د سینې روښنایي، او د غمونو ورکونکی، او د پریشانیو* ختمونکی وګرځوې.

۱۲۱–۲– «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ» [۱].

---

(۱) بخاري ۱۵۸/۷، پیمغبر ﷺ به دا دعا ډیره ویله. بخاري (فتح الباري ۱۷۳/۱۱) دي وکتل شي.

۞ الهي! زه په تا سره پناه غواړم له پریشانۍ او غم نه، او له کمزورتیا (سستۍ) او لټۍ* نه، او بخیل توب* او بي زړه توب* نه، او د قرض له زیاتیدو او د خلکو له غلبې موندلو نه.

۳۵- د بي قرارۍ دعا

۱۲۲–۱–«لاَ إِلَهَ إِلاّ اللَّهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لاَ إِلَهَ إِلاّ اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لاَ إِلَهَ إِلاّ اللَّهُ رَبُّ السَّموات وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ»[۱].

۞ بل د عبادت وړ* معبود* نشته بیله هغه الله نه چي لوی او حِلْم لرونکي دی ، بل د عبادت وړ* معبود* نشته بیله هغه الله نه چي د

---

(۱) بخاري ۱۵۴/۷، مسلم ۲۰۹۲.

لوی عرش څښتن دی، بل د عبادت وړ* معبود* نشته بیله هغه الله نه چې د آسمانونو او ځمکې پروردګار دی، او د عزتمند عرش پروردګار دی.

۱۲۳-۲- «اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلاَ تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ»[۱].

۞ الهي! زه ستا د رحمت امید لرم، نو زما نفس ته مې د سترګې د رپ* په اندازه هم مه پرېږده، او زما کارونه ټول راته اصلاح کړې، بیله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته.

---

(۱) ابو داود ۳۲۴/۴، احمد ۴۲/۵، او الباني په صحیح ابي داود ۹۵۹/۳ کې د هغه اسناد صحیح بللی دی.

١٢٤-٣- «لاَ إِلَهَ إِلاّ أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنْ الظَّالِمِينَ»[١].

۞ بیله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، پاک یې ته، په ربنتیا سره زه له ظالمانو نه یم.

١٢٥-٤- «اللهُ اللهُ رَبِّي لاَ أُشْرِكُ بِهِ شَيْئاً»[٢].

۞ الله الله زما پروردګار دی، له هغه سره هیڅ شی شریک نه بولم.

٣٦- د دښمن او حکمران* سره مخامخ کیدو* دعا

١٢٦-١- «اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ،

---

(١) ترمذي ٥٢٩/٥، حاکم ٥٠٥/١، او هغه یې صحیح بللی، او ذهبي موافقه ورسره کړیده، صحیح الترمذي ١٦٨/٣

(٢) ابو داود ٨٧/٢، صحیح ابن ماجه ٣٣٥/٢

وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ»[1].

۞ الهي! مونږ تا د دوی مقابلې ته ګرځوو، اوپه تا سره د دوی د شر نه پناه غواړو.

۱۲۷-۲- «اللّٰهُمَّ أَنْتَ عَضُدِي، وَأَنْتَ نَصِيرِي، بِكَ أَجُولُ، وبِكَ أَصُولُ، وَبِكَ أُقَاتِلُ»[2].

۞ الهي! ته زما مټ يې، او ته مې مددګار يې، ستا (په قدرت) سره ګرځم راګرځم، او (په دښمن باندې) حمله کوم، او جنګيږم.

۱۲۸-۳- «حَسْبُنَا ونِعْمَ الوَكِيلُ»[3].

---

(۱) ابو داود ۸۹/۲، حاکم ۱۴۲/۲، او هغه يې صحيح بللی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده.
(۲) ابو داود ۴۲/۳، ترمذي ۵۷۲/۵، صحيح الترمذي ۱۸۳/۳
(۳) بخاري ۱۷۲/۵.

۞ الله مونږ ته بس او كافي دى، او هغه ښه كار ساز دى.

۳۷- د حکمران* د ظلم نه د ويرې دعا

۱۲۹-۱- «اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّموات السَّبْعِ وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، كُنْ لِي جَاراً مِنْ فُلان بن فُلان، وَأَحْزَابه مِنْ خَلائقكَ، أَنْ يَفْرُطَ عَلَيَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ، أَوْ يَطْغَى، عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ، ولا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ»[1].

۞ الهي، اې د اوو آسمانونو پروردګاره! او د لوى عرش پروردګاره! زما لپاره پناهګاه شې

---

(۱) بخاري په «الأدب المفرد» ۷۰۷ نمبر حديث كي روايت كړيدى، او الباني په «صحيح الأدب المفرد» ۵۴۵ نمبر حديث كي هغه صحيح بللى دى.

لدې نه چې فلانکی د فلانکي زوی، او د هغه ډلي -چې ستا د مخلوقاتو نه دي- پر ما زياتی او تجاوز* وکړي، چا ته چې ته پناه ورکړې هغه غالبه دی، او ډيره لويه ده ستاينه ستا، او بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته.

۱۳۰-۲- «اللهُ أَكبرُ، اللهُ أَعَزُّ من خَلْقه جميعاً، اللهُ أَعَزُّ ممَّا أَخافُ وأَحْذَرُ، أَعُوذُ بالله الذي لا إلهَ إلاّ هوَ، المُمْسِكُ السّموات السبْعِ أَن يَقَعْنَ على الأَرْضِ إلاّ بإِذْنه، من شَرِّ عبدِكَ فُلانٍ، وجُنُودهِ وأَتْباعِهِ وأَشْياعِه، منَ الجنّ والإِنْسِ، اللهمّ كُنْ لي جاراً مِنْ شرِّهم، جلّ ثَنَاؤُكَ وعَزَّ جارُكَ،

وتَبارَكَ اسْمُكَ، ولا إلَهَ غَيْرُكَ» [ثلاث مرات][1].

۞ الله ډير لوى دى، الله له خپل ټول مخلوق نه زورور دى، الله له هغه چا نه ډير زورور دى له كوم نه چي زه ويريږم* او خطر احساسوم، په هغه الله سره پناه غواړم كوم چي بيله هغه نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، او (هغه ذات) چي ټينګونكى داوو آسمانونو دى لدې نه چي بې دده له اجازې او حكم نه پر ځمكه راولويږي، (پناه غواړم) ستا د فلانكي بنده له شر نه، او د هغه له انسي او جِني پيرَوانو او

(١) بخاري «الأدب المفرد» ٧٠٨ نمبر حديث كي روايت كړيدى، او الباني په «صحيح الأدب المفرد» ٥۴٦ نمبر حديث كي هغه صحيح بللى دى.

لښکرو نه، الهي! د دوی له شر نه زما لپاره پناهګاه شې، او ډېره لويه ده ستاينه ستا، او مبارک دی نوم ستا، او بيله تا نه د عبادت وړ* معبود* نشته. [درې ځلې*]

۳۸- د ښمن ته ښيرا* کول

۱۳۱- «اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ، سَرِيعَ الْحِسَابِ، اهْزِمِ الأَحْزَابَ، اللَّهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ»[(۱)].

۞ الهي! اې د کتاب نازلونکيه! ای ژر* حساب کونکيه! (د دښمنانو) ډلو ته ماتې* ورکړې، الهي! ته ماتې* ورته ورکړې، او (ځمکه

(۱) مسلم ۱۳۶۲/۳.

يي تر پښو* لاندي) ولړزوي*.

۳۹- د کوم قوم نه چي ويره* لري، دا دعا به وايي

۱۳۲- «اللّٰهُمَّ اكْفِنيهِمْ بِمَا شِئْتَ»[۱]

۞ الهي! څنګه چي ته غواړي هماغسي مي د هغوی له شر نه وساتې.

۴۰- څوك چي ايمان کي شك وکړي دهغه دعا

۱۳۳-۱- په الله سره به پناه غواړي[۲].

۲- کوم شي کي چي شک وي هغه کي به بيا فکر* نکوي[۳].

---

(۱) مسلم ۲۳۰۰/۴

(۲) بخاري (فتح الباري ۳۳۶/۶)، مسلم ۱۲۰/۱

(۳) بخاري (فتح الباري ۳۳۶/۶)، مسلم ۱۲۰/۱

١٣٤-٣- يَقولُ: «آمَنْتُ باللهِ ورُسُلِه»[1].

۞ او وايي به: پر الله او د هغه پر پيغبرانو مي ايمان راوړی دی.

١٣٥-٤- يقرأُ قولَه تعالى: ﴿هُوَ الأَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ [الحديد: ٣][2].

۞ دا آيت به وايي: هغه (يعني الله) اول دی، او آخر دی، او ظاهر دی، او باطن دی، او هغه په هر څه پوه* دی.

---

(١) مسلم ١/١١٩-١٢٠.

(٢) ابو داود ٣٢٩/٤، او الباني په صحيح ابي داود ٩٦٢/٣ کي د هغه اِسناد حَسَن بللی دی.

۴۱- دقرض اداء کولو دعا

۱۳۶-۱- «اللَّهُمَّ اكْفِنِي بِحَلالِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ»[۱].

۞ الهي! ستا په حلالو مي ستا له حرامو وساتې، او ستا په فضل مي بیله تا نه بل چا نه بي نیازه* کړې.

۱۳۷-۲- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ»[۲].

۞ الهي! زه له پریشانۍ او غم نه، او له

---

(۱) ترمذي ۵/۵۶۰، صحیح الترمذي ۳/۱۸۰.

(۲) بخاري ۷/۱۵۸.

کمزورتیا (سستۍ) او لټۍ* نه، او بخیلۍ* او بې زړه توب* نه، او د قرض زیاتیدو او د خلکو له غلبې موندلو نه په تا سره پناه غواړم.

۴۲- په لمانځه او تلاوت کې د وسوسې دعا

۱۳۸- «أَعُوذُ باللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، واتْفُلْ على يِسارِكَ» [ثلاثاً][(۱)].

۞ له رټل شوي شیطان نه په الله سره پناه غواړم.

او بیا دې و چپ* طرف ته (لاړې) تف کړي. [درې ځلې]

---

(۱) مسلم ۱۷۲۹/۴ له عثمان بن ابي العاص ﷺ نه روایت کړیدی، او په هغه کې داسې راغلي دي: ما همداسې وکړه، نو الله ﷻ هغه له ما نه لیرې کړه.

۴۳- چا ته چې يو کار مشکل شي د هغه دعا

۱۳۹- «اللهمّ لا سَهْلَ إلاّ ما جَعَلْتَهُ سَهْلاً، وأنتَ تَجْعَلُ الحَزْنَ إذا شئتَ سَهْلاً»[۱].

۞ الهي! هيڅ آسان شی نشته، مګر هغه چې ته يې آسان کړې، او ته چې وغواړې سخت او ګران آسانوې.

۴۴- څوک چې ګناه وکړي، هغه به داسي کوي

۱۴۰- داسي بنده به نه وي چې ګناه وکړي، او بيا په ښه توګه* اودس وکړي، او بيا

---

(۱) صحيح ابن حبان ۲۴۲۷ نمبر حديث (موارد)، ابن السني ۳۵۱ نمبر حديث، او حافظ وايي: دا حديث صحيح دی. او عبد القادر الأرناؤوط هم هغه د نووي د اذکارو په تحقيق ص ۱۰۶ کي هغه صحيح بللی دی.

پاځیږي* دوه رکعته لمونځ* وکړي، او بیا له الله نه بخښنه وغواړي، مګر دا چي الله به ورته بخښنه او عفو وکړي[(۱)].

۴۵- د شیطان او د هغه د وسوسو د لیري کولو دعاګاني

۱۴۱- په الله جَلَّ جَلالُهُ سره له شیطان نه پناه غوښتل[(۲)].

۱۴۲- آذان کول[(۳)].

۱۴۳- ذکر کول، او د قرآن تلاوت

---

(۱) ابو داود ۸۶/۲، ترمذي ۲۷۵/۲، او الباني په صحیح ابي داود ۲۸۳/۱ کي هغه صحیح بللی دی.
(۲) ابو داود ۲۰۶/۱، ترمذي، صحیح الترمذي ۷۷/۱، او د المؤمنون سورت، ۹۸-۹۹ آیتونه دي وکتل شي.
(۳) مسلم ۲۹۱/۱، بخاري ۱۵۱/۱.

کول[۱].

۴۶- کله چې يې د خوښې خلاف کار پيښ شي، او يا له کوم کار نه عاجز شي، داسې به وايي

۱۴۴– «قَدَّرَ اللهُ وما شاءَ فَعَلَ»[۱].

---

(۱) (پيغمبر ﷺ فرمايي) خپلو کورونو څخه هديرې* مه جوړوی، شيطان له هغه کور نه تښتي چې په هغه کې د بقرې سورت ويل کيږي.
مسلم ۵۳۹/۱. او له هغو شيانو نه چې شيطان شړي* او لرې کوي يې د سهار او ماښام اذکار، د ووده کيدو او ويښيدو اذکار، او کور او مسجد ته ننوتلو او له هغه نه وتلو اذکار، او نور شرعي اذکار لکه آيت الکرسي د خوب په وخت کې، د بقرې د سورت آخيرني دوه آيتونه. او څوک چې «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، وله الحمد، وهو على كل شيء قدير» سل ځلې ووايي، نو دا به په هغه ټوله ورځ کې دده لپاره له شيطان نه د ساتلو وسيله وي. او همدارنګه آذان هم شيطان شړي او لرې کوي يې.

۞ الله (دا کار) په ازلي تقدير کي (همداسي) ليکلی وو، او څنګه چي يې وغوښتل هماغسي يې وکړل.

۴۷- د پيدا شوي ماشوم* مور او پلار ته مبارکي ورکول، او د هغې جواب

١٤٥- «بارَكَ اللهُ لكَ في الموهُوبِ لكَ،

=

(١) (پيغمبر ﷺ فرمايي) قوي مسلمان له کمزوري مسلمان نه الله ته زيات غوره* دی، او په دواړو کي خير شته، په هغه څه حرص او کوښښ وکړه چي تاته ګټه لري، او له الله ﷻ نه مرسته وغواړه، او مه عاجزه کيږه، او که يو څه درته پيښ شي، نو داسي مه وايه: چي که داسي مي کړي وای، نو داسي به شوي وای، بلکه داسي ووايه: چي الله ﷻ (همدا زما) په تقدير کي ليکلي وه، او څه يې چي وغوښتل ويې کړل، ځکه «لَوْ» (يعني: «که چيري» کلمه استعمالول او ويل) دشيطان کارونو ته لاره* خلاصوي*. مسلم ۴/۲۰۵۲.

وشَكرتَ الواهبَ، وبَلَغَ أَشُدَّهُ، ورُزِقْتَ بِرَّهُ»،
ويردّ عليه المُهَنَّأُ فيقول: «بارَكَ اللهُ لكَ وبارَكَ
عليكَ، وجزاكَ اللهُ خيراً، ورَزَقَكَ اللهُ مِثْلَهُ، وأَجْزَلَ
ثَوابَكَ»[1].

۞ الله دي ستا په درکړل شوي (ماشوم)
کي برکت واچوي، او (د هغه) د ورکونکي
شکر اداء کړې، او ماشوم دي خپل قوت ته
ورسيږي، او د هغه نيکي* دي په نصيب شه.

او د ماشوم والدين به په جواب کي داسي
وايي: الله دي تا ته برکت درکړي، او پر تا دي

---

(١) الاذکار د نووي ليکنه ص٣۴٩، صحيح الاذکار د سليم الهلالي
ليکنه ٢/٧١٣

برکت کښېږدي، او الله دي تا ته نیکه جزا (ثواب) درکړي، او همداسي ماشوم دي در په برخه* کړي، او ثواب دي تا ته زیات کړي.

۴۸- د ماشومانو د حفظ او امان لپاره دعا

١٤٦- كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يُعَوِّذُ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ يَقُولُ: «أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لامَّةٍ»[١].

۞ رسول الله ﷺ به د حَسن او حُسین لپاره پناه غوښتله، او داسي به یې ویل[٢]: ستاسو دواړو لپاره زه د الله په کامل کلام سره له هر شیطان،

---

(١) بخاري ١١٩/۴، له ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت کړیدی.

(٢) یعني د هغوی د حفاظت لپاره به یې دا دعا کوله.(ژباړن)

او زهرناک (حیوان) نه، او له هري آفت او ضرر رسونکي سترګي نه پناه غواړم.

۴۹- د بیمار د پوښتني په وخت هغه ته دعا

۱٤۷–۱– «لَا بَأْسَ، طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ»(۱).

۞ څه پروا نشته، (دا بیماري) که الله وغواړي (ستا د ګناهونو) د پاکوالي سبب به وي.

۱٤۸–۲– «أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، أَنْ يَشْفِيَكَ» اسبع مرات(۲).

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۱۰/۱۱۸).

(۲) (پیغمبر ﷺ فرمایي) داسي مریض به نه وي چي اجل یې نه وي راغلی، او یو مسلمان بنده یې پوښتني ته راشي او دا (پورتنی) دعا اووه ځلي ووایي، مګر دا چي روغ به شي.
ترمذي، ابو داود، صحیح الترمذي ۲/۲۱۰، صحیح الجامع ۵/۱۸۰.

۞ له هغه لوی او عظمت والا الله نه سوال کوم چې د لوی عرش څښتن دی، چې تا لره شفا او روغتیا درکړي. [اووه ځلې]

۵۰- د بیمار* د پوښتنې کولو فضیلت

۱۴۹- قال ﷺ: «إذا عادَ الرجُلُ أَخاهُ الْمُسْلِمَ مَشَى فِي خِرَافَة الْجَنَّة حَتَّى يَجْلِسَ، فَإِذَا جَلَسَ غَمَرَتْهُ الرَّحْمَةُ، فَإِنْ كَانَ غُدْوَةً صَلَّى عَلَيْه سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَك حَتَّى يُمْسِيَ، وَإِنْ كَانَ مَسَاءً صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ»[1].

۞ پیغمبر ﷺ فرمایي: کله چې یو سړی

---

(۱) ترمذي، ابن ماجه، احمد، صحیح ابن ماجه ۱/۲۴۴، صحیح الترمذي ۱/۲۸۶، او احمد شاکر هغه صحیح بللی دی.

د خپل (بیمار) مسلمان ورور پوښتنې ته ورځي، نو دی د جنت په میوو کې روان وي تر څو چې کښیني*، کله چې کښیني نو په رحمت کې پټ شي، که (دا وخت) سهار* وي نو اویا زره ملائکې* به ده ته دعا کوي، تر څو چې ماښام* کیږي، او که (دا وخت) ماښام وي، نو اویا زره ملائکې به ده ته دعا کوي تر څو چې سهار کیږي.

۵۱- د ژوند نه نا امیده بیمار* دعا

۱۵۰-۱- «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الأَعْلَى»[۱].

---

(۱) بخاري ۱۰/۷، مسلم ۱۸۹۳/۴

۞ الهي! ما ته بخښنه وکړې، او پر ما رحم وکړې، او د لوړ مقام والا پيغمبرانو سره مي يو ځاى کړې.

۱۵۱-۲- جَعلَ النبيُّ ﷺ عندَ مَوته يُدْخل يَدَيْه في الْمَاء فَيَمْسَحُ بهمَا وَجْهَه ويَقُول : «لاَ إلَه إلاّ اللَّه، إنَّ للْمَوْت لَسَكَرَات»[1].

۞ پيغمبر ﷺ د خپل مرګ په وخت کي خپل لاسونه په اوبو کي وهل او بيا به يي خپل مخ په هغه مسه* کاوه، او ويل به يي: بيله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، په رښتيا سره چي

(۱) بخاري (فتح الباري ۱۴۴/۸)، او په هغه کي د مسواک ذکر هم شويدى.

مرګ ډيري سختی لري.

۱۵۲-۳- «لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّٰهُ وَحْدَهُ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّٰهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّٰهُ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاّ بِاللّٰه»[1].

۞ بيله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، الله ډير لوی دی، بيله يو الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، يو دی، بيله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، يو دی، شريک نلري، بيله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، هغه لره

(۱) ترمذي، ابن ماجه، او الباني هغه صحيح بللی دی، صحيح الترمذي ۱۵۲/۳، صحيح ابن ماجه ۳۱۷/۲

باچاهي ده، هغه لره پوره ستاینه ده، بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، او نشته طاقت او قوت (د ګناه نه د ساتلو* او د نیکیو د کولو) د یو الله په مدد او توفیق سره.

۵۲- څکندن* حالت کې سړي ته یادونه

۱۵۳- (پیغمبر ﷺ فرمایي) د چا چې آخري خبره «لا إله إلا الله» وي، نو جنت ته به داخل شي[۱].

۵۳- چا ته چې مصیبت رسیدلی وي، د هغه دعا

۱۵۴- «إِنَّا لِلّٰه وَإِنَّا إِلَيْه رَاجِعُونَ، اللهمّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيراً مِنها»[۲].

---

(۱) ابو داود ۳/۱۹۰، صحيح الجامع ۴۳۲/۵.

(۲) مسلم ۶۳۲/۲

۞ بې شکه چې مونږ الله لره يو، او هغه ته ورتلونکي يو، اې الله ما ته زما په مصيبت کې اجر راکړې، او د هغه په بدل کې ما ته له هغه نه ښه راکړې.

۵۴- د مړي سترګې بندولو په وخت دعا

۱۵۵- «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِفُلاَنٍ (باسمه) وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ، وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ، وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ، وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ»[1].

۞ اې الله! و فلانکي (نوم به يې واخلي) ته بخښنه وکړې او د هدايت شويو کسانو په جمله

(۱) مسلم ۲/۶۳۴.

کي بې درجه لوړه کړې، او د هغه باز مانده ګانو
لپاره له هغه نه وروسته سرپرست اوسې، او موږ او
ده ته بخښنه وکړې اې د مخلوقاتو پروردګاره! او
قبر يې ورته پراخ، او روښانه* کړې.

۵۵- مړي ته په جنازه کي دعا

۱۵۶-۱- «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّهِ مِنْ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنْ الدَّنَسِ، وَأَبْدِلْهُ دَاراً خَيْراً مِنْ دَارِهِ، وَأَهْلاً خَيْراً مِنْ أَهْلِهِ، وَزَوْجاً خَيْراً مِنْ زَوْجِهِ، وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ، وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ [وعَذَابِ النَّارِ]»[1].

---

(۱) مسلم ۲/۶۶۳.

۞ اې الله! ده ته بخښنه وکړې او رحم پر* وکړې، او عافیت ورله ورکړې، او عفوه ورته وکړې، او غوره میلمستیا یې وکړې، او د داخلیدو ځای یې پراخه کړې، او په اوبو او واوره او ږلۍ سره یې ووینځې، او له ګناهونو نه یې داسي پاک کړې لکه څنګه چې دي سپینه جامه له خیرو* نه پاکه کړیده، او (د دنیا) له کور نه غوره کور، او له کورنۍ نه یې غوره کورنۍ، او له ښځي نه یې غوره ښځه ورکړې، او جنت ته یې داخل کړې، او د قبر له عذاب او د دوزخ له عذاب نه یې وساتې.

١٥٧-٢- «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا، وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ

مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الإِيمَانِ، اللَّهُمَّ لاَ تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ، وَلاَ تُضِلَّنَا بَعْدَهُ»[1].

۞ اې الله، زمونږ ژوندي ته، او مړي ته، او حاضر ته، او غائب ته، او واړه ته، او لوی ته ، او نر ته، او ښځي ته بخښنه وکړې، اې الله! له مونږ نه چي چا ته ژوند ورکړي، نو د اسلام سره ژوند ورکړه، او له مونږ نه چي چا ته مرګ راولې، نو له ایمان سره یې مړ کړې، اې الله! د دې مړي له اجر نه مو مه محرومه وې، او له هغه نه وروسته مو مه ګمراه* کوې.

---

(۱) ابن ماجه ۱/۴۸۰، احمد ۲/۳٦۸، صحیح ابن ماجه ۱/۲۵۱

۱۵۸-۳- «اللَّهُمَّ إِنَّ فُلاَنَ بْنَ فُلاَنٍ فِي ذِمَّتِكَ وَحَبْلِ جِوَارِكَ، فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ، فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ»[۱].

۞ اې الله! په رښتیا سره فلانکی د فلانکي زوی ستا په حفظ او ستا په پناه کي دی، نو د قبر له ازمایش نه، او د دوزخ* له عذاب نه یې وساتې، او ته د وفا او پیمان ښښتن* یې، نو هغه ته بخښنه وکړې، او رحم پر* وکړې، بیشکه ته بخښونکی بي حده مهربان یې.

۱۵۹-٤- «اللَّهُمَّ عَبْدُكَ، وَابْنُ أَمَتِكَ، احْتَاجَ

(۱) ابن ماجه، صحيح ابن ماجه ۲۵۱/۱، ابو داو ۲۱۱/۳

إِلَى رَحْمَتك، وَأَنْتَ غَنِيّ عَنْ عَذَابه، إِنْ كَانَ مُحْسناً فَزِدْ فِي حَسَناته، وَإِنْ كَانَ مُسيئاً فَتَجَاوَزْ عَنْهُ»[1].

۞ الهي! ستا بنده، او ستا د مينځي* زوی دی، ستا رحمت ته محتاج دی، او ته يې له عذابولو نه بې نيازه* يې، که نيک عمله وي نو نيکۍ يې نوري هم زياتي کړې، او که ګنهګاره وي نو عفوه ورته وکړې.

٥٦- ماشوم ته د هغه په جنازه کي دعا

١٦٠-١- «اللَّهُمَّ أَعذْهُ مِنْ عَذَاب الْقَبْرِ»[2]، [وإن قال] «اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ فَرَطاً وذُخْراً

---

(١) حاكم ٣٥٩/١، او هغه يې صحيح بللی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده، احکام الجنائز د الباني ليکنه ص١٢٥

(٢) سعيد بن المسيبب وايي. په ابو هريره پسي مي پر يوه ماشوم

لوالديه، وشَفيعاً مُجَاباً، اللهمّ ثَقِّلْ به مَوَازينَهُما وأَعْظِمْ به أُجُورَهما، وأَلْحِقْهُ بصَالِحِ المُؤْمنينَ، واجعَلْهُ في كَفالة إبراهيمَ، وَقِه برَحْمَتكَ عذَابَ الجَحيم، وأَبْدِلْهُ، داراً خيراً من دارِه، وأهلاً خيراً من أهله، اللهمّ اغْفرْ لأَسْلافنا، وأَفراطنا، ومَنْ سَبَقَنا بالإيمان» [فحسَنٌ](١) .

۞ الهي! د قبر له عذاب نه يې وساتې.

[او كه دا دعا ووايې نو بهتره به وي:]

باندي (د جنازې) لمونځ وكړ، چي هيڅ ګناه يې نه وه كړې، او وامي وريده چي ويل يې... باقي حديث.
مالک په موطا ۱/ ۲۸۸ كې، ابن ابي شيبه په مصنف ۳/ ۲۱۷ ، او بيهقي ۴/ ۹ روايت كړيدى، او شعيب الأرنؤوط د شرح السنة للبغوي په تحقيق ۵/ ۳۵۷ كې د هغه اسناد صحيح بللى دى.

(١) المغني د ابن قدامه ۳/ ۴۱۶، الدروس المهمة لامة الأمة د علامه عبد العزيز بن باز رحمه الله ليكنه ص۱۵.

الهي! ته يې د خپل مور او پلار لپاره مخکښ* او ذخيره، او د قبول شوي شفاعت خاوند وګرځوې، الهي! د ده په ذريعه يې د مور او پلار (د اعمالو) تلې* درنې کړې، او اجرونه يې زيات کړې، او له نيکو مسلمانانو سره يې يو ځای کړې، او د ابراهيم ؈ په ضمانت کې يې وګرځوې، او په خپل رحمت سره يې د دوزخ له عذاب نه وساتې، او (د دنيا) له کور نه غوره کور، او له کورنۍ نه يې غوره کورنۍ ورکړې، الهي! و هغو کسانو ته بخښنه وکړې چې له مونږ نه مخکې تللي دي، او کوم چې له مونږ نه مخکې مومنان تير شوي دي.

۱۶۱-۲- «اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطاً، وَسَلَفاً،

وَأَجْراً»[1].

۞ الهي! ته يې زمونږ لپاره مخكښ*، او اجر (جوړونكى) وګرځوې.

٥٧- د تعزيت دعا

١٦٢- «إِنَّ لِلَّه مَا أَخَذَ، وَلَهُ مَا أَعْطَى، وَكُلّ شيءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى، فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ»[2].

[وإن قال] «أَعْظَمَ اللّٰهُ أَجْرَكَ، وأَحْسَنَ عَزاءكَ،

---

(١) حسن (بصري) به پر ماشوم د فاتحې سورت لوست، او ويل به يې:... باقي حديث.
بغوي په شرح السنة ٥/٣٥٧ كي، عبد الرزاق په مصنف كي په ٦٥٨٨ نمبر حديث كي، او بخاري په كتاب الجنائز كي مُعَلَّق روايت كړيدى، ٦٥ باب قراءة فاتحة الكتاب على الجنازة ٢/١١٣.

(٢) بخاري ٢/٨٠، مسلم ٢/٦٣٦.

وغَفَرَ لِمَيِّتكَ» [فحسن] [1].

۞ الله لره دي څه چي يې واخيستل، او هغه لره دي څه چي ورکوي، او هر څه دده په نزد تر ټاکلي* نيټې* پوري دي... او ښايي چي صبر وکړې او (له الله ﷻ) نه ثواب وغواړې.

او که دا ووايي نو غوره* به وي:

الله دي تا لره لوی اجر درکړي، او تا لره دي ښه تسلي درکړي، او ستا مړي ته دي بخښنه وکړي.

۵۸- د مړي ښخولو وخت کي دعا

۱۶۳- «بِسْمِ اللَّهِ، وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ

---

(۱) الاذکار د نووي ليکنه ص۱۲۶.

اللّه»[1].

۞ د الله په نوم سره، او د پیغمبر ﷺ په سنت (يې قبر ته داخلوو).

۵۹- د مړي ښخولو* وروسته دعا

۱٦٤- «اللَّهُمَّ اغْفِرْ له، اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ»[2].

۞ الهي! هغه ته بخښنه وکړې، الهي! ته يې (په

---

(۱) ابو داود ۳/۳۱۴ په صحيح سند سره، او احمد په دي لفظ سره: «بسم الله وعلى ملة رسول الله» په صحيح سند روايت کړيدی.

(۲) پيغمبر ﷺ به چي کله د مړي له ښخولو نه فارغ شو، نو په قبر به يې ودريد، او ويل به يې: خپل ورور ته (له الله نه) بخښنه وغواړئ، او د هغه لپاره (په سوال وجواب کي) د ثابت قدمی دعا وکړئ، ځکه له هغه نه همدا اوس پوښتنه کيږي.
ابو داود ۳/۳۱۵، حاکم ۱/۳۷۰، او هغه يې صحيح بللی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده.

سوال وجواب کې) ثابت قدمه لرې.

٦٠- د قبرونو د زيارت کولو دعا

١٦٥- «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنْ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ، [وَيَرْحَمُ اللهُ الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنَّا والْمُسْتَأْخِرِينَ]، أَسْأَلُ اللَّهَ لَنَا وَلَكُمْ الْعَافِيَةَ» (١).

۞ اې ددې ځايونو اوسيدونکو مومنانو او مسلمانانو! پر تاسو دې سلام وي، او که ان شاء الله مونږ هم په تاسو پسې يو، او الله جل جلاله دې زمونږ په

---

(١) مسلم ٦٧١/٢، ابن ماجه په پورتنی الفاظو سره ٤٩٤/١ له بريده رضي الله عنه نه روايت کړيدی، او د مربع قوسونو په مينځ کې عبارت د مسلم ٦٧١/٢ روايت دی له عائشه رضي الله عنها نه.

مخکينيو او وروستنيو رحم وکړي، زه ځان لره او تاسو لره له الله ﷻ نه عافيت غواړم.

٦١- د باد (سیلی) الوتلو په وخت دعا

١٦٦-١- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا»[١].

۞ الهي! له تا نه د دې (باد) د خير سوال كوم، او له شر نه يې په تا سره پناه غواړم.

١٦٧-٢- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا فِيهَا وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ»[٢].

---

(١) ابو داود ٣٢٦/٤، ابن ماجه ١٢٢٨/٢، صحيح ابن ماجه ٣٠٥/٢.

(٢) مسلم ٦١٦/٢، بخاري ٧٦/٤.

۞ الهي! زه له تا نه د دې (باد) د خير سوال کوم، او د هغه څه د خير سوال در نه کوم چې په هغه کې دی، او کوم خير چې له ځان سره يې راوړی دی، او په تا سره پناه غواړم د هغه له شر نه، او د هغه څه له شر نه چې په هغه کې دی، او له هغه شر نه چې له ځان سره يې راوړی دی.

۶۳- د تالندي* دعا

۱۶۸– «سُبْحَانَ الَّذِي يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ، وَالْمَلاَئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ» [۱].

---

(۱) عبد الله بن الزبير ﷺ چې به کله د تالندي* آواز واوريده، نو خبرې به يې بندې کړې، او ويل به يې:.. باقي حديث.
موطا ۲/۹۹۲، او الباني وايي: (ددې حديث) اسناد صحيح او موقوف دی.

۞ پاک دی هغه ذات چي تالنده* او ملائکي د هغه له ويري نه د هغه حمد او ثنا او تسبيح وايي.

٦٣- د استسقاء* لپاره څو دعاګاني

١٦٩-١- «اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا مَرِيئًا مَرِيعًا، نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلا غَيْرَ آجِلٍ» [(١)].

۞ الهي! پر مونږ باران وه وروي، نجات ورکونکی، مزه دار، وابنه شنه کونکی، فائده رسونکی، ضرر نه رسونکی، ژر کيدونکی، نه ځنډيدونکی.

١٧٠-٢- «اللَّهُمَّ أَغِثْنَا اللَّهُمَّ أَغِثْنَا اللَّهُمَّ

(١) ابو داود ١/٣٠٣، او الباني په صحيح ابي داود ١/٢١٦ کي هغه صحيح بللی دی.

أَغِثْنَا»[1].

۞ الهي! پر مونږ باران وورووه، الهي! پر مونږ باران وه ورووه، الهي! پر مونږ باران وه ورووه.

۱۷۱-۳- «اللَّهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ، وَبَهَائِمَكَ، وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ، وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ»[2].

۞ الهي! خپل بنده ګان، او خپل څاروي* خړوب کړه، او خپل رحمت خپور کړه، او خپل مړ ښار ژوندی کړه.

۶۴- د باران وریدو په وخت کي دعا

۱۷۲- «اللَّهُمَّ صَيِّباً نَافِعاً»[3].

---

(۱) بخاري ۱/۲۲۴، مسلم ۲/۶۱۳.

(۲) ابو داود ۱/۳۰۵، او الباني په صحيح ابي داود ۱/۲۱۸ هغه حَسَن بللی دی.

(۳) بخاري (فتح الباري ۲/۵۱۸).

۞ الهي! د خير او فائدې باران (يې کړې).

٦٥- د باران اوريدلو وروسته دعا

١٧٣- «مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللَّهِ وَرَحْمَتِهِ»[(١)].

۞ د الله ﷻ په فضل او رحمت سره پر مونږ باران وه وريد.

٦٦- د آسمان شين کيدو دعا

١٧٤- «اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا، اللَّهُمَّ عَلَى الآكَامِ وَالظِّرَابِ وَبُطُونِ الأَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ»[(٢)].

۞ الهي! زمونږ په شاوخوا (يې وه وروه)، او نه پر مونږ باندي، الهي! پر غرو رغونو او د خوړونو په مينځونو، او د ونو شنه کيدلو ځايونو کي يې

---

(١) بخاري ١/٢٠٥، مسلم ١/٨٣.

(٢) بخاري ١/٢٢٤، مسلم ٢/٦١٤

وه ورَوه.

٦٧- د نوي میاشتي لیدو دعا

۱۷۵- «اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللَّهُمَّ أَهلَّهُ عَلَيْنَا بالأَمْنِ وَالإيمَان، وَالسَّلاَمَة وَالإسْلاَم، وَالتَّوْفِيقِ لِمَا تُحِبُّ رَبَّنَا وَتَرْضَى، رَبُّنَا وَرَبُّكَ اللّٰهُ» [1].

۞ الله جَلَّجَلَالُهُ ډیر لوی دی، الهي! ته دغه (نوې میاشت) پر مونږ باندي راوخیژوه، له امن او ایمان سره، او له سلامتیا او اسلام سره، او له توفیق سره وهغه څه ته چي ته یې خوښوې، (اې میاشتي!) زمونږ او ستا پروردګار الله دی.

---

(۱) ترمذي ۵/۵۰۴، دارمي په خپلو الفاظو سره ۱/۳۳٦، صحیح الترمذي ۳/۱۵۷.

٦٨- د روژه ماتي په وخت کي دعا

١٧٦-١- «ذَهَبَ الظَّمَأُ، وَابْتَلَّتْ الْعُرُوقُ، وَثَبَتَ الأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ»[1].

۞ تنده ولاړه*، او رګونه لانده* شول، او که الله جَلَّ جَلَالُهُ وغواړي اجر حاصل شوی دی.

١٧٧-٢- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِرَحْمَتِكَ الَّتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ أَنْ تَغْفِرَ لِي»[2].

۞ الهي! زه ستا په هغه رحمت سره چي هر څه ته رسيدونکی دی، له تا نه سوال کوم چي ماته

---

(١) ابو داود ٣٠٦/٢ او نورو روايت کړيدی، صحيح الجامع ٢٠٩/۴.

(٢) ابن ماجه ٥٥٧/١، له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما د دعاګانو نه يې روايت کړيدی، او حافظ د الاذکار په تخريج کي هغه حَسَن بللی دی، شرح الاذکار ٣۴٢/۴.

بخښنه وکړي.

٦٩- د ډوډۍ خوړلو نه مخکې دعا

۱۷۸-۱- (پیغمبر ﷺ فرمایي) کله چې له تاسو نه څوک خوراک کوي، نو «بِسمِ اللهِ» دې ووایي، او که یې په (د خوراک) په اول کې (بسم الله) هیر شول، نو داسې دې ووایي: «بِسْمِ اللَّه فِي أَوَّلِهِ وَآخِرِهِ» یعني: په اول او آخر کې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نامه (سره خوراک کوم)[1].

۱۷۹-۲- «مَنْ أَطْعَمَهُ اللَّهُ الطَعَامَ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ، وَأَطْعِمْنَا خَيْراً مِنْهُ، وَمَنْ سَقَاهُ اللَّهُ

---

(۱) ابو داود ۳۴۷/۳، ترمذي ۲۸۸/۴، صحیح الترمذي ۱٦۷/۲.

لَبناً فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ، وَزِدْنَا مِنْهُ»[1] .

۞ (پیغمبر ﷺ فرمايي) چا ته چې الله جَلَّ جَلَالُهُ خواړه ورکړي[2] ، نو داسي به وايي: الهي! مونږ ته پدې (خواړو*) کې برکت واچوې، او له هغه نه ښه (خواړه) راکړې.

او په چا چې الله جَلَّ جَلَالُهُ شودې* وځښي*، نو داسي به وايي: الهي! مونږ ته په هغه کې برکت واچوې، او مونږ ته نور هم زيات راکړې.

۷۰- له خوراك نه وروسته دعا

۱۸۰-۱- «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا

(۱) ترمذي ۵۰٦/۵، صحيح الترمذي ۱۵۸/۳ .
(۲) يعني: خوراک وکړي، يا څه وخوري.(ژباړن)

وَرَزَقَنيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلاَ قُوَّةٍ»[1].

۞ پوره ستاينه ده هغه الله لره چي په ما يې دا خواړه* وخوړل، او هغه يې پرته زما د کوم توان او طاقت نه ما ته راکړل[2].

۱۸۱-۲- «الْحَمْدُ للَّه حَمْداً كَثيراً، طَيِّباً، مُبارَكاً فيه، غَيْرَ [مَكْفِيٍّ، وَلاَ] مُوَدَّعٍ، وَلاَ مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنا»[3].

۞ ټوله ستاينه الله لره ده، ستاينه ډيره زياته، پاکه، او با برکته، نه پوره کيدونکې، او نه

---

(۱) بيله نسائي نورو اصحاب السنن روايت کړيدی، صحيح الترمذي ۳/۱۵۹.

(۲) يعني: بيله کوم تکليف او ستړيا نه يي په ډيره آسانی سره ما ته راکړه.(ژباړن)

(۳) بخاري ۲۱۴/۶، ترمذي په خپلو الفاظو سره ۵/۵۰۷.

پريښودونکې، او له هغه نه نه مُستغني* کېدونکې ستاينه، اې زمونږ پروردګاره!.

۷۱- کوربه ته د ميلمه دعا

۱۸۲- «اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ، وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ»[۱].

۞ الهي! تا چې دوی ته څه ورکړي په هغه کې برکت واچوې، او هغوی ته بخښنه وکړې، او پر ورحمېږې.

۷۲- څوک چې په چا اوبه وڅښي، او يا يې د څښولو اراده وکړي، هغه ته دعا

۱۸۳- «اللَّهُمَّ أَطْعِمْ مَنْ أَطْعَمَنِي، وَاسْقِ مَنْ

(۱) مسلم ۱٦۱۵/۳.

سَقَانِي»[1].

۞ الهي! ته خواړه ورکړه هغه چا ته چې ما ته يې خواړه را کړه، او خړوبه کړه* هغه څوک چې زه يې خړوبه کړم.

۷۳- د چا په کور کې د روژه مات په وخت کې دعا

۱۸٤- «أَفْطَرَ عِنْدَكُمْ الصَّائِمُونَ، وَأَكَلَ طَعَامَكُمْ الأَبْرَارُ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمْ الْمَلاَئِكَةُ»[2].

---

(۱) مسلم ۱۲٦/۳.

(۲) ابو داود ۳٦۷/۳، ابن ماجه ۵۵٦/۱، نسائي په «عمل اليوم والليلة» ۲۹٦-۲۹۸ نمبر حديث کې روايت کړيدی، او دا خبره يې په صراحت کړيده چې پيمغبر ﷺ به کله د کوم کوروال سره روژه ماته کړه دا به يې ويل. او الباني په صحيح ابي داود ۷۳۰/۲ کې هغه صحيح بللی دی.

۞ تاسو کره دي روژه دار* روژه ماته کړي، او ستا ډوډۍ دي نیکان* وخوري، او ملائکي دي درته دعا وکړي.

۷۴- د روژه دار* دعا چي کله خواړه حاضر شي او روژه ماته نکړي

۱۸۵- (پیغمبر ﷺ فرمایي) کله چي له تاسو نه څوک دعوت شي، نو دعوت دي قبول کړي، که پې روژه وه، نو دعا دي (ورته) وکړي، او که پې روژه نه وه، نو ډوډۍ دي وخوري[۱].

---

(۱) مسلم ۲/۱۰۵۴.

۷۵- کله چې روژه دار ته څوک بښکنځل* وکړي، نو دى به داسې ورته وايي

۱۸۶- زه روژه یم، زه روژه یم[1].

۷۶- د اولنۍ میوې لیدو دعا

۱۸۷- «اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثَمَرِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا»[2].

۞ الهي! زمونږ په میوه کې راته برکت واچوې، او زمونږ په ښار کې راته برکت واچوې، او زمونږ په «مُدّ» کې راته برکت واچوې، او زمونږ

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۴/۱۰۳)، مسلم ۲/۸۰۶.
(۲) مسلم ۲/۱۰۰۰

په «صاع»[1] کي راته برکت واچوې.

۷۷- د ترَڇيدلو* دعا

۱۸۸- (پيغمبر ﷺ فرمايي) کله چي له تاسو نه څوک وترَڇيږي*، نو ودي وايي: «الْحَمْدُ لِلَّه» يعني: ټوله ستاينه الله لره ده، او هغه بل کس او ملګری به ورته وايي: «يَرْحَمُكَ اللَّهُ» يعني: الله ﷻ دي پر تا رحم وکړي، چي کله يې «يرحمک الله» وويل، نو (هغه بل به ورته) وايي: «يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ»[2] يعني: الله دي تا ته هدايت وکړي، او الله دي ستا احوال او کار سم کړي.

---

(۱) مُد او صاع د وزن دوې پيمانې دي.(ژباړن)

(۲) بخاري ۷/۱۲۵.

۷۸- کله چې کافر وترچیږي داسي به ورته وایي

۱۸۹- «يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ»[۱].

۞ الله دي تاسو ته هدایت وکړي، او الله دي ستاسو احوال او کار سم کړي.

۷۹- واده کونکي ته دعا

۱۹۰- «بَارَكَ اللَّهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ»[۲].

۞ الله دي تا لره برکت درکړي، او پر تا دي برکت وکړي، او تاسو دواړه دي په خیر سره یو

---

(۱) ترمذي ۸۲/۵، احمد ۴۰۰/۴، ابو داود ۳۰۸/۴، صحیح الترمذي ۳۵۴/۲

(۲) بیله نسائي نه نورو اصحاب السنن روایت کړیدی، صحیح الترمذي ۳۱٦/۱.

ځای کړي.

۸۰- د واده کولو او سورلۍ* اخیستلو دعا

۱۹۱- «إِذَا تَزَوَّجَ أَحَدُكُمْ امْرَأَةً، أَوْ إِذَا اشْتَرَى خَادماً فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْه، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَمِنْ شَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْه، وَإِذَا اشْتَرَى بَعِيراً فَلْيَأْخُذْ بِذِرْوَةِ سَنَامِه وَلْيَقُلْ: مِثْلَ ذَلِكَ»[1].

۞ (پیغمبر ﷺ فرمايي) کله چي له تاسو نه څوک له یوې ښځي سره واده وکړي، او یا مرۍ* واخلي، نو داسي به وايي: الهي! زه له تا نه ددې د

(۱) ابو داود ۲۴۸/۲، ابن ماجه ۶۱۷/۱، صحیح ابن ماجه ۳۲۴/۱

خير سوال کوم، او د هغه څه د خير سوال درنه کوم په کوم چې تا هغه پيدا کړيده، او پناه غواړم په تا سره ددې له شر نه، او له هغه شر نه په کوم چې تا هغه پيدا کړيده.

او چې کله اوښ واخلي نو د بوک* څوکه به يې نيسي او مخکينی دعا به وکړي.

۸۱- خپلي ښځي سره کوروالی* نه مخکي دعا

۱۹۲- «بِاسْمِ اللَّه، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا»[۱].

۞ د الله په نوم، الهي! ته مو له شيطان نه ليري کړې، او شيطان (زمونږ) له هغه (اولاد) نه ليري

(۱) بخاري ۶/۱۴۱، مسلم ۲/۱۰۲۸.

کړې چې تا مونږ ته راکړیدی.

۸۲- د قهر او غوسې په وخت دعا

۱۹۳- «أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ»[1].

۞ زه په الله سره له رټل شوي شیطان نه پناه غواړم.

۸۳- د مصیبت زده لیدو په وخت دعا

۱۹٤- «الْحَمْدُ للَّه الَّذي عَافَاني ممَّا ابْتَلاَكَ بِهِ، وَفَضَّلَني عَلَى كَثيرٍ ممَّنْ خَلَقَ تَفْضيلاً»[2].

۞ ټوله ستاینه هغه الله لره ده چې زه یې ساتلی یم له هغه څه نه چې ته یې پرې اخته کړي یې، او ما

---

(۱) بخاري ۹۹/۷، مسلم ۲۰۱۵/۴

(۲) ترمذي ۴۹۳/۵، ۴۹۴/۵، صحیح الترمذي ۱۵۳/۳

ته يې پر خپلو ډېرو مخلوقاتو فضيلت او غوره والى راکړيدى.

۸۴- د مجلس دعا

۱۹۵ – عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ يُعَدُّ لِرَسُول اللّٰه ﷺ فِي الْمَجْلِسِ الْوَاحد مائَةُ مَرَّة منْ قَبْلِ أَنْ يَقُومَ «رَبِّ اغْفرْ لِي، وَتُبْ عَلَيَّ، إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ»[۱].

۞ له ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى چي وايي: پيغمبر ﷺ به په يوه مجلس كي په شمار سل ځلي دا (دعا) ويله: اى ځما پروردګاره! بخښنه

---

(۱) ترمذي او نورو روايت كړيدى، صحيح الترمذي ۱۵۳/۳، صحيح ابن ماجه ۳۲۱/۲ او الفاظ د ترمذي دي.

راته وکړې، او توبه مي قبوله کړې، په رښتيا سره چي ته ښه توبه قبلونکی، ډير بخښونکی يې.

۸۵- د مجلس کفاره*

۱۹۶- «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ»[۱].

۞ الهي! په پاکۍ سره يادوو تا، او پوره ستاينه کوو ستا، زه شاهدي* ورکوم، چي بيله تا نه بل د

---

(۱) اصحاب السنن روايت کړيدی، صحيح الترمذي ۳/۱۵۳، او له عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چي وايي. پيغمبر ﷺ به په هيڅ داسي يو مجلس کي نه کښيناسته، او نه به يې قرآن لوسته، او نه به يې لمونځ کاوه، مګر هغه په دغه (پورتنيو) کلماتو سره ختم کړي.. باقي حديث.
نسائي په «عمل اليوم والليلة» ۳۰۸ نمبر حديث کي، احمد ۶/۷۷ روايت کړيدی، او دکتور فاروق حماده د «عمل اليوم والليلة» په تحقيق ص۲۷۳ کي هغه صحيح بللی دی.

عبادت وړ* معبود* نشته، زه له تا نه بخښنه غواړم، او تا ته توبه کوم.

۸٦- څوك چې چا ته ووايي: «غفر الله لك»[۱] نو هغه ته به داسي وايي

۱۹۷ – «وَلَكَ»[۲].

۞ او تا ته دي هم (الله بخښنه وکړي).

۸۷- څوك چې له تا سره ښه وکړي، هغه ته دعا

۱۹۹ – «جَزَاكَ اللهُ خَيراً»[۳].

۞ الله دي تا لره خير (او نيک اجر) درکړي.

---

(۱) ترجمه: الله دي تا ته هم بخښنه وکړي.(ژباړن)

(۲) احمد ۸۲/۵، نسائي «عمل اليوم والليلة» ص۲۱۸، ۴۲۱ نمبر حديث، د دکتور فاروق حماده تحقيق کي روايت کړيدی.

(۳) ترمذي ۲۰۳۵ نمبر حديث، صحيح الجامع ٦۲۴۴، صحيح الترمذي ۲۰۰/۲.

۸۸- په څه چي د دجال (له فتنې) نه ځان ساتلی شي

۱۹۹- (پيغمبر ﷺ فرمايي) چا چي د کهف د سورت اولني لس آياتونه ياد کړل، له دجال نه به وژغورل* شي[۱].

او (همدارنګه) په هر لمانځه کي د وروستنی ناستي د «التحيات» نه وروسته په الله سره د دجال له فتنې نه پناه غوښتل[۲].

۸۹- څوک چي چا ته ووايي: «إِنِّي أُحِبُّكَ فِي

---

(۱) مسلم ۱/۵۵۵، او په بل روايت ۱/۵۵٦ کي د کهف دسورت آخري (لس) آيتونه ښودل شويدي.

(۲) ددي کتاب ۵۵ نمبر حديث، او ۵٦ نمبر حديث دي وکتل شي.

الله»[1]. **هغه ته به داسي وايي**

٢٠٠ – «أَحَبَّكَ الَّذي أَحْبَبْتَني لَهُ»[2].

۞ هغه ذات دي در سره محبت وکړي چي تا د هغه لپاره زما سره محبت کړيدی.

٩٠- څوک چي خپل مال تا ته وړاندي کړي، هغه ته دعا

٢٠١ – «بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ»[3].

۞ الله دي تاته ستا په عيال او مال کي برکت واچوي.

---

(١) يعني: زه درسره د الله لپاره محبت لرم.(ژباړن)

(٢) ابو داود ٣٣٣/٤، او الباني په صحيح سنن ابي داود ٩٦٥/٣ کي د هغه اسناد حَسَن بللی دی.

(٣) بخاري (فتح الباري ٨٨/۴).

۹۱- د قرض د اداء کولو په وخت قرض ورکونکي ته دعا

۲۰۲- «بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ، إِنَّمَا جَزَاءُ السَّلَفِ الْحَمْدُ وَالأَدَاءُ»[۱].

۞ الله دي تاته ستا په عيال او مال کي برکت واچوي، په رښتيا سره چي د قرض بدله په ستاينه او ادا‌ينه سره وي.

۹۲- له شرك نه د ويري* دعا

۲۰۳- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَأَنَا أَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لاَ أَعْلَمُ»[۲].

---

(۱) نسائي «عمل اليوم والليلة» ص۳۰۰، ابن ماجه ۸۰۹/۲، صحيح ابن ماجه ۵۵/۲

(۲) احمد ۴۰۳/۴ او نورو روايت کړيدی، صحيح الجامع ۲۳۳/۳

۞ الهي! زه په تا سره پناه غواړم لدينه چي زه په پوهه ستا سره شريک جوړ کړم، او بخښنه غواړم له هغه څه نه چي زه پري نه پوهيږم.

۹۳- هغه چا ته دعا چي تا ته ووايي: «بارَكَ اللهُ فيكَ»[1]

۲۰۴– «وَفِيْكَ بَارِكَ اللهُ»[2].

۞ او الله دي په تا کي هم برکت واچوي.

۹۴- د بد شګومن* بد ګڼلو دعا

۲۰۵– «اللَّهُمَّ لاَ طَيْرَ إلاّ طَيْرُك، وَلاَ خَيْرَ إلاّ

، صحيح الترغيب والترهيب د الباني ليكنه ۱۹/۱

(۱) يعني: الله دي په تا کي برکت واچوي.(ژباړن)

(۲) ابن السني ص۱۳۸، ۲۷۸ نمبر حديث، الوابل الصيب د ابن القيم ليکنه ص۳۰۴، د بشير محمد عيون تحقيق.

خَيْرُكَ، وَلاَ إِلَه غَيْرُكَ»[1].

۞ الهي! بد شګومي* يوازې ستا لخوا نه (او ستا په حکم سره) ده، او خير ټول ستا لخوا نه دی، او بيله تا نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته.

۹۵- د سپړيدو دعا

۲۰۶- «بسمِ اللهِ، الحمدُ للهِ ﴿سُبْحانَ الَّذي

(۱) احمد ۲/۲۲۰، ابن السني ۲۹۲ نمبر حديث، او الباني په الأحاديث الصحيحة ۳/۵۴، ۱۰۶۵ نمبر حديث کې هغه صحيح بللی دی.
او نيک فالي د پيغمبر ﷺ خوښيدله، او چې کله به يې له کوم سړي نه ښه خبره واوريده، او خوښه به يې شوه، نو داسې به يې ويل: ستا نيک فال مو ستا له خولې نه واخيست. ابو داود، احمد، او الباني په الأحاديث الصحيحة ۲/۳۶۳ کې هغه د ابو الشيخ په حواله په «أخلاق النبي ﷺ» ص۲۷۰ کې صحيح بللی دی.

سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ﴾ الحمدُ لله، الحمدُ لله، الحمدُ لله، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، سُبْحَانَكَ اللهمّ، إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاّ أَنْتَ»[1].

۞ د الله په نامه سره، الله لره پوره ستاينه ده، پاک دی هغه ذات چي مونږ ته يې دا (سپرلی) تابع کړيده، او مونږ د هغه مهاروونکي* نه يو، او مونږ خپل پروردګار ته بيرته تلونکي يو، الله لره پوره ستاينه ده، الله لره پوره ستاينه ده، الله لره پوره ستاينه ده، الله ډير لوی دی، الله ډير لوی دی، الله ډير لوی دی، په پاکي سره يادوو تا اې الله، ما پر خپل ځان زياتی* کړيدی، نو ماته بخښنه وکړې، چي په رښتيا

(١) ابو داود ٣/٣٤، ترمذي ٥/٥٠١، صحيح الترمذي ٣/١٥٦

سره بيله تا نه بل څوک ګناهونه نشي بخښلای*.

٩٦- د سفر دعا

٢٠٧-«اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، ﴿سُبْحانَ الَّذي سَخَّرَ لَنا هَذا وَما كُنّا لَهُ مُقْرِنينَ وَإِنّا إِلى رَبِّنا لَمُنقَلِبُونَ﴾ اللَّهُمَّ إِنّا نَسْأَلُكَ في سَفَرِنا هَذا الْبِرَّ وَالتَّقْوى، وَمِنَ الْعَمَلِ ما تَرْضى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنا سَفَرَنا هَذا، وَاطْوِ عَنّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصّاحِبُ في السَّفَرِ، وَالْخَليفَةُ في الأَهْلِ، اللَّهُمَّ إِنّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ، وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ في الْمالِ وَالأَهْلِ» [وَإِذا رَجَعَ قالَهُنَّ وَزادَ فيهِنَّ:] «آيِبُونَ، تائِبُونَ، عابِدُونَ، لِرَبِّنا حامِدُونَ»(١).

۞ الله ډير لوى دى، الله ډير لوى دى، الله

---

(١) مسلم ٩٩٨/٢

ډیر لوی دی، الله لره پوره ستاینه ده، پاک دی هغه ذات چي مونږ ته یې دا (سورلۍ) تابع کړیده، او مونږ د هغه مهاروونکي* نه یو، الهي! مونږ پدې سفر کي له تا نه د نیکۍ او پرهیزګارۍ، او دداسي عمل سوال کوو چي تا ته خوښ وي، الهي! ته مونږ ته دا سفر آسانه کړې، او اوږدوالی یې راته لنډ کړې، الهي! ته په سفر کي ملګری، او په کور کي سرپرست یې، الهي! زه په تا سره پناه غواړم د سفر د سختۍ نه، او له خوار حالت نه، او مال او عیال ته له ناوړه* بیرته ستنیدو* نه.

او چي کله له سفر نه بیرته راستنیدونکی وي نو همدا دعا به وایي، او ورسره به دا هم وایي: بیرته راتلونکي، توبه ایستونکي، عبادت کونکي، د خپل

پروردګار ستايونکي* يو.

۹۷- کلي يا ښار ته ننوتلو دعا

۲۰۸- «اللهمّ ربَّ السموات السبعِ وما أَظْلَلْنَ، وربَّ الأَرَضِينَ السَّبعِ وما أَقْلَلْنَ، وربَّ الشياطِينِ وما أَضْلَلْنَ، وربَّ الرِّياحِ وما ذَرَيْنَ، أَسأَلُكَ خيرَ هذه القَرْيَةِ، وخيرَ أهلِها، وخيرَ ما فيها، وأَعُوذُ بِكَ مِنْ شرِّها، وشرِّ أَهْلِها، وشرِّ ما فيها» (۱).

۞ الهي! د اوو آسمانونو او د هغو تر سيوري* لاندي (مخلوقاتو) پروردګاره!، او د اوو ځمکو او

(۱) حاکم ۲/۱۰۰، او هغه يې صحيح بللی دی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده، ابن السني ۵۲۴ نمبر حديث، او حافظ د الاذکار په تخريج ۱۵۴/۵ کي هغه حَسَن بللی دی، او ابن باز وايي. نسائي هغه په حَسَن سند سره روايت کړيدی، تحفة الاخيار ص۳۷

د هغو برسیره (مخلوقاتو) پروردګاره! او د شیطانانو او په هغوی سره ګمراه شویو (مخلوقاتو) پروردګاره! او د بادونو* او په هغوی سره د الوُزَوَل شویو (مخلوقاتو) پروردګاره! زه ددې کلي خیر، او د هغه د اوسیدونکو خیر، او د هغه څه خیر درنه غواړم کوم چي په هغه کي دي، او په تا سره پناه غواړم د هغه له شر نه، او د هغه د اوسیدونکو له شر نه، او د هغه څه له شر نه کوم چي په هغه کي دي.

۹۸- بازار ته ننوتلو دعا

۲۰۹- «لاَ إِلَهَ إلاّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لاَ

يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»[1].

۞ بيله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، يو دی، شريک نلري، هغه لره پاچاهي او غوره ستاينه ده، ژوند ورکوي، او مرګ راولي، او هغه (هميشه) ژوندی دی، مرګ نلري، خير دده په لاس کي دی، او هغه پر هر څه قادر او برلاسی دی.

۹۹- د سپرلی غورځېدو په وخت دعا

۲۱۰- «بِسمِ اللّٰه»[2].

۞ د الله په نامه سره.

---

(۱) ترمذي ۲۹۱/۵، حاکم ۵۳۸/۱، او الباني په صحيح ابن ماجه ۱۲/۲، او په صحيح الترمذي ۱۵۲/۳ کي هغه حَسَن بللی دی.

(۲) ابو داود ۲۹٦/۴، او الباني په صحيح ابي داود ۹۴۱/۳ کي هغه صحيح بللی دی.

۱۰۰- د مسافر دعا و مُقیم* ته

۲۱۱- «أَسْتَوْدِعُكُمُ اللَّهَ الَّذِي لاَ تَضِيعُ وَدَائِعُهُ»[۱].

۞ هغه الله ته دي سپارم، چي هغه ته سپارل شوي نه ضائع* کیږي.

۱۰۱- د مقیم* دعا مسافر ته

۲۱۲-۱- «اسْتَوْدِعْ اللَّهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ»[۲].

۞ زه ستا دین، او ستا امانت، او ستا د کارونو انجام* الله ته سپارم.

۲۱۳-۲- «زَوَّدَكَ اللَّهُ التَّقْوَى، وَغَفَرَ ذَنْبَكَ،

---

(۱) احمد ۴۰۳/۲، ابن ماجه ۹۴۳/۲، صحیح ابن ماجه ۱۳۳/۲

(۲) احمد ۷/۲، ترمذي ۴۹۹/۵، صحیح الترمذي ۱۵۵/۲

وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ حَيْثُ مَا كُنْتَ»[1].

ﷺ الله دي در ته د پرهيزګارۍ توښه درکړي، او الله دي ستا ګناه وبخښي، او چيرته چې يې (الله دي) درته نيکي آسانه کړي.

۱۰۲- په سفر کې تکبير او تسبيح

۲۱۴- جابر ﷺ وايي: کله چې به پورته ختو نو «اللهُ أَكْبَرُ» به مو وايل، او کله چې به ښکته کيدو نو «سُبْحَانَ اللهِ» به مو ويل[2].

۱۰۳- د سهار* په وخت د مسافر دعا

۲۱۵- «سَمِعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللَّهِ وَحُسْنِ بَلائِهِ عَلَيْنَا، رَبَّنَا صَاحِبْنَا، وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا، عَائِذاً بِاللَّهِ مِنْ

---

(۱) ترمذي، صحيح الترمذي ۱۵۵/۳.

(۲) بخاري (فتح الباري ۱۵۳/۶).

النَّارِ»[1]

۞ يو شاهدي ورکونکي (زمونږ) پر ستاينه الله لره، او پر مونږ باندي د هغه د ښو نعمتونو شاهدي ورکړه، اې پروردګاره! زمونږ مل* اوسه، او خپل (بې شماره) نعمتونه (په خپل فضل سره) مونږ ته

---

(۱) مسلم ۲۰۷٦/۴، او د «سَمِعَ سَامِعٌ» معنی داده: شاهدي ورکړه شاهدي ورکونکي پر ستاينه زمونږ الله لره، او دده پر ښو نعمتونو او ابتلا باندي، او د «سَمَّعَ سَامِعٌ» (د روايت) معنی داده: اوريدونکي زما دا خبره نورو ته ورسوله، او دا بې ځکه وويل تر څو د سهار په وخت ذکر او دعا کولو ته اشاره وکړي، او «رَبَّنَا صَاحِبْنَا، وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا» معنی داده: مونږ (په خپل) حفظ او امان کي ونيسه، او ساتنه مو وکړه، او خپل بې شماره نعمتونه په خپل فضل سره مونږ ته راکړه، او له مونږ نه هر رنګه تکليف او ضرر ليري کړه. شرح النووي ۳۹/۱۷.

راکړه، پناه غواړم[1] په الله سره (د دوږخ) له اور نه.

۱۰۴- په سفر يا پرته له سفر نه په يو ځای کي د کوزيدلو او ودريدلو دعا

۲۱۶- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ»[2].

۞ د الله په بشپړ* کلام سره د هغه څه له شر نه پناه غواړم چي (الله) پيدا کړيدي.

۱۰۵- د سفر نه د ستنيدو دعا

۲۱۷- يُكَبِّرُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ ثَلاَثَ تَكْبِيرَاتٍ، ثُمَّ يَقُولُ: «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ

(۱) حال په معنی د مصدر دی، او (اعوذ) مقدر دی.(ژباړن)
(۲) مسلم ۴/۲۰۸۰

الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ، تَائِبُونَ، عَابِدُونَ، لِرَبِّنَا حَامِدُونَ، صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ»[1].

۞ پر هر لوړ* ځای به درې ځلي «الله اکبر» وایي، او بیا به دا دعا کوي: بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، یو دی، شریک نلري، هغه لره پاچاهي او غوره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر* دی، مونږ بیرته راتلونکي، توبه ایستونکي، عبادت کونکي، یوازي د خپل پروردګار ستایونکي* یو، الله خپله وعده رښتونې* کړه، او د خپل بنده مرسته یې

---

(١) پیغمبر ﷺ به چي کله له کومي غزا او یا حج نه بیرته راغی نو دا اذکار به یې ویل.
بخاري ١٦٣/٧، مسلم ٩٨٠/٢

وکړه، او په یوازي* يي (د کفارو) ډلو ته ماتي ورکړه.

۱۰۶- د خوشحالۍ او یا خواشینۍ کار پیښیدو په وخت کي دعا

۲۱۸- كَانَ ﷺ إذَا أَتاهُ الأمرُ يَسُرُّهُ قَالَ: «الْحَمْدُ للَّه الَّذي بنعْمَته تَتمُّ الصَّالحَاتُ»، وَإذَا أَتاهُ الأَمْرُ يَكْرَهُهُ قَالَ: «الْحَمْدُ للَّه عَلَى كُلِّ حَالٍ»[۱].

۞ پیغمبر ﷺ ته چي به کله خوشحالونکی کار مخي ته راغی، نو داسي به يې ویل: پوره ستاینه هغه الله لره ده چي په نعمت سره يې نیک کارونه سر ته

---

(۱) ابن السني په «عمل اليوم والليلة» ۴۹۹/۱ کي هغه روایت کړی، او صحیح بللی دی، او الباني هم په صحیح الجامع ۲۰۱/۴ کي هغه صحیح بللی دی.

رسيږي.

او چي کله به ناخوښه کار ورته پيښ شو، نو داسي به يې ويل: پوره ستاينه الله لره ده په هر حال کي.

۱۰۷- پر پيغمبر ﷺ د درود ويلو فضيلت

۲۱۹-۱- قال ﷺ: «مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلاَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْراً»[۱].

۞ پيغمبر ﷺ فرمايي: څوک چي پر ما يو درود ووايي، نو الله به پر هغه لس ځلي رحمت وليږي.

۲۲۰-۲- وقال ﷺ: «لاَ تَجْعَلُوا قَبْرِي

(۱) مسلم ۱/۲۸۸.

عيداً، وصَلُّوا عَليَّ، فَإِنَّ صَلاَتَكُمْ تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنتُمْ»[1].

۞ او ﷺ فرمايي: زما قبر نه ميله مه جوړوی، او پر ما درود ووايی، ځکه ستاسو درود -هر چيري چي ياست- ما ته رسيږي.

۲۲۱-۳- وقال ﷺ: «الْبَخِيلُ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ»[2].

۞ او ﷺ فرمايي: بخيل* هغه دی، چي زه دده په وړاندي ياد شم، او پر ما درود ونه وايي.

---

(۱) ابو داود ۲/۲۱۸، احمد ۲/۳۶۷، او الباني په صحيح ابي داود ۲/۳۸۳ کي هغه صحيح بللی دی.

(۲) ترمذي ۵/۵۵۱ او نورو روايت کړيدی، صحيح الجامع ۳/۲۵ صحيح الترمذي ۳/۱۷۷.

۲۲۲-٤- وقال ﷺ: «إِنَّ للّٰه مَلاَئِكَةً فِي الأَرْضِ سَيَّاحِينَ يُبَلِّغُونِي مِنْ أُمَّتِي السَّلاَمَ»[1].

۞ او ﷺ فرمايي: الله لره په ځمكه كي ګرځندويه* فرښتې* دي، چي زما د امت سلام ما ته رسوي.

۲۲۳-٥- وقال ﷺ: «مَا مِنْ أَحَد يُسَلِّمُ عَلَيَّ إِلاَّ رَدَّ اللّٰهُ عَلَيَّ رُوحِي حَتَّى أَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلاَمَ»[2].

۞ او فرمايي: هيڅوک پر ما سلام نه كوي، مګر الله جل جلاله زما روح ما ته بيرته راكړي، تر څو

---

(۱) نسائي، حاكم ۲/۴۲۱. او الباني په صحيح النسائي ۱/۲۷۴ كي هغه صحيح بللى دى.

(۲) ابو داود ۲۰۴۱ نمبر حديث، او الباني په صحيح ابي داود ۱/۳۸۳ كي هغه صحيح بللى دى.

د هغه د سلام جواب* ورکړم.

۱۰۸- سلام خپرول*

۲۲۴-۱- قال ﷺ: «لاَ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلاَ تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَ لاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ، أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ»[۱].

۞ پیغمبر ﷺ فرمایي: جنت ته نشی تللای تر څو مومنان نه شی، او مومنان نشی کیدلای تر څو خپل مینځونو کي مینه محبت ونلری، نو زه تاسو ته داسي یو شی* ونه ښایم چي که وکړی، په خپلو مینځونو کي به مو مینه محبت پیدا شي؟ خپلو مینځونو کي سلام خپور کړی[۲].

---

(۱) مسلم ۱/۷۴ او نورو روایت کړیدی.

(۲) یعني: یو په بل باندي همیشه سلام کوی.(ژباړن)

٢٢٥-٢- (قال ﷺ): «ثَلاَثٌ مَنْ جَمَعَهُنَّ فَقَدْ جَمَعَ الإِيمَانَ: الإِنْصَافُ مِنْ نَفْسِكَ، وَبَذْلُ السَّلاَمِ لِلْعَالَمِ، وَالإِنْفَاقُ مِنْ الإِقْتَارِ»[1].

۞ (پيغمبر ﷺ فرمايي): دري داسې (صفتونه) دي، چا چي هغه ټوله ولرل نو پوره ايمان يې حاصل كړ (هغه دادي): په خپل ځان كي انصاف لرل، په ټولو (خلكو) سلام كول، او د بي وزلتوب* په حالت كي مصرف كول.

٢٢٦- وعَنْ عَبْد اللَّه بْنِ عُمَر رضيَ اللّهُ عنهما: أَنَّ رَجُلاَ سَأَلَ النَّبِيَّ ﷺ أَيُّ الإِسْلاَمِ خَيْرٌ قَالَ: «تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقْرَأُ السَّلاَمَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ

---

(١) بخاري (فتح الباري ٨٢/١) له عمار رضي الله عنه نه موقوف او معلق روايت كړيدی.

تَعْرِفْ»[1].

۞ او د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی: چي يوه سړي له پيغمبر ﷺ نه پوښتنه* وکړه چي کوم اسلام غوره دی؟[2] (پيغمبر ﷺ) وفرمايل: دا چي (د الله په لار کي) ډوډی ورکړې، او سلام وکړي پر هغه چا چي پيژني يې او که يې نه پيژني.

۱۰۹- د کافر د سلام جواب به څنګه ورکوي

۲۲۷- «إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الْكِتَابِ فَقُولُوا: وَعَلَيْكُمْ»[3].

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۱/۵۵)، مسلم ۱/۶۵
(۲) يعني: په اسلام کي کوم کار له نورو نه غوره دی.(ژباړن)
(۳) بخاري (فتح الباري ۱۱/۴۲)، مسلم ۴/۱۷۰۵.

۞ کله چي اهل کتاب (يهود او نصارى) په تاسو سلام وکړي، نو تاسو (په جواب کي) ورته ووایاست: (وعلیکم)، یعني: او په تاسو هم.

۱۱۰- د چرګ* د آذان، او د خره د هنګاري* په وخت دعا

۲۲۸- «إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ؛ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكاً، وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ؛ فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَاناً»[۱].

۞ (پیغمبر ﷺ فرمايي) کله چي د چرګ* آذان واورى، نو د الله د هغه د فضل سوال وکړى، ځکه هغه (د آذان په وخت) ملائکه* ليدلې وي، او

(۱) بخاري (فتح الباري ۶/۳۵۰)، مسلم ۴/۲۰۹۲.

چي کله د خره هنګار واورئ، نو په الله سره له شیطان نه پناه وغواړئ، ځکه چي هغه (د هنګاري په وخت) شیطان لیدلی وي.

۱۱۱- په شپه کي د سپیو د غپلو اوریدو په وخت دعا

۲۲۹- «إِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الْكِلاَبِ وَنَهِيقَ الْحَمِيرِ بِاللَّيْلِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْهُنَّ؛ فَإِنَّهُنَّ يَرَيْنَ مَا لاَ تَرَوْنَ»[۲].

۞ (پیغمبر ﷺ فرمایي) کله چي په شپه کي د سپیو غپل، او د خرو هنګارئ واورئ، نو په الله سره

(۱) ابو داود ۴/۳۲۷، احمد ۳/۳۰۶، او الباني په صحیح ابي داود ۳/۹۶۱ کي هغه صحیح بللی دی.

له هغو نه پناه وغواړی، ځکه هغوی داسي څهویني چي تاسو يې نه وينی.

۱۱۲- څوک چي دي ښکنځلی وي هغه ته دعا

۲۳۰- قال ﷺ: «اللّٰهُمَّ فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَبَبْتُهُ فَاجْعَلْ ذَلِكَ لَهُ قُرْبَةً إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۱].

۞ الهي! کوم مومن ته چي ما کنځلی دی، نو هغه ورته د قیامت په ورځ و ځانته د نژدیکت سبب وګرځوې.

۱۱۳- د بل مسلمان ستایلو په وخت به داسي وایي

۲۳۱- قال ﷺ: «إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ مَادِحاً

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۱۷۱/۱۱)، مسلم ۲۰۰۷/۴، او د مسلم الفاظ دادي: «فاجعلها له زكاة ورحمة» یعني: هغه دده لپاره د پاکوالي او رحمت سبب وګرځوې.

صَاحِبَهُ لاَ مَحَالَةَ فَلْيَقُلْ: أَحْسِبُ فُلاَنًا –وَاللَّهُ حَسِيبُهُ وَلاَ أُزَكِّي عَلَى اللَّهِ أَحَدًا–، أَحْسِبُهُ –إِنْ كَانَ يَعْلَمُ ذَاكَ– كَذَا وَكَذَا»[1].

۞ (پیغمبر ﷺ فرمایي) کله چي له تاسو نه څوک د خپل ملګري هرومرو* صفت کول غواړي، نو داسي دي ووایي: زه (په فلاني) همداسي ګمان کوم، او الله ﷻ د هغه په حال ښه خبر دی[2]، او د الله په وړاندي د هیچا تزکیه* او د هغه په سپېڅلتیا* حکم نه کوم[3]، زه په هغه داسي

---

(۱) مسلم ۲۲۹۶/۴.

(۲) دا د اصلي جملي لازمي معنی ده، او له ترجمې سره مناسبه ده.(ژباړن)

(۳) یعني: د هیچا په زړه نه یم خبر، او په زړونو عالم یو الله دی.(ژباړن)

داسي گمان کوم، (دا په هغه وخت کي) چي د هغه نه خبر وي.

۱۱۴- کله چي د يو مسلمان صفت وشي، نو هغه به داسي وايي

۲۳۲- «اللَّهُمَّ لاَ تُؤَاخِذْنِي بِمَا يَقُولُونَ، وَاغْفِرْ لِي مَا لاَ يَعْلَمُونَ [وَاجْعَلْنِي خَيْرًا مِمَّا يَظُنُّونَ]»[1].

۞ الهي! ته ما په هغه څه مه نيسه* چي دوی بې (زما په باره کي) وايي، او ما ته د هغه څه بخښنه وکړې چي دوی پري خبر ندي، او دوی چي په ما

(۱) بخاري په الادب المفرد ۷۶۱ نمبر حديث کي روايت کړی، او الباني په صحيح الادب المفرد ۵۸۵ نمبر حديث کي هغه صحيح بللی دی، او د مربع قوسونو تر مينځ عبارت د بيهقي زيادت دی په شعب الإيمان ۲۲۸/۴ کي له بلي طريقې نه.

څه ګمان کوي له هغه نه مي غوره وګرځوې.

۱۱۵- په حج او عمره کي به مُحرم لبيک څنګه واي

۲۳۳- «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لاَ شَرِيكَ لَكَ»[۱].

۞ الهي! ستا حکم مَنَلو ته تيار يو، تا لره شريک نشته، ستا حکم مَنَلو ته تيار يو، په رښتيا سره چي ټوله ستاينه او د نعمت (شکر) او پاچاهي تا لره ده، تا لره هيڅ شريک نشته.

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۳/۴۰۸)، مسلم ۲/۸۴۱.

۱۱٦- حجر اسود ته د رارسيدلو په وخت «الله اکبر» ويل

٢٣٤- طَافَ النَّبيُّ ﷺ بِالْبَيْت عَلَى بَعيرٍ كُلَّمَا أَتَى الرُّكْنَ أَشَارَ إِلَيْه بِشَيْءٍ عِنْدَهُ وَكَبَّرَ»[1].

۞ پيغمبر ﷺ د كعبې نه يې طواف وكړ، او چې كله به حجر اسود ته راورسيد، نو هغې ته به يې په كوم شي* چې ورسره وو اشاره وكړه او «اللّٰه أَكبرُ» به يې ووايه.

۱۱۷- د ركن يماني او حجر اسود په مينځ كي دعا

٢٣٥- «رَبَّنَآ ءاتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي

(۱) بخاري (فتح الباري ۴۷٦/۳)، او له شي نه مراد لښته* ده، بخاري (فتح الباري ۴۷۲/۳) دي وكتل شي.

الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»[1].

۞ اې زموږ پروردګاره! موږ ته په دنیا کې نیکي راکړې، او په آخرت کې نیکي راکړې، او د دوږخ له عذاب نه مو وساتې.

۱۱۸- صفا او مروا باندې د ودریدو دعا

۲۳۶- لَمَّا دَنَا ﷺ مِنْ الصَّفَا قَرَأَ ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ﴾ أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللَّهُ بِهِ»، فَبَدَأَ بِالصَّفَا فَرَقِيَ عَلَيْهِ حَتَّى رَأَى الْبَيْتَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، فَوَحَّدَ اللَّهَ وَكَبَّرَهُ، وَقَالَ: «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ

---

(۱) ابو داود ۲/۱۷۹، احمد ۳/۴۱۱، او بغوي په شرح السنة ۷/۱۲۸ کې روایت کړیدی، او الباني په صحیح ابي داود ۱/۳۵۴ کې هغه حَسَن بللی دی، او آیت د سورت بقره ۲۰۱ آیت دی.

قَدِيرٌ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ»، ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذَلِكَ، قَالَ مِثْلَ هَذَا ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، الحديث، وفيه: فَفَعَلَ عَلَى الْمَرْوَةِ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا[1].

۞ كله چي به پيغمبر ﷺ و «صفا» ته نژدې شو، نو دا آيتونه به يې ويل: په رښتيا سره چي «صفا» او «مروا» د الله ﷻ (د عبادت) له نښو نښانو نه دي، په هغه څه شروع كوم په كوم چي الله شروع كړيده[2]، نو په «صفا» يې شروع وكړه، او په هغې باندي وخوت* تر څو چي يې كعبه وليدله،

---

(۱) مسلم ۲/۸۸۸.

(۲) يعني: كوم شی چي الله ﷻ په مخكيني آيت كي اول ذكر كړيدی، او هغه «صفا» ده.(ژباړن)

نو بیا به يې مخ قبلې ته کړ، او د توحيد کلمه او
تکبير به يې ووايه، او داسې به يې ويل: بيله* الله نه
بل د عبادت وړ* معبود* نشته، يو دی، شريک
نلري، هغه لره پاچاهي او پوره ستاينه ده، او هغه پر
هر څه قادر* دی، بيله الله نه بل د عبادت وړه
څوک نشته، يو دی، خپله وعده يې پوره کړه، او د
خپل بنده سره يې مرسته وکړه، او (د کفارو) ډلو ته
يې يوازې ماتې ورکړه، او بيا به يې ددې (کلماتو) په
مينځ کې دعا وکړه، درې ځلې به يې داسې
وويل... د حديث تر آخره پورې.

او په نومړي* حديث کې راغلي دي: چې په
«مروا» کې به يې هم د صفا په شان (دعاګانې او
اذکار) ويل.

۱۱۹- د عرفات په ورځ دعا

۲۳۷- [قال ﷺ] «خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ، وَخَيْرُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» (۱).

۞ (پیغمبر ﷺ فرمایي) له ټولو نه غوره دعا د عرفات په ورځ دعا ده، او له ټولو نه غوره (ذکر) چي ما او له ما نه مخکي نورو پیغمبرانو ویلی دی (دادی): بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، یو دی، هیڅ شریک نلري، هغه لره پاچاهي ده، او

---

(۱) ترمذي، او الباني په صحیح الترمذي ۱۸۴/۳ کي، او په الأحادیث الصحیحة ۶/۴ کي هغه حَسَن بللی دی.

هغه لره غوره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر دی.

۱۴۰- د مشعر حرام[1] ذکر

۲۳۸- «رَكِبَ ﷺ الْقَصْوَاءَ حَتَّى أَتَى الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ، فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَدَعَاهُ، وَكَبَّرَهُ، وَهَلَّلَهُ، وَوَحَّدَهُ، فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفاً حَتَّى أَسْفَرَ جِدّاً، فَدَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ»[2].

۞ پیغمبر ﷺ پر (خپلي اوښي) «قَصْوَاء» باندي سپور شو، تر څو چي مشعر حرام ته راغی، نو قبلي ته به یې مخ کړ، او دعا یې وکړه، او «الله أكبر»، او «لا إله إلا الله»، یې ووایه او الله جَلَّ جَلَالُهُ یې

(۱) یعني: مزدلفه.(ژباړن)
(۲) مسلم ۲/۸۹۱.

په وحدانیت یاد کړ، او تر هغه پوري ولاړ وو تر څو چي له لمر ختو نه مخکي روښنایي ښه زیاته شوه.

۱۲۱- (د شیطانانو ویشتلو په وخت) د هري شګي* ویشتلو سره «الله اکبر» ویل

۲۳۹- «يُكَبِّرُ كُلَّمَا رَمَى بِحَصَاة عِندَ الجمار الثلاث، ثُمَّ يَتَقَدَّمُ، ويَقِفُ يَدعُو مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَة رَافِعاً يَدَيْه بعدَ الجَمرةِ الأُولَى والثانيَة، أمَّا جَمْرَةُ الْعَقَبَة فَيَرْمِيهَا ويُكَبِّرُ عِنْدَ كُلِّ حَصَاةٍ ويَنْصَرِفُ وَلا يَقِفُ عِنْدَهَا»[۱].

❁ د درو جمرو* ویشتلو په وخت چي هره

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۳/۵۸۳، ۳/۵۸۴)، او الفاظ يې هلته وکتل شي، بخاري (فتح الباري ۳/۵۸۱) وکتل شي، او مسلم هم روایت کړیدی.

شکه* ولي نو «الله اکبر» به وايي، او بيا به لږ وړاندي ځي، او درېږي به او قبلې ته به مخامخ لاسونه پورته کوي او دعا به کوي، دا د لومړۍ او دوهمي جمرې* نه وروسته، اما درېمه جمره چي کومه ده، هغه به وُلي، او د هري شکي* سره به «الله اکبر» وايي، او بيا به ځي او د هغې سره به (د دعا لپاره) نه درېږي.

۱۳۳- د تعجب او خوشحالونکي کار پېښېدو په وخت دعا

۲٤۰– «سُبْحانَ اللهِ»[۱].

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۱/۲۱۰، ۳۹۰، ۴۱۴)، مسلم ۴/۱۸۵۷

۞ الله لره توله پاکي ده.

۲٤۱- «اللهُ أكبرُ»[1].

۞ الله ډير لوی دی.

۱۳۳- چا ته چي خوشحالونکی خبر راشي، نو څه به کوي

۲٤۲- كَانَ النبيُّ ﷺ إذَا أَتَاهُ أَمْرٌ يَسُرُّهُ أَوْ يُسَرُّ بِهِ خَرَّ سَاجِداً شُكْراً لِلَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى[2].

۞ پيغمبر ﷺ ته چي به کله داسي خبر راغی چي په هغه به خوشحاليده، او يا د بل چا لپاره د

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۸/٤٤١)، صحيح الترمذي ۲/۱۰۳، ۲/ ۲۳٥، مسند احمد ٥/۲۱۸.

(۲) بيله نسائي نورو اصحاب السنن روايت کړيدی، صحيح ابن ماجه ۱/۲۳۳، اِرواء الغليل ۲/۲۲٦.

خوشحالي خبر وو، نو د الله ﷻ د شکر لپاره به په سجده پریوت.

۱۲۴- څوک چي په خپل بدن کي درد محسوس کړي څه به کوي

۲٤٣- «ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذي تَأَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ، وَقُلْ: بِاسْمِ اللَّهِ، ثَلاثًا، وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ: أَعُوذُ بِاللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ»[1].

۞ خپل لاس د خپل بدن پر دردمن ځای کښېږده* او درې ځلي به «بسم الله» ووایې، او اوه ځلي به داسي ووایې: زه په الله سره او د هغه په قدرت سره پناه غواړم د هغه څه له شر نه چي ما ته

---

(۱) مسلم ۱۷۲۸/۴

رسيدلى دى، او زه ځني ويريږم*.

۱۲۵- په څه شي د نظر كيدو نه د ويري دعا

۲٤٤- «إِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مِنْ أَخِيهِ، أَوْ مِنْ نَفْسِهِ، أَوْ مِنْ مَالِهِ مَا يُعْجِبُهُ، [فَلْيَدْعُ لَهُ بِالْبَرَكَةِ]؛ فَإِنَّ الْعَيْنَ حَقٌّ»[۱].

۞ كله له تاسو نه څوک له خپل ورور، او ياپه خپل ځان كي، او يا خپل مال كي داسي څه وګوري چي له هغه نه تعجب وكړي، نو د هغه لپاره دي د بركت دعا وكړي، ځكه نظر كيدل* حق

---

(۱) مسند احمد ۴۴۷/۴، ابن ماجه، مالک، او الباني په صحيح الجامع ۲۱۲/۱ كي هغه صحيح بللى دى، زاد المعاد ۱۷۰/۴ د ارناؤوط تحقيق دي وكتل شي.

دي[1] .

۱۳٦- د ویري په حالت کي دعا

۲٤٥- «لا إلهَ إلا اللهُ»[2] .

۞ بیله الله نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته.

۱۳۷- د قرباني حلالولو* په وخت کي څه ویل پکار دي

۲٤٦- «بِسْمِ اللّهِ اللّهُ أَكْبَرُ، [اللّهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ]، اللّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّي»[3] .

۞ د الله په نوم (حلالول کوم)، الله ډیر لوی

---

(۱) یعني: نظر کیدل، یا نظر لګیدل حق دی.(ژباړن)

(۲) بخاري (فتح الباري ۱۸۱/٦)، مسلم ۲۲۰۸/۴

(۳) مسلم ۱۵۵۷/۳، بیهقي ۲۸۷/۹، او د مربع قوسونو په مینځ کي عبارت د بیهقي ۲۸۷/۹ او نورو دی، او اخیرنی جمله مي په معنی سره د مسلم له روایت نه ذکر کړه.

دی، الهي! دا (قرباني) ستا له طرف نه ده، او ستا
لپاره يې حلالوم، الهي! ته يې را څخه قبوله کړې.

۱۳۸- هغه څه چې د سرکښه* شيطانانو د مکر او چل دفع کولو لپاره ويل کيږي

۲٤٧- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لاَ يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلاَ فَاجِرٌ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَبَرَأَ وَذَرَأَ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنْ السَّمَاءِ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَعْرُجُ فِيهَا، وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَأَ فِي الأَرْضِ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا، وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَمِنْ شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ إِلاَّ طَارِقاً يَطْرُقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمَنُ»[1].

---

(۱) احمد ۴۱۹/۳ په صحيح اسناد سره، ابن السني ٦٣٧ نمبر حديث کې روايت کړيدی، او ارناؤوط د العقيدة الطحاوية په تخريج ص۱۳۳ کې د هغه اسناد صحيح بللی دی، او مجمع

۞ د الله په هغه بشپړ* کلام سره پناه غواړم چي هيڅ نيک او بد سړی له هغه نه زياتوب نشي کولای، د هغه څه له شر نه چي الله پيدا کړي، او خواره* کړيدي، او د هغه څه له شر نه چي له آسمان نه نازلېږي، او د هغه څه له شر نه چي آسمان ته خيژي، او د هغه څه له شر نه چي په ځمکه کي بې خواره کړيدي، او د هغه څه له شر نه چي له هغې نه راوځي، او د شپې او ورځي له فتنو نه، او د هغه څه له شر نه چي د شپې راتلونکی وي، نه هغه راتلونکی په شپه کي چي خير ور سره وي، ای مهربان ذاته.

= ______________________

الزوائد ۱۰/۱۲۷ دي وکتل شي.

۱۳۹- استغفار او توبه

۲٤۸-۱- قال رَسُولَ اللّٰه ﷺ: «وَاللّٰه إِنِّي لأَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً»[۱].

۞ پیغمبر ﷺ فرمايي: په الله سره قسم چي زه په ورځ كي له اويا ځلو نه زيات له الله نه بخښنه غوارم، او هغه ته توبه باسم.

۲٤۹-۲- وقال ﷺ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللّٰهِ، فَإِنِّي أَتُوبُ فِي الْيَوْمِ إِلَيْه مائةَ مَرَّةٍ»[۲].

۞ او فرمايي: اى خلكو! الله ته توبه وباسى،

---

(۱) بخاري (فتح الباري ۱۱/۱۰۱).

(۲) مسلم ۴/۲۰۷٦.

او زه په ورځ کي سل ځلي الله ته توبه باسم.

۲۵۰-۳- وقال ﷺ: «مَنْ قَالَ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِيمَ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاّ هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْه، غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ وَإِنْ كَانَ فَرَّ مِنْ الزَّحْف»[۱].

۞ او ﷺ فرمايي: څوک چي (دا دعا) ووايي: له هغه لوی او عظمت والا الله نه بخښنه غواړم، چي بيله هغه نه بل د عبادت وړ* معبود* نشته، ژوندی دی، (د کائناتو) تدبير کونکی دی، او زه هغه ته توبه باسم، (چي دا دعا ووايي) نو الله به هغه

---

(۱) ابو داود ۸۵/۲، ترمذي ۵۶۹/۵، حاکم ۵۱۱/۱ هغه صحيح کړی، او ذهبي موافقه ورسره کړيده، او الباني هم هغه صحيح بللی دی، صحيح الترمذي ۱۸۲/۳، جامع الاصول لاحاديث الرسول ﷺ ۳۸۹/۴-۳۹۰ د ارناؤوط تحقيق.

ته بخښنه وکړي، که څه هم له کفارو سره د جهاد له میدان نه تښتیدلی وي[1].

۲۵۱-٤- وقال ﷺ: «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الرَّبُّ مِنْ الْعَبْدِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ الآخِرِ، فَإِنْ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللَّهَ فِي تِلْكَ السَّاعَةِ فَكُنْ»[2].

۞ او فرمایي: پروردګار له هر وخت نه زیات د شپې په آخره حصه کې خپل بنده ته نژدې وي، نو که وکولای شې چې پدغه وخت کې له ذکر کونکو نه شې، نو همداسې شه.

۲۵۲-٥- وقال ﷺ: «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ

---

(۱) او دا تیښته لویه ګناه شمیرل کیږي.(ژباړن)

(۲) ترمذي، نسائي ۲۷۹/۱، حاکم، صحیح الترمذي ۱۸۳/۳، جامع الاصول ۱۴۴/۴ د ارنؤوط تحقیق.

مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ»[1].

۞ او فرمايي: بنده له هر حالت نه زيات هله* خپل پروردګار ته نژدې وي چې په سجده وي، نو (په سجده کې) زياته دعا وکړی.

٢٥٣-٦- وقال ﷺ: «إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي، وَإِنِّي لأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ»[2].

---

(١) مسلم ١/٣٥٠.

(٢) مسلم ٤/٢٠٧٥، ابن الاثير وايي: «ليغان على قلبي» معنى داده: زما زړه باندي څه پرده راشي، او له هغه نه مراد سهو او توجه اوښتل دي، څکه پيغمبر ﷺ به هميشه په زياته توګه سره ذکر وايه، او (الله) ته به يې ځان نژدې کاوه، او دوامداره مراقبت به يې کاوه، او چې کله به يې په بعضي وختونو کي توجه لدې نه واوښته، او يا به يې هيره شوه، نو دا به يې د ځان لپاره ګناه بلل، نو څکه خو به يې استغفار ته رجوع کوله.
جامع الاصول ٤/٣٨٦ دي وکتل شي.

۞ او فرمايي: زما په زړه پرده غوندي راشي (كله كله د الله له ذكر نه مشغول شي) او زه له الله نه په ورځ كي سل ځلي بخښنه غواړم.

١٣٠- د «سبحان الله»، او «الحمد لله»، او «لا اله الا الله»، او «الله اكبر» فضيلت

٢٥٤-١- قال ﷺ: «مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللَّه وَبحَمْده، فِي يَوْمٍ مائَةَ مَرَّةٍ، حُطَّتْ خَطَايَاهُ، وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ»[١].

۞ پيغمبر ﷺ فرمايي: څوک چي په ورځ كي

---

(١) بخاري ١٦٨/٧، مسلم ٢٠٧١/٤، او په سهار او ماښام كي يي د سلو ځلو لوستلو فضيلت دي په همدي كتاب كي د(٩١) نمبر حديث په حاشيه كي وكتل شي.

سل ځلي «سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ[1]» ووايي، ګناهونه به يې توی* شي، که څه هم د سمندر* د ځګ* په اندازه وي.

٢٥٥-٢- وقال ﷺ: «مَنْ قَالَ: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، عَشْرَ مرار، كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ أَرْبَعَ أَنْفُسٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ»[2].

۞ او فرمايي: څوک چې «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى

---

(١) ترجمه يې مخکې په (٩١) نمبر حديث کې شويده.(ژباړن)

(٢) بخاري ٦٧/٧، مسلم بلفظه ٢٠٧١/٤، او د هغه په ورځ کې د سلو ځلو ويلو فضيلت دي په همدي کتاب کې د (٩٣) نمبر حديث په حاشيه کې وکتل شي.

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ[1]» لس ځلي ووايي، د هغه چا په شان به وي چې د اسماعيل عليه السلام له اولادې نه يې څلور مريونه* آزاد کړي وي.

۲۵۶–۳– وقال ﷺ: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ»[2].

۞ او فرمايي: دوه کلمې دي چې پر ژبه سپکي، په تله* کې درنې، مهربان (خدای) ته محبوبي دي (هغه دادي): «سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ[3]».

---

(۱) ترجمه يې مخکې شويده.(ژباړن)
(۲) بخاري ۱٦۸/۷، مسلم ۲۰۷۲/۴.
(۳) ترجمه يې مخکې شويده.(ژباړن)

٢٥٧-٤- وقال ﷺ: «لأَنْ أَقُولَ سُبْحَانَ اللَّه، وَالْحَمْدُ للَّه، وَلاَ إِلَهَ إلاّ اللّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ، أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْه الشَّمْسُ»[1].

۞ او فرمايي: د «سُبْحَانَ اللَّه، وَالْحَمْدُ للَّه، وَلاَ إِلَهَ إلاّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ[2]» ويل ما ته له هغه څه نه ډير غوره دي چي لمر پرې راختلى دى[3].

٢٥٨-٥- وقال ﷺ: «أَيَعْجزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَكْسبَ كُلَّ يَوْم أَلْفَ حَسَنَة؟» فَسَأَلَهُ سَائِلٌ منْ جُلَسَائه: يَا نَبيَّ اللَّه كَيْفَ يَكْسبُ أَحَدُنَا أَلْفَ حَسَنَةٍ؟

---

(١) مسلم ٢٠٧٢/٤.

(٢) ترجمه يې مخکي شويده.(ژباړن)

(٣) يعني: ددې کلماتو ويل له ټولو مخلوقاتو نه ما ته غوره دي.(ژباړن)

قَالَ: «يُسَبِّحُ مائَةَ تَسْبِيحَة، فَيُكْتَبُ لَهُ أَلْفُ حَسَنَةٍ، أَوْ يُحَطُّ عَنْهُ أَلْفُ خَطِيئَة»[1].

۞ او ﷺ فرمايي: آيا له تاسو نه يو څوک نشي کولای چي هره ورځ زر نيکۍ لاس ته راوړي، نو له ناستو کسانو نه يو کس ورځخه پوښتنه وکړه چي څنګه يو کس له موږ ځخه کولای شي زر نيکۍ لاس ته راوړي؟ (پيغمبر ﷺ) وفرمايل: سل ځلي دي «سبحان الله» ووايي، نو هغه لره به زر نيکۍ وليکل شي، او يا به يې زر ګناهونه ورژيړي*.

٢٥٩-٦- «مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ،

---

(١) مسلم ٢٠٧٣/٤.

وَبِحَمْدِه، غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّة»[1].

۞ (او فرمايي) څوک چي «سُبْحَانَ اللَّه الْعَظِيمِ، وَبِحَمْدِه[2]» ووايي، هغه لره به يوه د خرما* ونه په جنت کي وکرل شي*.

٢٦٠-٧- وقال ﷺ: «يَا عَبْدَ اللَّه بْنَ قَيْسٍ، أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّة؟» فَقُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّه، قَالَ: «قُلْ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّه»[3].

۞ او ﷺ فرمايي: اې عبد الله بن قيسه! آيا تا ته د جنت د خزانو نه يوه خزانه ونه ښايم؟ نو ما

---

(١) ترمذي ٥/٥١١، حاکم ١/٥٠١ هغه صحيح بللی، او ذهبي ورسره موافقه کړيده، صحيح الجامع ٥/٥٣١، صحيح الترمذي ٣/١٦٠.

(٢) ترجمه يې مخکي شويده.(ژباړن)

(٣) بخاري (فتح الباري ١١/٢١٣)، مسلم ٤/٢٠٧٦.

وویل: ولي نه، اې د الله پیمغبره! (پیغمبر ﷺ) وفرمایل: ووایه: هیڅ طاقت او قوت نشته (د ګناه نه د ساتلو* او د نیکیو د کولو) مګر په (توفیق) د لوی الله جل جلاله سره.

۲٦۱-۸- وقال ﷺ: «أَحَبُّ الْكَلاَمِ إِلَى اللّه أَرْبَعٌ: سُبْحَانَ اللّه، وَالْحَمْدُ للّه، وَلاَ إِلَهَ إِلاّ اللّهُ وَاللّهُ أَكْبَرُ، لاَ يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ»[۱].

۞ او فرمایي: الله ته له ټولو نه زيات خوښ کلمات څلور دي: «سُبْحَانَ اللّه، وَالْحَمْدُ للّه، وَلاَ إِلَهَ إِلاّ اللّهُ وَاللّهُ أَكْبَرُ[۲]»، چي په کومه دې شروع

(۱) مسلم ۳/۱٦۸۵.

(۲) ترجمه یې مخکي شویده.(ژباړن)

وكړه تاته پكښي څه نقصان نشته.

٢٦٢-٩- جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَقَالَ: عَلِّمْنِي كَلاَماً أَقُولُهُ، قَالَ: «قُلْ: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيراً، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيراً، سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ» قَالَ: فَهَؤُلاَءِ لِرَبِّي فَمَا لِي؟ قَالَ: «قُلْ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي»[١].

۞ يو صحرايي* پيغمبر ﷺ ته راغی او ويې ويل: ما ته داسي خبره وښايه چي زه يې ووايم،

---

(١) مسلم ٤/٢٠٧٢، او ابو داود زيات كړيدی: كله چي صحرايي سړی روان شو، پيغمبر ﷺ وفرمايل: په رښتيا سره يې خپل لاسونه له خير نه ډک كړل. ١/٢٢٠.

(پیغمبر ﷺ) وفرمایل: وو ایه: «لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، اللّهُ أَكْبَرُ كَبِيراً، وَالْحَمْدُ للّه كَثِيراً، سُبْحَانَ اللّه رَبِّ الْعَالَمِينَ، لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاّ باللّه الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ[۱]»، (سړي) وويل: دا خو زما د پروردګار لپاره دي، زما لپاره څه دي؟ (پیغمبر ﷺ) وفرمایل: وو ایه: الهي! ما ته بخښنه وکړې، او پر ما رحم وکړې، او ما ته هدایت وکړې، او روزي را ته راکړې.

۲۶۳-۱۰- كَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ عَلَّمَهُ النَّبِيُّ ﷺ الصَّلاَةَ، ثُمَّ أَمَرَهُ أَنْ يَدْعُوَ بِهَؤُلاَءِ الْكَلِمَاتِ،

---

(۱) د نورو اذکارو ترجمه مخکي په مختلفو ځایونو کي شویده.(ژباړن)

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي»[1].

۞ کله چي به یو سړی مسلمان شو، نو پیغمبر ﷺ به لمونځ* ور زده کاوه، او بیا به یې ددې کلماتو په ویلو امر ورته کاوه: الهي! ما ته بخښنه وکړې، او پر ما رحم وکړې، او ما ته هدایت وکړې، او ما ته عافیت راکړې، او روزي را ته راکړې.

۲٦٤-۱۱- «إِنَّ أَفْضَلَ الدُّعَاءِ: الْحَمْدُ لِلَّه، وَأَفْضَلُ الذِّكْرِ: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ»[2]

---

(۱) مسلم ۲۰۷۳/۴، او په بل روایت کي یې داسي راغلي دي: دا کلمات ستا لپاره د دنیا او آخرت خیرونه را ټولوي.

(۲) ترمذي ٤٦٢/٥، ابن ماجه ۱۲۴۹/۲، حاکم ۵۰۳/۱ هغه

۞ (او فرمايي) په رښتيا سره چي بهترينه دعا «الحمد لله» ده، او بهترين ذکر «لا إله إلا الله» دى.

٢٦٥-١٢- «الْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ: سُبْحَانَ اللَّه، وَالْحَمْدُ للَّه، وَلا إِلَهَ إِلاّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ، ولاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاّ بِاللَّه»[١].

= صحيح بللى، او ذهبي ورسره موافقه کړيده، صحيح الجامع ٣٦٢/١

(١) احمد ٥١٣ نمبر حديث کي د احمد شاکر په ترتيب سره روايت کړيدى، او اسناد يې صحيح دى، مجمع الزوائد ٢٩٧/١ دي وکتل شي، او ابن حجر په بلوغ المرام کي هغه د ابو سعيد له روايت نه و نسائي ته نسبت کړيدى، او ويلي يي دي: هغه ابن حبان، او حاکم صحيح بللى دى.

۞ (او فرمايي) نيکي، او (له انسان نه ورسته) پاتې کيدونکي (کلمات دادي): «سُبْحَانَ اللَّه، وَالْحَمْدُ للَّه، وَلا إِلَهَ إلاّ اللّهُ وَاللّهُ أَكْبَرُ، ولاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إلاّ باللّه[1]».

۱۳۱- د پيغمبر ﷺ د تسبيح ويلو طريقه

۲۶۶- عَنْ عَبْدِ اللَّه بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّه ﷺ يَعْقدُ التَّسْبِيحَ بِيَمِينه[2].

۞ له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دى: چي ما پيغمبر ﷺ وليد چي په ښي* لاس سره يې تسبيحات (اذکار) ويل.

---

(۱) ددې کلماتو ترجمه مخکې شويده.(ژباړن)

(۲) ابو داود بلفظه ۸۱/۲، ترمذي ۵۲۱/۵، صحيح الجامع ۲۷۱/۴، ۴۸۶۵ نمبر حديث

۱۳۲- د نبکیو او عامو آدابو څخه

۲٦٧- «إِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ -أَوْ أَمْسَيْتُمْ- فَكُفُّوا صِبْيَانَكُمْ؛ فَإِنَّ الشَّيَاطِينَ تَنْتَشِرُ حِينَئِذٍ، فَإِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنْ اللَّيْلِ فَخَلُّوهُمْ، وَأَغْلِقُوا الأَبْوَابَ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّه؛ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لاَ يَفْتَحُ بَاباً مُغْلَقاً، وَأَوْكُوا قِرَبَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّه، وَخَمِّرُوا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّه، وَلَوْ أَنْ تَعْرُضُوا عَلَيْهَا شَيْئاً، وَأَطْفِئُوا مَصَابِيحَكُمْ»[۱].

۞ (پیغمبر ﷺ فرمایي) کله چي شپه تیاره شي، یا شپه در باندي راشي، نو خپل ماشومان (کور څخه وتلو نه) بند کړی، ځکه چي شیطانان پدې وخت

(۱) بخاري (فتح الباري ۱۰/۸۸)، مسلم ۳/۱۵۹۵.

کي خوريږي*، کله چې د شپې نه يو ساعت تير
شي، نو بيا يې خوشي کړی. او دروازې* مو بندې
کړی، او د الله نوم (په هغه) ياد کړی، ځکه چې
شيطانان تړلې او بنده دروازه نشي پرانستلای*. او د
خپل ژيانو* سرونه پټ کړی، او د الله نوم (په هغه)
ياد کړی، او خپل لوښي پټ کړی، او د الله نوم
(په هغه) ياد کړی، که څه هم له پاسه پرې څه
کښېږدي، او خپل څراغونه* مړه کړی.

وصلى الله وسلم وبارك على نبينا محمد وعلى
آله وأصحابه أجمعين.

په کتاب کې د یاګانو رسم الخط

د (یا ء) رسم الخط	مثال
(ي)	ځي، بچي
(ې)	سړې اوبه، مزې
(ی)	سړی، تندی
(ۍ)	هګۍ، څپلۍ

ورته رسم الخطونه

د کتاب رسم الخط	ورته رسم الخط
(ټ)	(ٹ)
(ډ)	(ڈ)
(ړ)	(ڑ)
(ی)	(ے) لکه: (سړے، تندے)
(ي)	(ی) لکه: (ځی، بچی)

د لهجې د اختلاف په صورت کې د یو معنا لرونکو کلماتو لست

کلمه	ورته معنا یا لهجه
ارخ	ډډه
احاطه	په بر کې نیونه، چاپېروالی
استسقاء	باران اوریدل غوښتل
افاده کول	وړکول، ادا کول
امېد	طمع
انجام	عاقبت، نتیجه
اندیښنې	سوچونه، فکرونه، تشویشونه
اوبه کول	اوبه څښول، اوبه ورکول، خړوبي کول
اوچت	لوړ
اوښان	اوښي، اوښونه
آواز	غږ، ږغ
آینده	مستقبل، راتلونکې زمانه

کلمه	ورته معنا یا لهجه
با برکته	برکت والا، برکتناک
بار	پيتی
بارخو	رخسار، اننگی
بادونه	سیلی
بخښنه	بښنه، عفو
بخښنه	بښنه، عفو
بُخل	کنجوسي
بدشگومي	بد فالي، بد مرغي، کرکه کول
برابر	سم، سیده، اصلاح، جوړ
برَخمن	لرونکي
بریالي	کامیابه، برلاسي
بشپړ	کامل، پوره
بشپړوالی	تکمیل، پوره والی
بُطحان	د یو ځای نوم دی
بلنه	دعوت، غوښتنه

ورته معنا یا لهجه	کلمه
د اوښ ګوپ	بوک
ګوپونه، ګوپان	بوکونه
واپس کیدل	بیرته راتلل
واپس کیدل	بیرته کیدل
بزدلي، ډار، ویره	بې زړه توب
مستغني، احتیاج نلرونکي، بې پروا	بې نیازه
جلا، جدا	بیل
بغیر، پرته	بیله
تنګدستي، فقر	بې وزلتوب
ولاړ شو	پاڅیده
ولاړ شي	پاڅیږي
پرې	پر
بیرته کول، خلاصول	پرانستل
د خوب د جوتو وهلو حالت، د خوب د آثارو ښکاره کیدلو حالت	پرکالي

کلمه	ورته معنا یا لهجه
پرې کیدونکي	قطع کیدونکي
پرېشاني	اندیښني، سوچونه
پسرلی	سپرلی، بهار
پښه	ښــــپه
پښې	ښــــپې
پښیمانه	ښــــپیمانه
پلو کې	ووجو کې
په بر کې نیول	په څنګ کې نیول، په یو شي باندې چاپېره کیدل
پوست	پوټکی، څرمن
پوښتنه	تپوس، سوال
ټاکلی	معین، معلومدار
تالنده	د آسمان ګرزا، غرنده، تندر
تدبُر او تفکُر	فکر کول، سوچ کول، غور کول
تدبیرونکي	انتظام کونکي، تنظیمونکي

کلمه	ورته معنا یا لهجه
ترچیدل	پرنجي کول، ترَچَل، پرچیدل، پرنجیدل
تزکیه	بي عیبه کېدل، د ښو اخلاقو خاوند کېدل
تسلیم	تابعدار، فرمانبردار
تضرُع	زاري، عاجزي
تعزیه	د مړي خپلوانو ته تسلي ورکول او مړي ته دوعا کول
تندی	وچولی
تنبلي	سستي، کسالت
تَل	همیشه
تَله	ترازو
توپیر	فرق
توښه	ذخیره
توګه	ډول، شکل
توکل	اعتماد، تکیه
توی شي	ورژیږي

ورته معنا یا لهجه	کلمه
اجر	ثواب
ساحر، کوډګر	جادوګر
کالي	جامه
پوره کول، نقصان ليري کول	جبيره
هغه وړې تيګې چې شيطان په ويشتل کيږي	جمرې
ځواب	جواب
ګڅ، کيڼ	چپ
بانګي	چرګ
ځلکدن، ځنکدن، د سا وتلو حالت	ځکندن
واري	ځلې
زمکه	ځمکه
ويده کيدل، پريوتل	ځملاستل
ذبح کول، قرباني کول، حلاله کول	حلالول
عام کول، نشرَوَل	خپَرَوَل
نشرول، تيتول، عام کول	خپَرَوَل

ورته معنا یا لهجه	کلمه
خوځنده، حشره	خزنده
خپور، خپاره	خواره
څناور	څاروي
ډیوې، چراغونه	څراغونه
بیانوول، ښکاره کول	څرګندونه
خاوند	څښتن
قطره	څک
برسیره، کولاوي، بیرته	خلاصې
خلق	خلګ
د خوراک شیان، طعام	خواړه
چتلي، چرک	خیري
په منډه تلل، منډه وهل	دانګل
تخم	دانه
رتبې، درجات	دَرَجې
ورونه	دروازې

کلمه	ورته معنا یا لهجه
دوزخ	دوږخ، جهنم
راوستلي دی	مینځ ته راوړی دی
رب	پروردګار
رَپْ	د سترګي یو ځل بندولو په اندازه وخت
رد کیږي	واپس کیږي، نه منل کیږي
رښتوني کړه	په ځای کړه
رڼا	نور
روزي	رزق
روژه دار	روژه نیونکي
روژه نیونکي	روژه دار
روښانه کړي	رڼایي پکښي کي واچوي، نوراني کړي
زما	ځما
زیاتي	ظلم، تیری
زیان	تاوان، نقصان
زنه	زونه، زری

ورته معنا یا لهجه	کلمه
ترجمه کول	ژباړل
مترجم، ترجمه کونکي	ژباړن
بچ کول، ساتل	ژغورل
د اوبو مشکونه، مفرد: ژی	ژیان
بچ کول، حفاظت کول	ساتل
پاکوالي	سپیڅلتیا
حمد او ثنا، صفت، تعریف	ستاینه
ثنا وصفت ویونکي، تعریف کونکي	ستایونکي
سرکش، بیلاري	سرکښه
ښایسته، مجهز	سمبال
درياب، بحر	سمندر
سحر، صبا، صبائي	سهار
د سپریدولو حیوان لکه: آس، خر او نور	سورلۍ
سمه، برابره	سیده
سایه	سیوری

ورته معنا یا لهجه	کلمه
ګواهي، شهادت	شاهدي
چار چاپیر	شاوخوا
مشرق، لمر ختلو طرف	شرق
دفن کول، خښول	ښخول
سفارش	شفاعت
کنځل، کنځا، رد بد	ښکنځل
کوچنی کاڼی یا تیګه	شګه
ښوونه، رهنمایي	ښودنه
راسته	ښي
پې، شیدې	شودې
څیز	شي
څیزونه	شیان
بانډیچي، صحرا نشین، دصحرا اوسیدونکی	صحرایي
هغه ځای چې فقیر او ناداره صحابه پکښې کښیناستل	صُفه

ورته معنا یا لهجه	کلمه
بیځایه کول، باطلول	ضایع کول
زیاتي	ظلم
پر ځای، منصفانه	عادلانه
روغتیا	عافیت
انجام، نتیجه	عاقبت
سزا، جزا	عذاب
د یو ځای نوم دی	عقیق
مریاني	غاړي
مغرب، لمر لویدلو طرف	غرب
غصه، قهر	غضب
ښه، بهتر	غوره
یو ځای	غونډ
د مخلوقاتو له علم نه پټ شیان	غیبیات
ملائکه، ملکه، فرشته	فرښته
دین، لاره	فطرت

کلمه	ورته معنا یا لهجه
فکر	سوچ
قادر	توانا
قرباني	پسه یا بل حلال حیوان حلالول
کړو	اعمالو
کائنات	مخلوقات
کښته	ښکته
کښېږدي	کېږدي، کیدي، راولي
کفاره	د ګناه بدله، بدله، ګناه ورکونکې
ګاڼه	زیور
ګرځندویه	سیاحت کونکي، ګرځېدونکي
ګړندی	چابک، چټک، تېز
ګمراه	بې لاري
کوروالي کول	همبستری، جماع کول، یوځای کیدل
لاره	لیاره
لانده	لامده

ورته معنا یا لهجه	کلمه
لټوالي، بيکاري	لټي
له طرف نه	لخوا
لنده، تَرَه	لمده
مونځ	لمونځ
له ما نه بچ کړې او ليرې کړې	له ما نه وګرځوې
اوچت	لوړ
اوچتوي	لوړَوي
ما ته	ما لره
بيګاه	ماښام
مازغه	ماغزه
اوښتونکي، ميلان کونکي، خوښونکي	مايل
مانند	مِثلِ
خصومت کول، جنګ کول	مجادله
ميلاويدل	مخامخ کيدل
مخکي تلونکي، پيش روی	مخکښ

ورته معنا یا لهجه	کلمه
د مړ حیوان لاش	مرداری
مړه کیږو	مړُو
غلام	مریی
بي پروا، بي نیازه	مُستغني
جومات	مسجد
مسح کول، په یو شي لاس تیرول، لاس راکاږل	مسه کول
شرق او غرب، ختیځ او لویدیځ	مشرق او مغرب
خدای، هغه څوک چي نور يې عبادت کوي	معبود
په خپل کور او وطن کي، هغه څوک چي مسافر نه وي	مقیم
ملګری	مل
فرشته، ملَکه	ملائکه
ځغاسته	منډه
مه مأخوذه کوه	مه نیسه
تابعداره کونکي، کنترولونکي	مهارورنکي

کلمه	ورته معنا یا لهجه
مؤذن	بانګي، آذان کونکي
مینځه	وینزه، کنیزه
ناڅاپه	نابُبره، ناګهانه
ناڅیزه	لږه
ناوړه	بد، خراب
نظر کیدل	د چا د کتلو په وجه بد اثر لویدل
نغښتي	پراته، موجود
ننوَتل	داخلیدل
ننوَتو	داخل شولو
نو	پس
نومړی	مذکور
نومَوَلی دی	ایښودلی دی، بللي دی
نیکان	صالحان، نیک عملان
نیکي	ښیګړه
نېټه	تاریخ، وخت

ورته معنا یا لهجه	کلمه
لاربنوونه، رهنمایي	هدایت
خامخا، ضرور، حتماً	هرومرو
هغه وخت	هَله
دائم	همیشني
هنار، د خره آواز او رمباړه	هنګار
مستحق، لائق	وړ
اهل وعیال، بچیان	واړه
وغورځوي	واچوي
ددوو لاسونو د ګوتو تر مینځ مسافي ته ویل کیږي، چې کله دواړه د یو مستقیم خط په شکل سره خلاص شي، او په عربي ورته «باع» وایي، او (۱٦۲) سانتي متر اوږدوالی لري.	وازه
وبښه، عفو کړه	وبخښه
وڅکي	وڅښي
وخاته، پورته شو	وخوت

وړته معنا يا لهجه	کلمه
توی شي، محو شي	ورژیږي
د لاس تلي	وُرغوي
روستو	ورروسته
حواله کړو	وسپاره
دعوت شي	وغوښتل شي
شنه کړل شي، ونالَول شي، نال کړې شي، کینښودل شي	وَکَرَل شي
پاڅیدلی	ولاړ
لاړه، ختمه شوه، لیرې شوه	ولاړه
روایه	ولوست
خارج شولو، بیرون شولو	وَوَتو
ډار، خطره، یَره، بیره	ویره
بیریږي، یریږي، ډاریږي	ویریږي
وریښتان	ویښته
تنها، یواځې	یوازې

د موضوعاتو فهرست

حصن المسلم

من أذكار الكتاب والسنة

بلغة «البشتو»

تأليف

الفقير إلى الله تعالى

د/ سعيد بن علي بن وهف القحطاني

ترجمه

عبد النافع زلال